# د حزقيال نبي کتاب

## د حزقيال لومړۍ رويا

۱ ۱ د دېرشم کال د څلورمې مياشتې په پنځمه ورځ زه حزقيال کاهن د بوزي زوی د
جلاوطنه يهوديانو سره د خابور د سيند په غاړه اوسېدم. ناڅاپه اسمان خلاص شو او ما د خدای
روياګانې وليدلې. ۲ دا پنځم کال ؤ چې د يهودا پاچا يهوياکين د اسير په توګه بابل ته بېول شوی
ؤ. ۳ هلته په بابل کې د خابور د سيند په غاړه ما واورېدل چې څښتن زما سره خبرې کوي او د
هغه د حضور زور مې په خپل بدن کې احساس کړ.

۴ ما پورته وکتل او ومې ليدل چې د شمال له خوا يو توفان راروان دی. د هغه په مخکې يوه
لويه وريځ روانه وه، بربښنا پړکېدله او د هغې شاوخوا ته اسمان ځلېده. د بربښنا په منځ کې د برنجو
په شان يو شی ځلېده. ۵ د توفان په منځ کې ما د انسان په شان څلور ژوندي مخلوقات وليدل،
۶ خو هغوی هر يو څلور مخونه او څلور وزرونه لرل. ۷ د هغوی پښې نېغې وې او د
خوسي په شان سومان يې لرل. هغه لکه د صيقل شوي برنجو په شان ځلېدل. ۸ برسېره پردې
چې هغوی څلور مخونه او څلور وزرونه لرل، هغوی د هر وزر لاندې لاسونه هم لرل چې د انسان
د لاسونو په شان وو. ۹ د هغو ژونديو مخلوقاتو وزرونه يو له بله سره لګېدل او بې له دې چې
راتاو شي هغوی به مخامخ تلل.

۱۰ د هر يو ژوندي مخلوق څلورو مخونو فرق درلود: مخامخ يې د انسان مخ ؤ، ښي خواته يې د
زمري مخ ؤ، چپ خواته يې د غويي مخ ؤ او شاته يې د عقاب مخ ؤ. ۱۱ د هر ژوندي مخلوق
دوه وزرونه پورته خواته خپاره وو او د هغوی د وزرونو څوکې د هغه بل مخلوق سره لګېدلې چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خوا کې يې ؤ. دوه نورو وزرونو يې د هغوی بدنونه پټول. ۱۲ هغوی به مخامخ روان وو او بې
له دې چې راتاو شي چېرته به يې چې زړه غوښتل، هلته به تلل.

۱۳ د ژوندي مخلوقاتو شکل د بلو سکارو يا بلېدونکو څراغونو په شان ؤ او اور د دوی په منځ
کې د حرکت په حال کې ؤ. هغه اور ځلېدونکی ؤ او برېښنا به ورڅخه پرکېدله. ۱۴ دا مخلوقات
به د برېښنا په شان چټک تلل او راتلل.

۱۵ په داسې حال کې چې ما دې څلورو مخلوقاتو ته کتل، نو څلور ارابې مې وليدلې چې په
ځمکه باندې لګېدلې او د هغوی هر يو په خوا کې يوه يوه ارابه وه. ۱۶ څلور واړه ارابې يوشان
وې، هره يوه يې لکه د يوې قيمتي تيږې په شان ځلېدله او د هرې ارابې په منځ کې يوه بله ارابه هم
وه، ۱۷ ترڅو دا ارابې بې له تاوېدلو وکولای شي د څلورو خواو نه هرې خواته چې وغواړي
حرکت وکړي. ۱۸ د ارابو څنډې لوړې او وېروونکې وې او ګردچاپېره په سترګو باندې پوښل
شوې وې. ۱۹ کله به چې دې مخلوقاتو حرکت کاوه، نو ارابې به هم ورسره تللې او کله به چې دا
مخلوقات د ځمکې څخه راپورته شول، نو ارابې به هم ورسره راپورته کېدلې. ۲۰ هرچېرته به
چې دې مخلوقاتو غوښتل هلته به تلل، نو ارابې به هم ورسره پورته کېدلې، ځکه چې دا ارابې د
مخلوقاتو په واک کې وې. ۲۱ کله به چې هغه مخلوقات تلل، نو ارابې به هم تللې او کله به چې
هغه مخلوقات ودرېدل، نو ارابې به هم ودرېدلې. کله به چې هغه مخلوقات پورته تلل، نو ارابې به
هم ورسره پورته کېدلې، ځکه چې دا ارابې د مخلوقاتو په واک کې وې.

۲۲ د دې ژونديو مخلوقاتو د سرونو دپاسه د ميدان په شان يو ځای ؤ. دغه ځای د وېروونکي او
ځلېدونکي يخ په شکل ؤ. ۲۳ د دې ځای لاندې د هر يو ژوندي مخلوق دوه وزرونه داسې خپاره
شوي وو چې د هغه بل مخلوق وزرونو ته چې په څنګ کې يې ؤ، رسېدل او دوه نورو وزرونو د
هغوی بدنونه پټول. ۲۴ ما هغه شورماشور چې د هغوی وزرونو د الوتلو په وخت کې جوړ کړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤ، واورېد چې د سيند د تېزو اوبو د غړمبېدلو په شان ؤ او د مطلق قادر خدای د اواز او د يو لوی
لښکر د شورماشور په شان ؤ. کله به چې هغوی نه الوتل، نو خپل وزرونه به يې راټولول. ۲۵ اواز
د هغه ميدان د پاس نه راتله چې د دوی د سر دپاسه ؤ.

۲۶ د ميدان دپاسه يو شی ؤ چې د داسې تخت په شان ؤ چې د لاجوردو څخه جوړ شوی ؤ او
په تخت باندې يو داسې شکل ؤ چې د انسان په شان ښکاره کېده. ۲۷ د ملا څخه پورته هغه
داسې ځلېده لکه په سور داش کې چې برنج ځلېږي او د ملا نه ښکته لکه د اور د لمبو په شان
ښکاره کېده. د دې شکل شاوخوا يوې ځلېدونکې رڼا نيولې وه، ۲۸ لکه د بوډۍ د ټال په شان
چې په يوې بارانې ورځ کې وي. دا يوه ځلېدونکې رڼا وه او دا د څښتن د جلال د حضور
څرګندوونکې وه.

کله چې ما دا رويا وليدله، نو په ځمکه باندې پړمخې پرېوتلم. بيا مې يو اواز واورېد.

## د نبي په توګه د حزقيال ټاکنه

۲ ۱ هغه ماته ووېل: «ای فاني انسانه، پاڅېږه او په خپلو پښو ودرېږه. زه غواړم ستا سره
خبرې وکړم.» ۲ کله چې هغه زما سره خبرې کولې، نو د خدای روح په ما باندې نازل شو او زه
يې په پښو ودرولم او ما د هغه خبرې واورېدلې چې داسې يې ماته ووېل: ۳ «ای فاني انسانه، زه
تا د اسراييلو قوم ته لېږم، يعنې هغه سرکښه قوم ته چې زما په وړاندې يې سرکښي کړې ده. هغوی
او د هغوی نيکونه تر نن ورځې پورې زما په وړاندې سرکښي کوي. ۴ اوسني خلک هم
سرزوري دي او زما درناوی نه کوي، نو زه څښتن تعالی تا هغوی ته لېږم چې زما پيغام هغوی ته
ورسوې. ۵ که دا خلک غوږ نيسي يا نه نيسي، دا سرکښه قوم به پوه شي چې د هغوی په منځ
کې يو پيغمبر ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ خو ای فاني انسانه، د هغه قوم او د هغو د خبرو څخه مه وېرېږه، که د هغوی خبرې لکه د
اغزن بوټي او د لړم د نېش په شان هم وي بیاهم مه وېرېږه، ځکه چې هغوی یو سرکښه قوم دی.
۷ هرڅه چې زه درته وایم هغوی ته یې ووایه، که هغوی ورته غوږ ونیسي او یا یې ونه نیسي.
ځکه چې هغوی یو سرکښه قوم دی. ۸ خو ای فاني انسانه، څه چې زه درته وایم، نو غوږ ورته
ونیسه. د هغه سرکښه قوم په شان نه شې. خوله دې خلاصه کړه او څه چې تاته درکوم، هغه
وخوره.»

۹ په همدې شېبه مې ولیدل چې یو لاس زما خواته رااوږد شو او په هغه کې یو طومار ؤ. ۱۰
هغه طومار زما په مخکې پرانیست او د هغه په دواړو مخونو کې د وېر او افسوس کیسې لیکل شوې
وې.

# ۳

۱ څښتن ووېل: «ای فاني انسانه، دا طومار چې ستا په مخکې دی، هغه وخوره، بیا د
اسراییلو قوم ته ورشه او د هغوی سره خبرې وکړه.» ۲ نو ما خپله خوله خلاصه کړه او هغه راته
طومار راکړ چې ویې خورم. ۳ هغه ووېل: «ای فاني انسانه، دا طومار چې زه یې درکوم هغه
وخوره، خپله خېټه دې ورباندې ډکه کړه.» نو هغه مې وخوړ او هغه زما په خوله کې د شاتو په شان
خوږ ؤ.

۴ بیا هغه ماته ووېل: «ای فاني انسانه، د اسراییلو قوم ته ورشه او زما خبرې هغوی ته ووایه.
۵ ځکه زه تا داسې قوم ته نه لېږم چې هغوی په کومې پردۍ او سختې ژبې خبرې کوي، بلکې د
اسراییلو قوم ته دې لېږم. ۶ که چېرې ته مې داسې ډېرو قومونو ته لېږلی وای چې په سختو ژبو
یې خبرې کولې چې ته ورباندې نه پوهېدلې، بیاهم هغوی به تاته غوږ نیولی وای. ۷ خو د
اسراییلو قوم نه غواړي چې ستا خبرو ته غوږ ونیسي، حتی هغوی نه غواړي چې زما خبرو ته هم
غوږ ونیسي، ځکه چې هغوی ټول سرزوري او سخت زړي دي. ۸ خو ګوره، زه به تا هم د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی په شان سرزوری کړم. ۹ زه به دې د الماس په شان ټینګ او د تیږې څخه زیات کلک
کړم. د دې سرکښه قوم او د هغوی د څېرو څخه مه وېرېږه.»

۱۰ څښتن بیا راته وویل: «ای فاني انسانه، زما کلام ته په غور سره پام کوه او هرڅه چې درته
وایم هغه دې په زړه کې وساته. ۱۱ بیا دې خپلو وطندارانو ته چې په جلاوطنۍ کې اوسیږي،
ورشه او هغوی ته ووایه چې ته زما یعنې څښتن خدای له خوا یو پیغام لرې. دا کار وکړه، که هغوی
درته غوږ نیوه یا یې نه نیوه.»

۱۲ بیا د خدای روح زه پورته کړم او د شا له خوا نه مې د یو لوړ اواز غرهار واورېد چې ویل
یې: «د څښتن د جلال ثنا او صفت دې وي د هغه د اوسېدلو په ځای کې!» ۱۳ دا د هغو ژوندیو
مخلوقاتو د وزرونو د وهلو اواز ؤ چې یو د بل سره لګېدل او د هغو ارابو شورماشور ؤ چې د دوی
په څنګ کې وې. هغه شورماشور د یوې لویې زلزلې په شان ؤ. ۱۴ ما د څښتن حضور د هغه په
ټول قدرت سره احساس کړ او کله چې د هغه روح زه پورته کړم او د ځان سره یې یووړم، نو زه
ناارامه او په قهر شوم. ۱۵ نو زه د تل‌ابیب کلي ته چې جلاوطنه خلک د کیبار د سیند په څنګ
کې اوسېدل، راغلم او هلته د هغوی په منځ کې اووه ورځې سخت خفه کښېناستم.

## د پهره‌دار په توګه د حزقیال ټاکنه

(حزقیال ۳:۱-۳۳-۹)

۱۶ وروسته له اوو ورځو څښتن ماته وویل: ۱۷ «ای فاني انسانه، ته مې د اسراییلو د قوم دپاره
پهره‌دار ټاکلی یې. زه چې تاته کوم خبرداری درکوم باید هغوی ته یې ورسوې. ۱۸ که زه یو
بدکاره انسان ته خبرداری ورکړم چې هرومرو مړ کیږي او ته زما خبرداری هغه ته ونه رسوې او
ورته ونه وایې چې د خپلو بدو کارونو څخه توبه وباسي ترڅو د هغه ژوند وژغورل شي، هغه به د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې ګناه له امله مړ شي، نو تا به د هغه د مړینې مسوول وګڼم. ۱۹ خو که چیرې ته یو بدکاره انسان ته خبرداری ورکړې او هغه بیاهم توبه ونه باسي او د ګناه کولو څخه لاس وانخلي، نو هغه به د خپلې ګناه له امله مړ شي، خو تا به د مړینې څخه ځان ژغورلی وي.

۲۰ که چیرې یو نېک انسان له سمې لارې څخه واوړي او په بدو کارونو پیل وکړي او زه هغه د یو خطرناکه حالت سره مخامخ کړم، نو که چیرې ته ورته خبرداری ورنه کړې، هغه به د خپلې ګناه له امله مړ شي. زه به د هغه ټول ښه کارونه هېر کړم، خو تا به د هغه د مړینې مسوول وګڼم. ۲۱ خو که چیرې ته یو نېک انسان ته خبرداری ورکړې چې ګناه مه کوه او هغه ستا خبره ومني او ګناه پرېږدي، نو هغه به په پوره باور سره ژوندی پاتې شي. په دې خاطر چې هغه خبرداری قبول کړ، نو تا به د مړینې څخه ځان ژغورلی وي.»

## د حزقیال تړل او ګونګی کېدل

۲۲ د څښتن د حضور زور مې په خپل بدن کې احساس کړ او ماته یې وویل: «پاڅېږه، دباندې ووځه او درې ته لاړ شه. زه به په هغه ځای کې ستا سره خبرې وکړم.»

۲۳ نو زه پاڅېدم، دباندې ووتلم او درې ته لاړم او هلته مې د څښتن جلال ولیده لکه څنګه چې مې د خابور د سیند په غاړه لیدلی ؤ. بیا زه پړمخې په ځمکه ولوېدم. ۲۴ خو د خدای روح په ما کې داخل شو او زه یې په پښو ودرولم. بیا څښتن راته وویل: «کور ته لاړ شه او خپل ځان دې په کور کې بندي کړه. ۲۵ ای فاني انسانه، ته به په پړو وتړل شې او وبه نه شې کولای چې دباندې له خلکو سره یوځای شې. ۲۶ زه به ستا ژبه په تالو پورې ونښلوم او تا به ګونګی کړم، ترڅو ونه شې کولای هغوی ورټې، ځکه چې هغوی سرکښه قوم دی. ۲۷ خو کله چې زه بیا ستا سره خبرې وکړم او تاته بېرته د خبرو کولو توان درکړم، نو څه چې زه څښتن تعالی درته وایم، ته به یې هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته ووايې. ځينې خلک به ستا خبرو ته غوږ ونيسي او ځينې به يې د اورېدلو نه انکار وکړي، ځکه
چې هغه سرکښه قوم دی.»

## د حزقيال له خوا د اورشليم د کلابندۍ تشريح

۴ ۱ څښتن وويل: «ای فاني انسانه، يوه خښته راواخله او په خپل مخکې دې کېږده او په هغې
باندې د اورشليم د ښار نقشه وباسه. ۲ بيا ښار کلابند کړه! د ښار د دېوال ګردچاپېره د ښار د
کلابندۍ دېوال، د خاورو ډېری، د دښمن عسکري قرارګاه او د هغې ګردچاپېره د لرګيو درنې پايې د
نمونې په توګه تيارې کړه. ۳ د اوسپنې يوه تبۍ راواخله او هغه لکه د دېوال په شان د خپل ځان
او ښار ترمنځ ودروه. مخ دې بايد د ښار خواته وي. دا به د دې ځرګندوونکی وي چې ښار د
کلابندۍ لاندې دی او ته به هغه کلابند کوې. دا به د اسراييلو د قوم دپاره د خبردارۍ نښه وي.
۴-۵ بيا په چپ اړخ څمله او د اسراييلو د قوم سزا په خپل ځان واخله. ته به درې سوه او
نوي ورځې هلته پاتې شې او د هغوی د ګناهونو له امله به کړېږې. زه به د هغوی د هر کال ګناه په
ځای تاته د يوې ورځې سزا درکړم. ۶ کله چې دې دا سزا تېره کړه، نو بيا په ښي اړخ باندې
څمله او نورې څلوېښت ورځې به د يهودا د قوم د ګناهونو له امله کړېږې، د هغوی د هر کال دپاره
مې تاته يوه ورځ سزا ټاکلې ده.

۷ بيا خپل مخ د اورشليم کلابندۍ ته راواړوه او د سوک په خوځولو د هغه په وړاندې پېشګويي
وکړه. ۸ ګوره، زه به تا په پړو وتړم، ترڅو د کلابندۍ تر پايه ونه شې کولای چې د يو اړخ نه بل
اړخ ته واوړې.

۹ ته لږ غنم، اوربشې، لوبيا، دال او ږدن راواخله، په يو لوښي کې يې سره ګډ کړه او ډوډۍ
ورڅخه پخه کړه. دا خواړه درې سوه او نوي ورځې چې په يو اړخ باندې څملې، وخوره. ۱۰ ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواړه به هره ورځ یوازې دوه سوه او دېرش ګرامه ډوډۍ وي او هغه به په ټاکلي وخت خورې.
١١ همدارنګه ته به په ټاکلي وخت یوازې دوه جامونه اوبه څښې. ١٢ ته به د خلکو په مخکې
د انسان په وچ شویو غایطه موادو اور بلوې، په هغو به ډوډۍ پخوې او بیا به یې خورې.» ١٣
څښتن بیا وویل: «په دې ډول کله چې زه اسراییلیان په پردیو هېوادونو کې خواره واره کړم، نو
هغوی به هغه خواړه خوري چې په مذهبي لحاظ ناپاکه وي.»

١٤ خو ما په ځواب کې وویل: «آه، ای څښتن تعالی! زه هېڅکله ناپاکه شوی نه یم. ما د وړکتوب
نه هېڅکله د داسې حیوان غوښه نه ده خوړلې چې هغه په خپل مرګ مړ شوی وي او یا د کوم
ځنګلي حیوان له خوا وژل شوی وي. ما هېڅکله داسې خواړه نه دي خوړلي چې ناپاکه وي.»

١٥ نو څښتن وویل: «ډېر ښه، زه به تاته اجازه درکړم چې د انسان د غایطه موادو په ځای د غوا
د خوشایو نه کار واخلې او ډوډۍ ورباندې پخه کړې.» ١٦ هغه زیاته کړه: «واوره، ای فاني
انسانه، زه به په اورشلیم خواړه بند کړم. هغوی به ډوډۍ وتلي او له اندېښنې سره به یې وخوري او
اوبه به هم په ټاکلې اندازه واخلي او بیا به یې د وېرې او له رپېدلو سره وڅښي. ١٧ زه به داسې
وکړم ترڅو چې خواړه او اوبه یې په کمېدلو شي. نو له دې امله به یو بل ته له وېرې په کتلو سره
ټکان وخوري او د خپلې ګناه د سزا له امله به کمزوري کیږي، ترڅو له منځه لاړ شي.»

## حزقیال خپل ویښتان خرایي

**٥** ١ څښتن وویل: «ای فاني انسانه، یوه تېره توره راواخله او د هغې نه د دلاکۍ د چاړې په
ځای کار واخله او خپل سر او ږیره ورباندې وخرایه. بیا هغه ویښتان په ترازو کې وتله او په درېو
برخو یې ووېشه. ٢ کله چې د هغې کلابندۍ وخت چې ته یې وړاندې کوې پای ته ورسېدله، نو
د هغو ویښتانو یوه برخه په ښار کې وسوځوه. بله برخه یې راواخله او په خپله توره یې ټوټې ټوټې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړه او د ښار ګردچاپېره يې وشينده. درېمه برخه يې د باد مخې ته وشينده او زه به هغه په خپلې
تورې سره تعقيب کړم. ۳ بيا لږ ويښتان راواخله او د خپلو کاليو په لمنه کې يې پټ کړه. ۴ له
هغو ويښتانو نه بيا لږ څه واخله، په اور کې يې واچوه او ويې سوځوه. دا اور به د اسراييلو ټول قوم
ته خپور شي.»

۵ «زه څښتن تعالى داسې وايم: ‹دا اورشليم دى. ما هغه د قومونو په منځ کې ځاى په ځاى
کړى او نور هېوادونه ورڅخه ګردچاپېره پراته دي. ۶ خو د اورشليم خلکو زما د حکمونو نه
سرکښي وکړه او دا يې وښودله چې هغوى د نورو قومونو نه ډېر بدکاره دي او د خپل شاوخوا
هېوادونو نه ډېر نافرمانه دي. هغوى زما حکمونه رد کړي دي او زما د قوانينو څخه يې اطاعت نه
دى کړى.› ۷ نو له دې امله څښتن تعالى داسې وايي: ‹تاسو خلکو د نورو قومونو څخه زياته
سرکښي کړې ده او زما د حکمونو او قوانينو څخه مو انکار کړى دى. تاسو حتى د خپل شاوخوا
هېوادونو د معيارونو سره سم ژوند نه دى کړى.› ۸ نو ځکه زه څښتن تعالى تاته داسې وايم چې
ګوره اى اورشليمه، زه په خپله ستا دښمن يم. زه به د ټولو قومونو په حضور کې تاته سزا درکړم.
۹ نو د هغو بدو کارونو له امله چې ستا خلکو کړي دي او زه ورڅخه کرکه کوم، زه به تا ته
داسې سزا درکړم چې له دې نه مخکې مې چاته نه ده ورکړې او نه به يې له دې وروسته ورکړم.
۱۰ نو نتيجه به يې دا شي چې په اورشليم کې به ميندې او پلرونه خپل اولادونه او اولادونه به
خپل ميندې او پلرونه وخوري. زه به ستا خلکو ته سزا ورکړم او څوک چې ژوندي پاتې شي هغوى
به هرې خواته خواره واره کړم.

۱۱ نو له دې امله زه څښتن تعالى داسې وايم: ‹زه په خپل ذات باندې قسم خورم، څرنګه چې
تاسو په خپلو د کرکې وړ بتانو او کارونو سره زما د عبادت ځاى ناپاک کړى دى، نو زه به هم تاسو
په بې‌رحمۍ سره له منځه يوسم. ۱۲ ستا د خلکو يوه برخه به په ښار کې د وبا او قحطۍ له لاسه
مړه شي، بله برخه به دې د ښار څخه دباندې په تورو باندې ووژل شي او درېمه برخه به دې هرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواته خواره واره کړم او زه به هغه په خپلې تورې سره تعقیب کړم.

۱۳ داسې به زما د غضب اور مړ شي او ستا د خلکو په وړاندې به زما قهر سوړ شي. کله چې دا پیښې رامنځته شي، نو ستا خلک به پوه شي چې ما څښتن د هغوی سره خبرې کړې وې او زه د خپل غیرت له امله په قهر شوم. ۱۴ پرته له دې به تا د شاوخوا قومونو په منځ کې او د هرچا په سترګو کې چې له دې ځای څخه تېرېږي، وران او رسوا کړم.

۱۵ کله چې زه په قهر او غضب کې تاته سزا درکړم، نو له دې امله به ستا شاوخوا ټول قومونه ووېرېږي او هغوی ته به عبرت وي. هغوی به تاته په سپکه سترګه ګوري او ملنډې به درباندې وهي.› دا ما څښتن ویلي دي. ۱۶ زه به په تاسو باندې د قحطۍ وژونکي تیرونه درګوزار کړم چې تاسو تباه کړي. قحطي به دومره سخته شي چې ستا خلک به د خوړو د نشتوالي سره مخ شي. ۱۷ زه به ستا په خلکو باندې قحطي نازله کړم او وحشي حیوانات به درولېږم، ترڅو تا او ستا اولادونه له منځه یوسي. وبا او وینه تویول به په تا باندې راشي او خلک به د دښمن په توره ووژل شي. دا زما یعنې د څښتن وینا ده.»

## څښتن بت‌پرستي محکوموي

۶ ۱ څښتن ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، خپل مخ دې د اسراییلو د غرونو خواته راواړوه او د هغو په ضد نبوت وکړه ۳ او ووایه: ‹ای د اسراییلو غرونو، د څښتن تعالی خبرو ته غوږ ونیسئ! څښتن تعالی غرونو، غونډیو، تنګیو او درو ته داسې وايي چې زه به په خپله یوه توره ولېږم، ترڅو هلته د عبادت ځایونه وران کړي. ۴ ستاسو د قربانۍ ځایونه به وران شي او د خوشبویۍ د سوځولو ځایونه به مو ټوټې ټوټې شي. زه به ستاسو خلک د خپلو بتانو په مخکې ووژنم. ۵ زه به د اسراییلیانو مړي د هغوی د بتانو په مخکې وغورځوم او د هغوی هډوکي به د هغوی د قربانۍ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځایونو په شاوخوا کې خواره واره کړم. ۶ د اسراییلو ښارونه چې تاسو په کې اوسېږئ، ټول به
وران او د عبادت ځایونه به مو ویجاړ شي. په دې توګه ستاسو د قربانۍ ځایونه به وران او ناپاکه
شي او بتان به مو ټوټې ټوټې شي. ستاسو د خوشبویۍ د سوځولو ځایونه به راچپه شي او کوم د
عبادت شیان چې تاسو جوړ کړي دي هغه به له منځه لاړ شي. ۷ خلک به په هرځای کې وژل
کیږي او څوک چې ژوندی پاتې شي، هغوی به بیا پوه شي چې زه څښتن یم.

۸ خو ستاسو څخه به ځینې خلک ژوندي پرېږدم. څوک چې د تباهۍ نه ژوندي پاتې دي، نو
هغوی به د نورو قومونو په منځ کې خواره واره شي، ۹ هلته به هغوی د اسیرانو په توګه اوسیږي.
په هغه ځای کې به ما یاد کړي او په دې به پوه شي چې هغوی زه د خپلو بې‌وفا زړونو له امله او دا
چې زه یې پرېښی یم او بتانو ته یې رجوع کړې ده، دردولی یم. هغوی به د خپلو د کرکې وړ کارونو
له امله له خپلو ځانونو نه بېزاره شي. ۱۰ هغوی به په دې پوه شي چې زه څښتن یم او زما
خبرداری هسې خوشې خبرې نه دي چې په هغوی باندې مې بلا نازله کړې ده.›

۱۱ څښتن تعالی داسې وایي: ‹حزقیاله، خپل لاسونه یو په بل ووهه او ځمکه په پښو ودربوه. د
اسراییلو د قوم د بدو او د کرکې وړ عملونو له امله د قهر چیغې ووهه، ځکه هغوی به په جنګ،
قحطۍ او وبا تباه شي. ۱۲ کوم خلک چې په لېرې ځایونو کې اوسیږي، هغوی به د وبا له امله مړه
شي، هغه څوک چې په همدې نژدې ځایونو کې اوسیږي، هغوی به په جنګ کې ووژل شي او هغه
څوک چې ژوندي پاتې کیږي، هغوی به د قحطۍ له امله مړه شي. په دې توګه به زه په هغوی خپل
قهر او غضب سوړ کړم. ۱۳ کله چې د هغوی مړي د بتانو په منځ، د قربانۍ د ځایونو په شاوخوا،
په هره غونډۍ، د هر غره په سر کې، د هرې شنې ونې او د څېړۍ د هرې لویې ونې لاندې او په
هرځای کې چې دوی د خپلو بتانو د خوشحالولو دپاره سوځېدونکې قربانۍ وړاندې کوي پراته وي،
نو هغه وخت به بیا پوه شئ چې زه څښتن یم. ۱۴ هو، زه به خپل لاس د هغوی د هېواد د
ورانولو دپاره پورته کړم. زه به هغه د جنوبي دښتې نه د ربله تر ښاره پورې چې په شمال کې دی،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وران او ویجاړ کړم. زه به هیڅ داسې کوم ځای پرېنږدم چې اسراییلیان په کې واوسېږي. بیا به
هغوی په دې پوه شي چې زه څښتن یم.›»

## د اسراییلو د خلکو سرنوشت

۷ ۱ څښتن ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، زه څښتن تعالی د اسراییلو خلکو ته داسې وایم
چې دا ستاسو دپاره د پای ټکی دی! ستاسو د ټول هېواد د پای وخت رارسېدلی دی. ۳ نو اوس
ستاسو دپاره د پای وخت رارسېدلی دی او خپل غضب به په تاسو باندې نازل کړم. تاسو به د خپلو
اوسېدونکو د بدو کړنو له امله محاکمه او د هغوی د ټولو د کرکې وړ عملونو له امله به تاسو ته سزا
درکړم. ۴ زه به تاسو ته د مینې په سترګه ونه ګورم او په تاسو باندې به هیڅ رحم ونه کړم. زه به
تاسو ته د هغو د کرکې وړ عملونو له امله چې کړي مو دي، سزا درکړم. نو بیا به تاسو په دې پوه
شئ چې زه څښتن یم.»

۵ «زه څښتن تعالی داسې وایم: ‹په تاسو به یو مصیبت راشي. ګوره، داسې مصیبت چې هېڅکله
په تاسو نه وي راغلی. ۶ اخري وخت رارسېدلی دی. اخري وخت ډېر نژدې دی او ټول شیان
پای ته رسیږي. ۷ ای د دې هېواد اوسېدونکو، ستاسو د اجل وخت رارسېدلی دی. هغه وخت
رانژدې دی چې نور به په غرونو کې د خوشحالۍ اواز وانه ورېدل شي، بلکې تاسو به په پرېشانی
کې یئ.

۸ ډېر زر به په تاسو باندې خپل قهر او غضب نازل کړم. زه به تاسو د خپلو بدو کړنو له امله
محاکمه او د خپلو ټولو د کرکې وړ عملونو له امله به سزا درکړم. ۹ زه به تاسو ته د مینې په
سترګه ونه ګورم او په تاسو باندې به هیڅ رحم ونه کړم. زه به تاسو ته د هغو کرکې وړ عملونو له
امله چې تاسو کړي دي، سزا درکړم. نو بیا به تاسو په دې پوه شئ چې زه هغه څښتن یم چې تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته سزا درکوم.›»

۱۰ خبنتن بیا وویل: «ګورئ، په اسراییلو باندې د مصیبت ورځ ډېره نژدې ده. ستاسو اجل
رارسېدلی دی. ظلم او زیاتی خپل وروستي حد ته رسېدلی دی او غرور زیات شوی دی. ۱۱ د
ظلم او زیاتي له امله شرارت زیات شوی دی. د دې مغرورو او بدکاره خلکو نه به هېڅ شی پاتې نه
شي، نه به د هغوی شتمني او نه به د هغوی شان او شوکت.

۱۲ هغه وخت رارسېدلی دی او هغه ورځ نژدې شوې ده. په هغه ورځ دې اخیستونکي خوشحالي
نه کوي او خرڅوونکي دې خفګان نه کوي، ځکه ټول خلک به زما په قهر او غضب اخته شي. ۱۳
ترڅو چې اخیستونکی او خرڅوونکی ژوندي وي، اخیستونکی به بېرته خپل جایداد ترلاسه نه
کړي، ځکه دا رویا چې زه یې تاسو ته بیانوم، په ټولو پورې اړه لري او هغه بدلېدونکې نه ده. د
ګناهونو له امله به هېڅوک ژوندی پاتې نه شي. ۱۴ د جګړې سرنی وهل شوی دی او هرڅه تیار
دي، خو هېڅوک جګړې ته نه ځي، ځکه چې په ټولو خلکو باندې زما غضب نازل شوی دی.

## د اسراییلو د ګناهونو دپاره سزا

۱۵ د ښار څخه دباندې جنګ او په ښار کې به وبا او قحطي وي. هرڅوک چې د ښار نه دباندې
ووځي، په توره به ووژل شي او هغه څوک چې په ښار کې پاتې شي د قحطۍ او وبا له امله به مړه
شي. ۱۶ حتی که څوک ژوندي هم پاتې شي، د درو د کوترو په شان به غرونو ته وتښتي او هلته
به هم د خپلو ګناهونو له امله زګېروی وکړي. ۱۷ د هرچا لاسونه به کمزوري شي او زنګنونه به
یې رپېږي. ۱۸ هغوی ټول به په سخته وېره کې د ویر کالي واغوندي. د هغوی سرونه به د ویر له
امله خریلي وي او له شرمه به یې سرونه ټیټ وي. ۱۹ هغوی به خپل سپین زر لکه د چټلیو په
شان په کوڅو کې وغورځوي او د هغوی سره زر به یو ناپاکه شی وګڼل شي، ځکه کله چې خبنتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل غضب نازل کړي، نو نه سپین او نه سره زر هغوی ژغورلی شي. هغوی په دې باندې خپله لوږه
نه شي ختمولی او نه ورباندې د هغوی خېټې مړېږي. ځکه چې سپین او سره زر هغوی د ګناه خواته
بوتلل. ۲۰ یو وخت هغوی په خپلو ښکلو زېوراتو باندې ویاړ کاوه، خو له هغو نه یې د کرکې وړ
بتانو په جوړولو کې کار اخیست. نو له دې امله به زه دا ټوله شتمني د هغوی دپاره ناپاکه وګرځوم.»

۲۱ څښتن بیا وویل: «زه به پردي خلک پرېږدم چې هغوی لوټ کړي او د نړۍ شریر خلک به د
هغوی شتمني یوسي او هغه به یو عادي شی جوړ کړي. ۲۲ زه به خپل مخ د دې شریرو خلکو
څخه واړوم او هغوی به زما قیمتي ځای ته سپکاوی وکړي. لوټماران به هلته ورننوځي او هغه به یو
عادي شی جوړ کړي.

۲۳ د اسراییلو د قوم دپاره زنځیرونه تیار کړئ، ځکه د هغوی ټول هېواد د وینو تویولو او
جنایتونو څخه ډک دی او ښار هم د تاوتریخوالي څخه ډک دی. ۲۴ زه به تر ټولو شریر قومونه
دلته راولم چې د هغوی کورونه په زور ونیسي. زه به د زورورو خلکو غرور پای ته ورسوم او زه به
پرېږدم چې د هغوی سپېڅلي ځایونو ته سپکاوی وشي. ۲۵ کله چې هغوی په سخته وېره اخته
شي، نو د امن او ارامۍ په لټه کې به شي، خو هغه به هېڅکله ونه مومي. ۲۶ یو مصیبت پسې به
بل مصیبت راشي او یوازې کونګوسې به اورېدل کېږي. هغوی به د پیغمبرانو څخه د راتلونکې په اړه
د رویا غوښتنه کوي. د کاهنانو تعلیم به پای ته ورسېږي او مشران به د مشورې ورکولو څخه عاجز
وي. ۲۷ پاچا به ویر کوي، مامورین به خپله هیله له لاسه ورکړي او خلک به له وېرې څخه
رپېږي. هغوی چې کوم کارونه کړي دي، د هغو سره سم به زه هغوی ته سزا ورکړم او د هغوی په
اړه به داسې قضاوت وکړم لکه څنګه چې هغوی د نورو په هکله کړی دی. نو بیا به هغوی پوه شي
چې زه څښتن یم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په اورشلیم کې د څښتن په کور کې بت‌پرستي

۸ ۱ زمونږ د جلاوطنۍ په شپږم کال، د شپږمې میاشتې په پنځمه ورځ زه په خپل کور کې د
یهودا د مشرانو سره ناست وم. ناڅاپه د څښتن تعالی قوت په ما باندې نازل شو. ۲ ما وکتل او
په رویا کې مې د انسان په شان یو شکل ولیده. بدن یې د ملا نه ښکته د اور د لمبو په شان ښکاره
کېده او د ملا نه پورته د یو ځلېدونکي فلز په شان ؤ. ۳ وروسته بیا هغه یو شی چې د لاس په
شان ؤ، رااوږد کړ او زه یې د وېښتانو څخه ونیولم. په دې وخت کې په رویا کې د خدای روح
اسمان ته پورته کړم او زه یې په اورشلیم کې د څښتن د کور د دننۍ حوېلۍ د شمالي دروازې
خولې ته بوتلم. هلته یو بت ؤ چې خدای یې ډېر په قهر کړ او د هغه غیرت یې راوپاراوه. ۴ نو
هلته مې د اسراییلو د خدای جلال ولیده چې د هغې رویا په شان ؤ چې په دره کې مې لیدلې وه.

۵ بیا څښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، اوس شمال خواته وګوره.» نو ما هغې خواته وکتل او
د دروازې شمال خواته مې د هغه بت د قربانۍ ځای ولیده چې د خدای غیرت یې راپارولی ؤ. ۶
څښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، ته وینې چې د اسراییلو قوم په څه کارونو باندې اخته دی؟
ګوره چې هغوی د کرکې وړ کارونه کوي او دا د دې سبب ګرځي چې زه د خپل سپېڅلي ځای
څخه لېرې شم. خو ته به د دې څخه نور هم زیات د کرکې وړ کارونه ووینې.»

۷ هغه زه د دننۍ حوېلۍ د دروازې خولې ته بوتلم او په دېوال کې یې راته یو سوری راوښود.
۸ هغه ماته وویل: «ای فاني انسانه، دا سوری لوی کړه.» او ما هغه سوری لوی کړ او هلته مې
یوه دروازه ولیدله. ۹ هغه راته وویل: «دننه لاړ شه او وګوره چې هغوی څنګه ناوړه او د کرکې
وړ کارونه په دې ځای کې سرته رسوي.» ۱۰ نو زه دننه ورغلم او ومې لیدل چې په دېوالونو
باندې د خزندو، ناپاکو حیواناتو او د هغو ټولو بتانو نقشونه چې اسراییلیانو ورته عبادت کاوه،
ویستل شوي وو. ۱۱ د اسراییلو د قوم اویا مشران د هغو په مخکې هلته ولاړ وو چې په هغو کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د شافان زوی یازنیا هم شامل ؤ. هر یو په خپلو لاسونو کې د خوشبویۍ د سوځولو لوښی نیولی ؤ
او د هغه نه د خوشبویۍ لوګی پورته کېده. ۱۲ څښتن زما څخه پوښتنه وکړه: «ای فاني انسانه، ایا
تا لیدلي دي چې د اسراییلو ټول مشران په خپله کوټه کې په پټه د خپل بت عبادت کوي؟ هغوی
داسې وايي: ‹څښتن مونږ نه ویني، ځکه چې هغه دا هېواد پرېښی دی.›»

۱۳ بیا څښتن وویل: «ته به د دې څخه وروسته د دې نه هم ډېر د کرکې وړ کارونه چې هغوی
یې کوي، ووینې.» ۱۴ نو هغه زه د څښتن د کور د شمالي دروازې خولې ته بوتلم او هلته یې
ښځې راته وښودلې چې ناستې وې او د خپل خدای تموز په مرګ یې ژړا کوله.

۱۵ هغه پوښتنه وکړه: «ای فاني انسانه، ایا ته دا وینې؟ خو ته به د دې څخه وروسته د دې نه هم
ډېر ناوړه او د کرکې وړ کارونه ووینې.» ۱۶ نو بیا هغه زه د څښتن د کور دننی حوېلۍ ته بوتلم.
هلته د څښتن د کور د ننوتلو دروازې ته نژدې د قربانۍ د ځای او برنډې ترمنځ پنځه ویشت سړي
ولاړ وو. هغوی د عبادت ځای ته شاګانې اړولې وې او خپل مخونه یې ختیځ خواته اړولي وو او
لمر ته یې عبادت کاوه.

۱۷ څښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، ایا ته دا وینې؟ ایا دا لازمه ده چې د یهودا قوم دا د کرکې
وړ کارونه ترسره کړي، په ټول هېواد کې ظلم او زیاتی خپور کړي او زما قهر او غضب نور هم
راوپاروي؟ هغوی ته وګوره چې څنګه په بې‌شرمۍ زما سپکاوی کوي. ۱۸ نو له دې امله به په
هغوی باندې خپل غضب نازل کړم. زه به هغوی ته د مینې په سترګه ونه ګورم او په هغوی باندې به
هیڅ رحم ونه کړم. هغوی به چیغې وهي او ماته به په ډېر لوړ اواز زاری کوي، خو زه به ورته غوږ
ونه نیسم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اورشلیم د بت پرستانو وژنه

**۹** ۱ بیا ما واورېدل چې څښتن په لوړ اواز وویل: «ای هغو کسانو چې ښار ته د سزا ورکولو
دپاره ټاکل شوي یئ، دلته راشئ او خپلې وژونکې وسلې د ځان سره راوړئ.» ۲ ناڅاپه شپږ تنه
د شمالي دروازې نه راښکاره شول، د هر یو په لاس کې وژونکې وسله وه. د هغوی سره یو سړی
هم ؤ چې د کتان کالي يې اغوستي وو او د لیکلو سامان يې په ملا پورې تړلی ؤ. هغوی ټول د
څښتن کور ته ننوتل او د قربانۍ د برنجي ځای په څنګ کې ودرېدل.

۳ نو د اسراییلو د خدای جلال د هغو اسماني مخلوقاتو څخه چې هلته موجود وو، راپورته شو
او د څښتن د کور د دروازې خولې ته روان شو. څښتن هغه سړي ته چې د کتان کالي يې اغوستي
وو او د لیکلو سامان يې په ملا پورې تړلی ؤ، ۴ نارې کړې: «د اورشلیم په ټول ښار کې وګرځه
او د هغو کسانو په تندي باندې چې په ښار کې د کرکې وړ کارونو په خاطر ویر او ماتم کوي، يوه
نښه ولګوه.»

۵ وروسته مې واورېدل چې څښتن هغو نورو شپږو تنو ته داسې وویل: «په ښار کې د هغه پسې
ورشئ او خلک ووژنئ، يو هم ژوندی پرېنږدئ او په هېڅا باندې رحم مه کوئ. ۶ زاړه، ځوانان،
پېغلې، ښځې او ماشومان ووژنئ. خو د چا په تندي چې نښه لګېدلې وي هغه ته کوم زیان ونه
رسوئ. دا کار زما له کوره پیل کړئ.» نو هغوی دا کار د هغو مشرانو څخه پیل کړ چې د څښتن د
کور په مخکې ولاړ وو.

۷ بیا څښتن هغو شپږو کسانو ته وویل: «زما کور داسې ناپاکه کړئ چې د عبادت وړ نه وي.
حویلۍ د وژل شویو خلکو څخه ډکه کړئ. نو لاړ شئ او دا کار وکړئ!» وروسته هغوی په ښار کې
د خلکو په وژلو پیل وکړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ په داسې حال کې چې د خلکو وژنه روانه وه، نو زه په هغه ځای کې يوازې پاتې شوم. زه په ځمکه باندې پرېوتم او زاري مې وکړه: «ای څښتن تعالی، ايا ته په اورشليم باندې دومره په قهر يې چې غواړې په اسراييلو کې هرڅوک چې ژوندی پاتې وي، هغه ووژنې؟» ٩ څښتن په ځواب کې وويل: «د اسراييلو او يهودا د قوم ګناهونه بېحده ډېر دي. هېواد يې په وينو رنګ او ښار د بېانصافۍ نه ډک دی. خلک وايي: ‹څښتن مونږ نه ويني، ځکه چې هغه دا هېواد پرېښی دی.› ١٠ خو زه به هغوی ته د مينې په سترګه ونه ګورم او په هغوی باندې به هېڅ رحم ونه کړم. د هغوی د بدو کړنو له امله به هغوی ته سزا ورکړم.»

١١ بيا هغه سړی چې د کتان کالي يې اغوستي وو او د ليکلو سامان يې په ملا پورې تړلی ؤ، بېرته راستون شو او څښتن ته يې دا خبر راوړ: «کوم حکم چې تا ماته کړی ؤ، هغه مې سرته ورساوه.»

## د څښتن د کور څخه د هغه د جلال تلل

١٠ ١ بيا مې هغه ميدان ته وکتل چې د اسماني مخلوقاتو د سرونو دپاسه پروت ؤ او د هغو دپاسه يو شی ؤ چې هغه د داسې تخت په شان ښکاره کېده چې د لاجوردو نه جوړ شوی ؤ. ٢ څښتن هغه سړي ته چې د کتان کالي يې اغوستي وو، وويل: «د هغو چورلېدنکو ارابو په منځ کې چې د هغو مخلوقاتو لاندې دي، تېر شه او لاسونه دې د بلو سکارو نه ډک کړه او بيا هغه سکاره په ښار باندې وشينده.»

نو هغه مې وليده چې دننه لاړ. ٣ کله چې هغه دننه لاړ، نو هغه مخلوقات د څښتن د کور جنوب خواته ولاړ وو او دننه حوېلۍ د ورېځې نه ډکه شوه. ٤ د څښتن جلال د هغو مخلوقاتو نه راپورته شو او د هغه د کور د دروازې خولې ته روان شو. بيا کور د ورېځې نه ډک شو او حوېلۍ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن د جلال د رڼا نه وځلېدله. ۵ د هغو مخلوقاتو د وزرونو اواز تر باندینۍ حوېلۍ پورې اورېدل کېده چې د مطلق قادر خدای د اواز په شان ؤ.

۶ کله چې ښبنتن هغه سړي ته چې د کتان کالي يې اغوستي وو، حکم وکړ چې د هغو اسماني مخلوقاتو لاندې د ارابو له منځ نه لړ اور راواخلي، نو هغه سړی دننه لاړ او د يوې ارابې په څنګ کې ودرېده. ۷ د هغو مخلوقاتو څخه يو يې خپل لاس اوږد کړ او د هغه اور نه چې د هغوی په منځ کې بلېده، هغه لږې سکروټې راواخيستلې او د هغه سړي په لاسونو کې يې کېښودلې چې د کتان کالي يې اغوستي وو. هغه سړي دا سکروټې واخيستلې او لاړ.

۸ ما وليدل چې هر اسماني مخلوق د وزرونو لاندې د انسان د لاس په شان يو شی درلود.
۹-۱۰ ما دا هم وليدل چې هلته څلور ارابې وې چې ټولې يوشان وې او د هر اسماني مخلوق په څنګ کې يوه يوه ارابه وه. هغه ارابې د قيمتي تيږو په شان ځلېدلې او د هرې ارابې په منځ کې يوه بله ارابه وه. ۱۱ نو بې له تاوېدلو اسماني مخلوقاتو کولای شول چې له څلورو خواو نه هرې خواته چې وغواړي حرکت وکړي. کله به چې هغو مخلوقاتو حرکت کاوه، نو ارابې به هم بې له تاوېدلو ورسره تللې. ۱۲ د دې اسماني مخلوقاتو بدنونو، شاګانو، لاسونو، وزرونو او ارابو ټولو سترګې لرلې. ۱۳ ما يو اواز واورېد چې ويل يې: «چورلېدونکې ارابې.»

۱۴ هر اسماني مخلوق څلور مخونه لرل. لومړی مخ د غويي د مخ په شان ؤ، دوهم مخ د انسان، درېيم مخ د زمري او څلورم مخ د عقاب د مخ په شان ؤ. ۱۵ دا هماغه ژوندي مخلوقات وو چې ما د خابور د سيند په غاړه ليدلي وو. کله به چې دا مخلوقات هوا ته پورته شول ۱۶ او حرکت به يې کاوه، نو ارابې به هم ورسره تللې. کله به چې هغوی خپل وزرونه خلاص کړل چې والوزي، نو ارابې به هم ورسره تللې. ۱۷ کله به چې هغه مخلوقات ودرېدل، نو ارابې به هم ودرېدلې او کله به چې هغه مخلوقات الوتل، نو ارابې به هم ورسره تللې، ځکه چې د دې مخلوقاتو به په هغو باندې واک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درلود.

۱۸ بیا د ښبښتن جلال د هغه د کور د دروازې د خولې نه لاړ او د اسماني مخلوقاتو دپاسه
ودرېده. ۱۹ هغوی خپل وزرونه خپاره کړل او ما ورته کتل چې هغوی د ځمکې نه پورته شول او
ارابې هم ورسره لاړلې. هغوی د ښبښتن د کور د ختیځې خوا دروازې سره ودرېدل او د اسراییلو د
خدای جلال د هغوی د سر دپاسه ؤ.

۲۰ ما هغه مخلوقات وپېژندل. دا هماغه اسماني مخلوقات وو چې ما د خابور د سیند په غاړه د
اسراییلو د خدای د تخت لاندې لیدلي وو. ۲۱ هغوی هر یو څلور مخونه او څلور وزرونه لرل او
د هر وزر لاندې د انسان د لاس په شان یو شی ښکاره کېده. ۲۲ د هغوی مخونه کټ مټ د هغو
مخونو په شان وو کوم چې ما د خابور د سیند په غاړه لیدلي وو. هر اسماني مخلوق سیده حرکت
کاوه.

## د اسراییلو د مشرانو په هکله قضاوت کول

۱۱ ۱ د خدای روح زه راپورته کړم او د ښبښتن د کور ختیځې دروازې ته یې بوتلم. هلته مې
دروازې ته نژدې پنځه ویشت سړي ولیدل چې په هغو کې د قوم دوه مشران یعنې د عزور زوی
یازنیا او د بنایاه زوی فلتیا هم شامل وو. ۲ ښبښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، دا خلک بد
پلانونه جوړوي او په ښار کې خلکو ته بدې مشورې ورکوي. ۳ هغوی وایي: ‹مونږ به زر بیا
کورونه جوړ کړو. دا ښار د دېګي په شان دی چې په اور باندې ایښی وي او مونږ لکه د غوښې په
شان یو، خو لږ تر لږه هغه دېګ مونږ په اور کې د سوځېدلو څخه ساتي.› ۴ نو ای فاني انسانه،
د هغوی په ضد نبوت وکړه! د هغوی په ضد پېشګویي وکړه!»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ بیا په ما باندې د څښتن روح نازل شو او څښتن ماته وویل چې زه داسې وایم: «ای د
اسراییلو خلکو، زه پوهېږم چې ستاسو په ذهن کې کوم خیالونه دي. ۶ تاسو په ښار کې دومره
زیات خلک وژلي دي چې کوڅې د مړو نه ډکې دي.

۷ نو زه څښتن تعالی تاسو ته داسې وایم چې دا ښار په رښتیا هم د اوسپنې یو دېگی دی، خو
غوښه یې د هغو خلکو ده چې تاسو وژلي دي! نو زه به تاسو د ښار څخه دباندې وباسم! ۸ زه
داسې هم وایم چې تاسو د جنگ څخه وېرېږئ، خو زه به ستاسو دښمنان پرېږدم چې په تاسو
باندې حمله وکړي. ۹ زه به تاسو د ښار نه وباسم او پردیو خلکو ته به مو په لاس ورکړم. زه به
تاسو محاکمه او سزا به درکړم، ۱۰ تاسو به په خپل وطن کې په جنگ کې ووژل شئ. بیا به
هرڅوک په دې پوه شي چې زه څښتن یم. ۱۱ دا ښار به د هغه دېگي په شان چې غوښه په کې
ساتل کیږي، ستاسو ساتنه ونه کړي. تاسو چې د اسراییلو په وطن کې په هرځای کې یئ، زه به تاسو
محاکمه او سزا به درکړم. ۱۲ تاسو به په دې پوه شئ چې زه څښتن یم او هغه وخت چې تاسو د
گاونډیو قومونو په قوانینو باندې عمل کاوه، نو تاسو به زما قوانین ماتول او زما د حکمونو نه به مو
سرغړونه کوله.»

۱۳ کله چې ما نبوت کاوه، نو د بنایاه زوی پلتیا مړ شو. زه په ځمکه باندې پړمخې پرېوتم او په
لوړ اواز مې چیغه ووهله: «ای څښتن تعالی! ایا په اسراییلو کې چې څوک ژوندي پاتې دي، هغه
ټول وژنې؟»

## د جلاوطنو خلکو سره د څښتن وعده

۱۴ څښتن ماته وویل: ۱۵ «ای فاني انسانه، کوم خلک چې په اورشلیم کې اوسیږي هغوی په
تا او ستا د هغو وطندارانو اسراییلیانو پسې چې په جلاوطنۍ کې اوسیږي، خبرې کوي. هغوی وایي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

‹جلاوطنه خلک د ښښتن نه لېرې شوي دي. ښښتن د هغوی وطن اوس مونږ ته راکړی دی.› ۱۶
نو اوس د اورشليم خلکو ته ووايه چې ښښتن داسې وايي: ‹ما ښښتن تعالی جلاوطنې خلک دې ته
مجبور کړل چې د خپل وطن څخه ووځي او لېرې پرديو هېوادنو کې واوسېږي. خو د لږ وخت
دپاره چې هغوی هرچېرته دي، زه به د هغوی دپاره سپېڅلی ځای يم.›

۱۷ نو بيا جلاوطنو خلکو ته ووايه چې زه ښښتن تعالی داسې وايم: ‹زه به تاسو د هغو قومونو او
وطنونو نه راټول کړم چې تاسو مې په هغو کې خواره واره کړي يئ او د اسراييلو وطن به بېرته تاسو
ته درکړم.› ۱۸ بيا ښښتن د اورشليم خلکو ته وويل: ‹کله چې جلاوطنه خلک بېرته خپل وطن ته
راستانه شي، نو هغوی به خپل ځانونه د خپلو د کرکې وړ بتانو نه خلاص کړي. ۱۹ زه به هغوی
ته يو نوی زړه او تازه روح ورکړم. زه به د هغوی نه د تيږې په شان سخت زړه لېرې کړم او نرم
زړه به ورته ورکړم. ۲۰ بيا به هغوی زما په قوانينو باندې عمل کوي او په وفادارۍ سره به زما
حکمونه مني. نو هغوی به زما قوم وي او زه به د هغوی خدای يم. ۲۱ خو زه به هغو خلکو ته
مناسبه سزا ورکړم چې د کرکې وړ بتانو د عبادت کولو سره شوق لري.› ښښتن تعالی داسې ويلي
دي.»

## د خدای جلال د اورشليم څخه ځي

۲۲ نو بيا هغو اسماني مخلوقاتو په الوتلو پيل وکړ او ارابې هم ورسره لاړلې. د اسراييلو د خدای
د حضور جلال د هغوی په سر باندې ؤ. ۲۳ بيا هغه جلال د ښار نه حرکت وکړ او په هغه غره
باندې ودريده چې د ښار ختيځې خواته ؤ. ۲۴ د خدای روح زه په رويا کې پورته کړم او بېرته
يې هغو جلاوطنو خلکو ته چې په بابل کې وو، راوستلم. بيا هغه رويا پای ته ورسېدله ۲۵ او
هرڅه چې ښښتن ماته ښودلي وو، هغه مې هغو جلاوطنو خلکو ته وويل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ۱ څښتن ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، ته د سرکښه قوم په منځ کې اوسېږې. هغوی
سترګې لري، خو هېڅ شی نه ویني او هغوی غوږونه لري خو هېڅ هم نه اوري، ځکه چې هغوی
سرکښه قوم دی.

۳ نو اوس ای فاني انسانه، لکه د یو جلاوطن په شان خپل د سفر سامان تیار کړه او د ورځې له
خوا حرکت وکړه. پرېږده چې ټول دې ووینې چې ته روان شوې او بل ځای ته لاړې. کېدای شي
چې دغه سرکښه قوم ستا دې کار ته پام وکړي. ۴ په رڼا ورځ دې خپل د جلاوطنۍ سامان
دباندې وباسه، ترڅو هغوی تا ووینې. بیا ته په ماښام کې د هغه چا په شان چې جلاوطنۍ ته روان
وي، حرکت وکړه او پرېږده چې هغوی تا ووینې. ۵ د هغوی په مخکې د خپل کور دېوال سوری
کړه او خپل د جلاوطنۍ سامان دې د هغې لارې نه وباسه. ۶ خپل پنډ دې د هغوی په مخکې په
خپلو اوږو باندې کېږده او په تیاره کې یې دباندې یوسه. خپل مخ پټ کړه، ترڅو هغه ځمکه ونه
ویني چې ته یې پرېږدې. ستا دا کار به د اسراییلیانو دپاره د خبرداری یوه نښه وي.»

۷ لکه څنګه چې څښتن راته ویلي وو ما هماغسې وکړل. ما د یو جلاوطني په شان خپل د سفر
سامان د ورځې له خوا دباندې وویست. بیا د ماښام په تیاره کې مې په خپلو لاسونو باندې دېوال
سوری کړ او د سفر د سامان سره ووتلم. هغوی ټولو کتل چې ما خپل پنډ په اوږو کړ او په تیاره کې
لاړم.

۸ سبا سهار څښتن ماته وویل: ۹ «ای فاني انسانه، ایا د اسراییلو سرکښه قوم ستا څخه
پوښتنه ونه کړه چې ته څه کوې؟ ۱۰ هغوی ته ووایه چې زه څښتن تعالی هغوی ته داسې وایم. دا
پیغام د اورشلیم د پاچا او د هغو ټولو اسراییلیانو په اړه دی چې هلته اوسېږي. ۱۱ هغوی ته ووایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تا چې څه کړي دي، دا هغه نښه ده چې د هغوی سره به هم همداسې کېږي. هغوی به مهاجر
شي او اسيران به شي. ۱۲ کوم پاچا چې په هغوی باندې حکومت کوي، هغه به هم خپل پنډ په
تياره کې په خپلو اوږو باندې کېږدي او د دېوال د هغه سوري له لارې به وتښتي چې هغوی يې د
هغه دپاره وباسي. هغه به خپل مخ پټ کړي، ترڅو هغه ځمکه ونه ويني چې پرېږدي يې. ۱۳ خو
زه څښتن به په هغه باندې خپل جال خپور کړم او په کې راګير به يې کړم. بيا به زه هغه د بابل
هېواد ته بوځم، خو هغه به دا هېواد ونه ويني او هلته به مړ شي. ۱۴ زه به د هغه د دربار ټول
خلک، د هغه مشاوران او لښکرې هرې خواته خورې ورې کړم او زه به هغوی په خپلې تورې سره
تعقيب کړم. ۱۵ کله چې مې هغوی په نورو قومونو او وطنونو کې خواره واره کړل، نو بيا به پوه
شي چې زه څښتن يم. ۱۶ خو زه به د هغوی نه لږ خلک د جنګ، قحطۍ او وبا نه ژوندي
پرېږدم، نو هغوی چې کومو هېوادنو ته ځي، په خپلو ناوړو او د کرکې وړ عملونو باندې به اقرار
وکړي. بيا به په دې پوه شي چې زه څښتن يم.»

## د وېرېدونکي پيغمبر نښه

۱۷ څښتن ماته وويل: ۱۸ «اې فاني انسانه، خپله ډوډۍ دې په وېره او لړزېدلو وخوره او اوبه
دې په وېره او رېږدېدلو وڅښه. ۱۹ د اسراييلو خلکو ته ووايه چې دا هغه پيغام دی چې د څښتن
تعالی له خوا د اورشليم د هغو خلکو دپاره دی چې تراوسه پورې د اسراييلو په هېواد کې اوسېږي.
هغوی به له وېرې سره ډوډۍ وخوري او له سختې وېرې سره به اوبه وڅښي. د هغوی وطن به شاړ
پروت وي، ځکه چې اوسېدونکي يې ظالمان دي. ۲۰ کوم ښارونه چې اوس اباد دي، هغه به وران
شي او هغه وطن به د خلکو څخه خالي شي. بيا به هغوی پوه شي چې زه څښتن يم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د څښتن د کلام زر پوره کېدل

۲۱ څښتن ماته وویل: ۲۲ «ای فاني انسانه، د اسراییلو خلک دا متل ولې په تکرار سره وايي:
‹وخت تېرېږي او هره پېشګویي نه رښتیا کېږي›؟ ۲۳ اوس هغوی ته ووایه چې زه څښتن تعالی
به دا متل باطل کړم. دا متل به نور په اسراییلو کې نه ویل کېږي. هغوی ته ووایه چې هغه وخت
رارسېدلی دی او هغه ټولې پېشګویانې رښتیا کېږي! ۲۴ نور به د اسراییلو په خلکو کې د دروغو
رویاګانې یا د غوړه‌مالۍ پېشګویانې نه کېږي. ۲۵ ځکه زه څښتن به د هغوی سره خبرې وکړم او
څه چې وایم هماغسې به کېږي. په هغه کې به نور ځنډ نه رامنځته کېږي. ای سرکښه قومه، ستاسو
په ژوند کې چې زه د هر شي په هکله خبرې کوم، هغه به سرته رسوم. څښتن تعالی داسې ویلي
دي.»

۲۶ نو بیا څښتن ماته وویل: ۲۷ «ای فاني انسانه، اسراییلیان فکر کوي چې ستا رویاګانې او
پېشګویانې ډېر وروسته رښتیا کېږي. ۲۸ نو هغوی ته ووایه چې زه څښتن تعالی داسې وایم: ‹زما
په کلام کې به نور کوم ځنډ نه رامنځته کېږي. څه چې ما وویل، نو هغه به خامخا کېږي. ما څښتن
داسې وویل!›»

## د جعلي پیغمبرانو غندنه

۱۳ ۱ څښتن ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، د اسراییلو د هغو پیغمبرانو په ضد نبوت
وکړه چې د خپل ځان نه نبوت کوي. هغوی ته ووایه چې د څښتن کلام ته غوږ ونیسي.

۳ څښتن تعالی داسې وايي: ‹افسوس د دې کم‌عقلو پیغمبرانو په حال! هغوی د خپلو ځانونو نه
الهام ورکوي او هغه رویاګانې یې چې نه دي لیدلې، بیانوي. ۴ ای د اسراییلو خلکو، ستاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیغمبران د هغو ګیدړانو په شان دي چې د ښار په کنډوالو کې اوسیږي. ۵ هغو پیغمبرانو تاسو
اسراییلیانو سره مرسته ونه کړه چې د ښار هغه دېوالونه بېرته جوړ کړي چې غورځېدلي دي. دا کار
باید ترسره شي، ترڅو په هغه وخت کې چې زه څښتن ستاسو دښمنان پرېږدم چې په تاسو باندې
حمله وکړي، ستاسو دېوالونه قوي وي. ۶ د هغوی رویاګانې غلطې دي او د هغوی پېشګویانې
دروغ دي. هغوی دا دعوه کوي چې زما د پیغام په هکله خبرې کوي، خو هغوی ما نه دي لېږلي.
خو بیاهم هغوی په دې تمه دي چې خبرې به یې رښتیا شي!› ۷ زه هغوی ته وایم: ‹تاسو چې
کومې رویاګانې وینئ هغه بې‌ارزښته دي او تاسو چې کومې پېشګویانې کوئ هغه دروغ دي. تاسو
وایئ چې دا زما خبرې دي، خو ما تاسو سره خبرې نه دي کړي!›

۸ نو څښتن تعالی هغوی ته داسې وایي: ‹ستاسو خبرې بې‌ارزښته دي او ستاسو رویاګانې دروغ
دي. نو له دې امله زه څښتن تعالی ستاسو په ضد یم. ۹ زه به خپل لاس د هغو ټولو پیغمبرانو په
خلاف پورته کړم چې بې‌ارزښته رویاګانې ویني او دروغجنې پېشګویانې کوي. هغوی به زما د قوم
د ټولنې څخه وشړل شي. زه به د هغوی نومونه د اسراییلو د لست نه لرې کړم او هغوی به بیا
هیڅکله په خپل وطن کې پښې کښېنږدي. نو بیا به په دې پوه شئ چې زه څښتن تعالی یم.

۱۰ پیغمبران زما قوم بې‌لارې کوي او وایي چې خیر خیریت دی. خو په رښتیا سره خیریت نه
دی! زما قوم یو کمزوری دېوال جوړ کړی دی او پیغمبران راغلي دي او هغه یې په چونه او ګچو
باندې سپین کړی دی. ۱۱ دې پیغمبرانو ته ووایه چې دېوال به راوغورځیږي. سخت باران به
ووریږي، ږلۍ به ووریږي او یو توفان به ورباندې راشي. ۱۲ کله چې دېوال راوغورځیږي، نو
هرڅوک به ستاسو نه پوښتنه کوي چې د دېوال د سپینولو څه ګټه وه؟›

۱۳ په دې خاطر څښتن تعالی داسې وایي: ‹زه به په خپل قهر سره یو توفان، سخت باران او ږلۍ
نازل کړم چې هغه دېوال وران کړي. ۱۴ زه غواړم چې هغه چونه شوی دېوال راوغورځوم او هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د ځمکې سره هوار کړم او د بنیاد تیږې به یې راښکاره شي. هغه به راولوېږي او تاسو ټول به مړه
کړي. بیا به ټول په دې پوه شي چې زه څښتن یم. ۱۵ نو زما قهر به په دېوال او په هغه چا چې
هغه یې رنګ کړی دی، سوړ شي. بیا به تاسو ته ووایم چې هغه دېوال او د هغه رنګ کوونکي نور
نشته. ۱۶ دا هغه پیغمبران وو چې په ډاډه زړه سره به یې ویل چې په اورشلیم کې خیر خیریت
دی، خو حال دا چې هلته خیریت نه ؤ.› څښتن تعالی داسې ویلي دي.»

## د جعلي ښځینه پیغمبرانو په ضد نبوت

۱۷ څښتن وویل: «ای فاني انسانه، د اسراییلو هغه ښځې محکومې کړه چې له خپله ځانه
پېشګویي کوي. ۱۸ هغوی ته ووایه چې څښتن تعالی ورته داسې وایي: ‹افسوس ستاسو په حال!
تاسو هرچا ته د کوډو تعویذونه جوړوئ چې په خپلو مړوندونو باندې یې وتړي او هرچا ته د هغه د
قد په اندازه د کوډو دستمالونه جوړوئ چې خپل سرونه ورباندې وتړي، ترڅو وکولای شئ د نورو
خلکو د ژوند واک ولرئ. ایا تاسو غواړئ چې زما د خلکو د ژوند او مرګ اختیار ترلاسه کړئ او د
هغه څخه د خپل ځان په ګټه کار واخلئ؟ ۱۹ تاسو د څو موټو اوربشو او د څو ټوټو ډوډیو په
خاطر زما د قوم په مخکې زما سپکاوی وکړ. تاسو هغه خلک وژنئ کوم چې د مرګ لایق نه دي او
هغه خلک ژوندي پرېږدئ کوم چې د ژوندي پرېښودلو لایق نه دي. تاسو زما خلکو ته دروغ وایئ
او هغوی په تاسو باندې یقین کوي.›

۲۰ نو څښتن تعالی داسې وایي: ‹ګورئ، زه د کوډو د تعویذونو په ضد یم چې تاسو یې په مرګ
او ژوند باندې د قدرت ترلاسه کولو په خاطر د خلکو په مټو باندې تړئ. زه به هغه ستاسو د مټو
څخه وشکوم او هغه خلک به خلاص کړم چې تاسو د مرغیو په شان په دام کې راګېر کړي دي.
۲۱ زه به ستاسو د سرونو دستمالونه وشکوم او خپل قوم به خلاص کړم او نور به ونه شئ کولای
په خپل دام کې هغوی راګېر کړئ. نو بیا به تاسو پوه شئ چې زه څښتن یم. ۲۲ دا ځکه چې تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپلو دروغو باندې د هغو نېکو خلکو زړونه تور کړي دي چې زه نه غواړم هغوی خفه کړم.
تاسو بدعمله خلک دې ته هڅولي دي چې د خپلو بدو کارونو نه لاس وانخلي او خپل ژوند
وژغوري. ۲۳ نو اوس به تاسو بې‌ارزښته روياګانې ونه وينئ او بې‌لارې کوونکې پېشګويانې به نه
کوئ. زه به خپل قوم ستاسو د منګولو نه خلاص کړم، نو هغه وخت به په دې پوه شئ چې زه
څښتن يم.›»

## د بت پرستۍ غندنه

**۱۴** ۱ د اسراييلو ځينې مشران راغلل چې زما سره د خدای د رضا د معلومولو په هکله
مشوره وکړي. ۲ بيا څښتن ماته وويل: ۳ «ای فاني انسانه، دې خلکو بتانو ته په خپلو زړونو
کې ځای ورکړی دی او بت پرستي د هغوی د ګناه سبب ګرځېدلې ده. ايا هغوی فکر کوي چې زه به
ورته مشوره ورکړم؟

۴ زما يعنې څښتن تعالی له خوا هغوی ته ووايه: ‹هر اسراييلی چې د بتانو څخه پيروي کوي او
د ګناه په لاره ځي او په هغه وخت کې کله چې هغه د مشورې دپاره پيغمبر ته راځي، نو زه څښتن
به خپله هغوی ته ځواب ورکوم، داسې ځواب چې دا بت پرستان د هغه لايق دي. ۵ زه به هغوی
ته ځواب ورکړم ترڅو وکولای شم د اسراييلو خلک چې د خپلو ټولو بتانو له امله زما څخه لېرې
شوي دي، بېرته خپل ځان ته راوګرځوم.›

۶ نو اسراييليانو ته ووايه چې زه څښتن تعالی داسې وايم: ‹توبه وباسئ او خپل بتان او د کرکې
وړ کارونه پرېږدئ. ۷ فرض کړئ يو اسراييلی يا کوم پردی سړی چې په اسراييلو کې اوسېږي
او خپل ځان زما نه بېلوي، هغه په خپل زړه کې بتانو ته ځای ورکوي او هغه دا بتان د خپلو سترګو
په وړاندې ږدي او هغه د ګناه خواته ځي. کله چې هغه د مشورې دپاره پيغمبر ته راځي، نو زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښتن به په خپله هغه ته ځواب ورکړم! ۸ زه به د هغه په ضد شم. هغه به د نورو دپاره د عبرت
سبب وګرځوم. زه به يې د خپل قوم نه وباسم، بيا به تاسو په دې پوه شئ چې زه ښتن يم.

۹ که چېرې يو پيغمبر وغولېږي او غلط ځواب ورکړي، نو دليل به يې دا وي چې هغه ما يعنې
ښتن غولولی دی. زه به هغه پيغمبر ته سزا ورکړم او د خپل قوم اسراييلو نه به يې بيخي لېرې کړم.
۱۰ هغه پيغمبر او هغه څوک چې د هغه نه مشوره اخلي، دواړو ته به يوشان سزا ورکول کيږي.
۱۱ دا کار د دې دپاره کوم چې نور اسراييليان زما څخه بې‌لارې نه شي او خپل ځانونه نور په
ګناهونو باندې ناپاکه نه کړي. نو هغوی به زما قوم وي او زه به د هغوی خدای يم. ښتن تعالی
داسې وويل.»

## نوح، دانيال او ايوب

۱۲ ښتن زما سره خبرې وکړې. ۱۳ هغه وويل: «ای فاني انسانه، کله چې د يو هېواد خلک
ګناه او زما سره بې‌وفايي وکړي، نو زه به د هغوی په وړاندې لاس پورته کړم او خواړه به ورباندې
بند کړم. زه به ورباندې قحطي راولم او خلک او حيوانات به يې ووژنم. ۱۴ که هغه درې کسان
يعنې نوح، دانيال او ايوب هم هلته اوسي، نو زه به هغوی د خپلې رښتينولۍ له امله وژغورم، خو
يوازې هغوی به زه ژغورم. ښتن تعالی داسې وويل.

۱۵ يا فرض کړئ زه هغه هېواد ته ځنګلي حيوانات ورولېږم چې خلک وخوري او هغه هېواد
دومره خطرناکه کړي چې هېڅوک په هغه لاره تېرېدلی نه شي، ۱۶ حتی که هغه درې کسان هم
هلته اوسي، نو زه ښتن تعالی په خپل ذات باندې قسم خورم چې هغوی به هم ونه شي کولای
چې خپل زامن او لورګانې وژغوري. يوازې هغوی به وژغورل شي او هغه هېواد به وران او ويجاړ
شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ یا فرض کړئ زه په هغه وطن باندې جنګ راولم او د دښمن لښکرې ورولېږم چې انسانان او
حیوانات ټول له منځه یوسي. ١٨ که هغه درې کسان هم هلته اوسي، نو زه څښتن تعالی په خپل
ذات باندې قسم خورم چې هغوی به ونه شي کولای چې خپل زامن او لورګانې وژغوري. یوازې
هغوی به وژغورل شي.

١٩ یا فرض کړئ زه په هغه هېواد باندې وبا راولم او د قهر له لاسه د ډېرو انسانانو او حیواناتو
ژوند واخلم. ٢٠ که نوح، دانیال او ایوب هم هلته اوسي، نو زه څښتن تعالی په خپل ذات باندې
قسم خورم چې هغوی به نه شي کولای چې خپل زوی او لور وژغوري. د هغوی رښتینولي به
یوازې د هغوی ژوند وژغوري.

٢١ څښتن تعالی داسې وایي: ‹دا به څومره بده وي چې زه په اورشلیم باندې څلور ډېرې سختې
سزاګانې یعنې جنګ، قحطي، ځنګلي حیوانات او وبا ورولېږم چې انسانان او حیوانات ټول ووژني.
٢٢ ګورئ، ځینې سړي او ښځې به په اورشلیم کې ژوندي پاتې شي او هغوی به د هغه ځای څخه
دباندې وویستل شي. کله چې هغوی په بابل کې ستاسو خواته راشي، نو وبه وینئ چې هغوی
څومره بدعمله خلک دي او په دې به قانع شئ، څکه کومه سزا چې ما اورشلیم ته ورکړې ده، هغه
عادلانه ده. ٢٣ هو، تاسو به په دې قانع شئ، څه چې ما څښتن تعالی کړي دي، زه په حقه یم.
څښتن تعالی داسې ویلي دي.›»

## د انګورو د بې‌ګټې تاک په هکله یو مثال

١٥ ١ څښتن ماته وویل: ٢ «ای فاني انسانه، د انګورو د شکولو نه وروسته د انګورو د
تاکونو ځینې لرګي چې پرې کېږي، نو د هغه به څه ګټه وي؟ هغه لرګي د ځنګل د نورو ونو د لرګیو
په شان نه دي. ٣ ایا د هغه د لرګي نه د کوم شي په جوړولو کې کار اخیستلی شئ؟ ایا د هغه نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د شیانو د ځوړندولو دپاره موږی جوړولی شئ؟ ۴ په یقین سره هغه یوازې د اور د بلولو دپاره
ښه دي. کله چې د هغه دواړه سرونه وسوځي او منځ یې سکاره شي، نو د هغه نه کوم شی جوړولی
شي؟ ۵ هغه د سوځېدلو نه مخکې بېګټې ؤ. اوس چې هغه په اور کې وسوځېده او سکاره شو،
نو هغه نور هم بېګټې شو.

۶ نو ښښتن تعالی داسې وايي: ‹لکه څنګه چې مې د تاک لرګي د ځنګل د ونو څخه د سوځولو
دپاره تیار کړي دي، همداسې مې د اورشلیم خلک هم د سزا دپاره تیار کړي دي ۷ او هغوی ته
به سزا ورکړم. که هغوی د یو اور نه ځان خلاص کړ، خو بل اور به یې وسوځوي. کله چې زه
هغوی ته سزا ورکړم، نو بیا به تاسو پوه شئ چې زه ښښتن یم. ۸ د هغوی هېواد به وران او
ویجاړ کړم، ځکه چې هغوی ماته وفادار نه وو. ښښتن تعالی داسې ویلي دي.›»

## اورشلیم، بېوفا ناوې

۱۶ ۱ ښښتن یوځل بیا ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، د اورشلیم خلک د هغوی د کرکې
وړ کارونو څخه خبر کړه. ۳ اورشلیم ته ووایه چې ښښتن تعالی ورته داسې وايي: ‹ستا د
زېږېدنې اصلي ځای کنعان دی. ستا پلار اموری ؤ او مور دې حیتۍ وه. ۴ کله چې ته پیدا
شوې، نو هېچا ستا نوم غوڅ نه کړ، نه چا ولمبولې، نه یې مالګه درباندې وموښله او نه یې په اوړنۍ
کې تاو کړې. ۵ هېچا درباندې رحم ونه کړ. کله چې ته پیدا شوې، نو هېچا په مینه دا کارونه
ستا دپاره نه کول، بلکې تاته یې د کرکې په سترګه کتل، نو ته یې د زېږېدلو په وخت کې په صحرا
کې وغورځولې.

۶ کله چې زه ستا له خنګ نه تېرېدم، نو ته مې ولیدلې چې په خپلو وینو کې لاسونه او پښې
وهې. خو ما غوښتل چې ته ژوندۍ پاتې شې او مړه نه شې. ۷ لکه د بوټي په شان مې لویه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي. ته لویه شوې او قد دې لوړ شو او یوه پېغله درخشه جوړه شوه. تیونه دې غټ شول او د بدن
ویښتان دې راشنه شول، خو په پوره توګه لوڅه وې.

۸ کله چې زه بیا ستا له څنګ نه تېرېدم، نو ومې لیدل چې پېغله شوې یې او ستا د واده کولو
وخت دی. په دې خاطر مې خپله چپنه درباندې واچوله، ستا لوڅ بدن مې پټ کړ او وعده مې
درسره وکړه چې مینه به درسره کوم. هو، ما درسره د واده کولو لوظ وکړ او ته زما شوې.›› څښتن
تعالی داسې ویلي دي. ۹ «بیا ما په اوبو ولمبولې او ستا وینې مې پاکې کړلې. ستا پوستکی مې د
زیتونو په تېلو باندې غوړ کړ. ۱۰ ګلدوزي شوي کالي مې درواغوستل، د‌ېر ښه د څرمن بوټان مې
درته په پښو کړل او د کتان او د ورېښمو قیمتي کالي مې درواغوستل. ۱۱ په ګاڼو مې ته ښایسته
کړې، بنګړي مې درته په لاس کړل او غاړه‌کۍ مې درته واچوله. ۱۲ پېزوان او غوږوالۍ مې
درواچولې او ښکلی تاج مې درته په سر کړ. ۱۳ ته د سرو او سپینو زرو په ګاڼو باندې ښایسته
شوې او ګلدوزي شوي د کتان او ورېښمو قیمتي کالي به دې اغوستل. د ښو اوړو نه پخه شوې
ډوډۍ، شات او د زیتونو تېل به دې خوړل. ته ډېره ښکلې شوې او ملکه درخشه جوړه شوه. ۱۴
د خپل بې‌شانه ښایست له امله په هر قوم کې مشهوره شوې، ځکه چې دا زه وم چې ته مې دومره
ښکلې کړې.» څښتن تعالی داسې ویلي دي.

## د اورشلیم ژوند لکه د یوې بدلمنې په شان

۱۵ «خو تا په خپل ښایست باندې تکیه وکړه او د خپل شهرت نه دې ګټه واخیستله ترڅو بدلمنه
شې. هرڅوک چې راتله، نو ته ورسره خملاستلې او ستا د ښایست نه به یې خوند اخیست. ۱۶ تا
په خپلو ښکلیو کالیو باندې بتخانې ښایسته کړې او د یوې بدلمنې ښځې په شان دې خپل ځان د
هر چا په اختیار کې ورکړ. تا داسې کار وکړ چې هیڅ‌ا تر اوسه نه ؤ کړی او نه به یې وکړي. ۱۷
ما چې تاته د سرو او سپینو زرو کوم ښایسته ګاڼې درکړې وې، د هغو څخه دې د نرانو مجسمې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړې کړې او هغوی ته دې په عبادت کولو سره د یوې بدلمنې په شان عمل وکړ. ۱۸ ما چې
تاته کوم ګلدوزي شوي کالي درکړي وو، هغه دې بتانو ته واغوستل او زما د زیتونو تېل او
خوشبويي دې هم بتانو ته وړاندې کړل. ۱۹ ما تاته خواړه، ښه اوړه، د زیتونو تېل او شات درکړل،
خو تا هغه د قربانۍ په توګه بتانو ته وړاندې کړل چې ورباندې خوشحاله شي. دا هغه څه دي چې
څښتن تعالی يې وايي.

۲۰ تا چې زما دپاره کوم زامن او لورګانې راوړې وې، هغه دې بتانو ته د خوراک دپاره د قربانۍ
په توګه وړاندې کړل. ایا هغه بدلمنتوب دې بس نه ؤ ۲۱ چې زما اولادونه دې حلال کړل او بتانو
ته دې د سوځېدونکې نذرانې په توګه وړاندې کړل؟ ۲۲ تا د خپلې زناکارۍ او د کرکې وړ ژوند
په دوران کې هېڅکله خپل ماشومتوب در په یاد نه کړ چې په پوره توګه لوڅه وې او په خپلو وینو
کې دې لاسونه او پښې وهلې.

۲۳ څښتن تعالی داسې وويل: ‹افسوس ستا په حال! افسوس ستا په حال! برسېره په هغو بدو
کارونو چې تا وکړل، ۲۴ بیا دې په هر چوک کې د بتانو د عبادت او د بدلمنتوب دپاره ځایونه
جوړ کړل. ۲۵ هو، تا د هرې کوڅې په سر کې د بدلمنتوب دپاره ځایونه جوړ کړل او خپل
ښایست دې د کرکې وړ کړ او هرڅوک چې به تېرېده تا به ورسره زنا کوله او ستا زناکارې ورځ په
ورځ زیاتېدله. ۲۶ ته د خپلو شهوت‌پرسته ګاونډیانو یعنې مصریانو سره څملاستلې او په خپلې
زیاتېدونکې زناکارۍ سره دې زه په قهر کړم.

۲۷ نو بیا مې خپل لاس پورته کړ چې سزا درته درکړم او ستا ځمکه مې کمه کړه. ته مې خپلو
دښمنانو یعنې فلسطیني ښځو ته چې ستا د بداخلاقۍ نه کرکه کوي، تسلیم کړې يې. ما هغوی
پرېښودل څه چې زړه يې غواړي، درسره وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ تا د آشوریانو سره زناکاري وکړه، ځکه چې ستا شوق نه پوره کېده او حتی له هغې وروسته
هم ستا شوق پوره نه شو. ۲۹ همدارنګه تا د بابلیانو سره چې د سوداګرانو قوم دی، خپل
بدلمنتوب نور هم زیات کړ، خو هغوی هم ونه شو کولی چې ستا شویق پوره کړي.›

۳۰ ښبتن تعالی داسې وايي: ‹زه دې ډېر په قهر کړم، ځکه چې تا د یوې بې‌شرمې بدلمنې په
شان دا ټول کارونه وکړل او دا دې وښودل چې هرڅه چې دې زړه وغواړي هغه کوې. ۳۱ تا د
هرې کوڅې په سر کې د بتانو د عبادت ځایونه او په هر چوک کې دې د بدلمنتوب دپاره ځایونه
جوړ کړل. خو تا دا کار د نورو بدلمنو ښځو په شان د پیسو په خاطر نه کاوه او پیسې دې ردولې.
۳۲ ته د هغې ښځې په شان یې چې د دې په ځای چې د خپل مېړه سره مینه وکړې، د پردیو
خلکو سره زنا کوې. ۳۳ خلک نورو بدلمنو ښځو ته سوغاتونه ورکوي، خو تا خپلو ټولو عاشقانو
ته سوغاتونه او رشوتونه ورکول چې د هرځای نه راشي او تا سره خملي. ۳۴ نو ته د نورو بدلمنو
ښځو په شان نه یې. ته دې کار ته چا نه هڅولې. تا به پیسې نه اخیستلې، بلکې هغو خلکو ته به
دې ورکولې چې تا سره زنا وکړي! هو، ته د نورو په شان نه یې.›»

## اورشلیم ته باید سزا ورکړل شي

۳۵ «نو ای اورشلیمه، ای بدلمنې! ښبتن چې څه وايي هغه ته غوږ ونیسه. ۳۶ دا هغه څه دي
چې ښبتن تعالی یې وايي: ‹تا خپل کالي وویستل او لکه د یوې بدلمنې په شان د خپلې شهوت
پرستۍ په خاطر خپلو عاشقانو او د کرکې وړ بتانو دپاره تیاره وې او د خپلو اولادونو وینه دې بتانو
ته د قربانۍ په توګه وړاندې کړه. ۳۷ نو له دې امله زه به ستا ټول پخواني عاشقان چې تا ورڅخه
خوند اخیسته، پرته له دې چې په تا ګران وو او یا دې د هغوی څخه کرکه کوله، هغوی ټول به ستا
نه ګردچاپېره راټول کړم، بیا به ستا نه کالي وباسم او هغوی به په پوره توګه تا لوڅه ووینې. ۳۸
زه به تا داسې محاکمه کړم لکه څنګه چې یوه زناکاره او قاتله ښځه محکمه کیږي او په خپل قهر او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غیرت سره به درته د مرګ سزا درکړم. ۳۹ زه به تا خپلو عاشقانو ته په لاس ورکړم او هغوی به هغه ځایونه وران کړي چې تا په کې د بتانو عبادت او بدلمنتوب کاوه. هغوی به ستا نه کالي وباسي، ښایسته زیورات به ستا نه واخلي او تا به په پوره توګه لوڅه پرېږدي.

۴۰ ستا عاشقان به ډېر خلک راوپاروي چې تا سنګساره کړي او په خپلو تورو به دې ټوټې ټوټې کړي. ۴۱ هغوی به ستا کورونه وسوځوي او د ډېرو ښځو په مخکې به درته سزا درکړي. زه به تا دې ته مجبوره کړم چې بدلمنتوب پرېږدې او خپلو عاشقانو ته د سوغاتونو د ورکولو نه لاس واخلې. ۴۲ بیا به زه ارام شم او زما د غیرت قهر به سوړ شي او زه به نور په تا باندې نه په قهرېږم. ۴۳ تا هېر کړي دي کله چې ځوانه وې، ما درباندې څومره پام کاوه، خو تا په خپلو ټولو بدو کارونو زه په قهر کړم. نو په دې خاطر زه تاته د دې ټولو بدو عملونو په بدل کې سزا درکوم. برسېره په هغو ټولو د کرکې وړ کارونو، زنا دې ولې کوله؟ څښتن تعالی داسې ویلي دي.›»

## د سامرې او سدوم سره د اورشلیم پرتله کول

۴۴ «څښتن وویل: ‹ای اورشلیمه، هغه خلک چې متلونه خوښوي، نو هغوی به ستا په هکله دا متل وايي: ”څنګه یې چې مور وي، نو هماغسې به یې لور هم وي.“ ۴۵ ته په رښتیا د خپلې مور په شان یې چې د خپل مېړه او خپلو اولادونو نه به یې کرکه کوله. ته هم د خپلو خویندو په شان یې چې د خپلو مېړونو او خپلو اولادونو نه به یې کرکه کوله. ستا مور حیتۍ وه او ستا پلار اموري ؤ.

۴۶ ستا مشره خور سامره ده چې د خپلو لورګانو سره ستا په شمال کې اوسېږي. ستا کشره خور سدوم ده چې د خپلو لورګانو سره په جنوب کې اوسېږي. ۴۷ ته نه یوازې دا چې د هغوی په لارو باندې روانه شوې او د هغوی د کرکې وړ کارونو پیروي دې وکړه، بلکې په ډېر لږ وخت کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې د هغوی نه هم زیات د فساد نه ډک کارونه وکړل.›

۴۸ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زه په خپل ذات باندې قسم خورم چې ستا خور سدوم او د هغې لورګانو هېڅکله داسې بد کارونه نه دي کړي لکه څنګه چې تا او ستا لورګانو کړي دي. ۴۹ ګوره، سدوم او د هغې لورګانې مغروره وې، د خوراک دپاره يې هرڅه پرېمانه درلودل او په سوله او ارامۍ کې يې ژوند کاوه. خو د هغوی ګناه دا وه چې د غريبو او حاجتمندو خلکو سره يې مرسته نه کوله. ۵۰ هغوی مغرور خلک وو او هغه کارونه يې کول چې ما ورڅخه کرکه کوله. نو کله چې ما دا ولیدل، هغوی مې له منځه یووړل.

۵۱ سامرې ستا په نيمه اندازه ګناه هم نه ده کړې. تا دومره بد کارونه وکړل چې هغې کله هم نه دي کړي. تا دومره د کرکې وړ کارونه کړي دي چې د هغو کارونو په پرتله ستا خويندې بې‌ګناه ښکاري. ۵۲ نو ته به اوس خپله رسوايي وزغمې. ستا ګناهونه ستا د خويندو نه دومره زيات دي چې ته د دې سبب شوې چې هغوی ستا په پرتله بې‌ګناه ښکاره شي. نو اوس وشرمېږه او خپله بې‌عزتي وزغمه، ځکه چې تا دومره د کرکې وړ کارونه کړي دي چې ستا خويندې پاکې ښکاره شي.›»

## د سدوم يعنې اورشليم او سامرې بيا ودانول

۵۳ «څښتن اورشليم ته وويل: ‹زه به سدوم او د هغې لورګانې او سامره او د هغې لورګانې يوځل بيا نېکمرغه کړم. هو، تا به هم اباد کړم، ۵۴ ترڅو ته د هغو کارونو په خاطر چې کړي دې دي، وشرمېږې او ستا خويندې به خوشحاله شي چې هغوی ستا په شان ګناهکارې نه دي. ۵۵ ستا خويندې سدوم او سامره او د هغوی لورګانې به بېرته خپل پخواني حالت ته راشي او ته او ستا لورګانې به هم بېرته خپل پخواني حال ته راشئ. ۵۶-۵۷ ايا تا د خپل غرور په وخت کې او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکې له دې چې ستا بد کارونه ښکاره شي په سدوم پورې دې ملنډې نه وهلې؟ اوس ته هم د
هغې په شان شوې او د سوریایانو، فلسطینیانو او د خپلو نورو ګاونډیانو چې ستا نه کرکه کوي، د
هغوی د ملنډو شوې. ۵۸ ته باید د خپلې شهوت پرستۍ او د کرکې وړ کارونو په خاطر چې کړې
دې دي، سزا ووینې.› څښتن داسې ویلي دي.

## یو ابدي لوظ

۵۹ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زه به ستا سره داسې چلند وکړم چې څنګه یې لایقه یې، ځکه چې
تا خپله وعده هېره کړې ده او خپل لوظ دې مات کړ. ۶۰ خو زه به خپل هغه لوظ رایاد کړم چې
ستا سره مې ستا د ځوانۍ په وخت کې کړی ؤ او ستا سره به یو ابدي لوظ وکړم. ۶۱ هغه وخت
به دې بد کارونه در په یاد شي، کله چې زه تاته خپله مشره او کشره خور بېرته راولم، نو ته به
وشرمېږې. زه به هغوی ستا لورګانې کړم، که څه هم دا خبره په هغه لوظ کې نشته. ۶۲ زه به ستا
سره خپل لوظ ټینګ وساتم، نو هغه وخت به ته پوهه شې چې زه څښتن یم. ۶۳ زه به ستا د ټولو
ګناهونو دپاره کفاره ادا کړم، خو ته به د هغو په رایادولو د ډېره شرمه خپله خوله خلاصولی نه شې.›
څښتن تعالی داسې ویلي دي.»

## د دوو عقابانو او د انګورو د تاک مثال

**۱۷** ۱ څښتن ماته ووېل: ۲ «ای فاني انسانه، اسراییلیانو ته یوه معما او یو مثال بیان کړه
۳ چې هغوی په دې پوه شي چې زه څښتن تعالی هغوی ته داسې وایم: ‹یو غټ عقاب ؤ چې
رنګه ښکلې او لوی لوی او خپاره وزرونه یې لرل. هغه د لبنان غرونو ته والوت او د سبر د ونې لوړه
څانګه یې ماته کړه. ۴ هغه یې د سوداګرۍ وطن ته یووړله او د سوداګرانو په ښار کې یې وکرله.
۵ بیا یې یو نیالګی د یوې خاورې نه راواخیست او هغه یې د یوې ولې په شان په یو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حاصلخېزه پټې کې چې تل يې اوبه لرلې وکاره. ۶ هغه شين شو او د هغه نه يو ټيټ او پراخ
تاک جوړ شو. څانګې يې د عقاب خواته پورته وختلې او ريښې يې په ځمکه کې ژورې لاړلې. هغه
تاک په څانګو کې پټ شو.

۷ هلته يو بل غټ عقاب ؤ چې لوی لوی وزرونه او زياتې بڼکې يې لرلې. نو تاک د هغه خواته
خپلې ريښې ورتاوې کړلې او څانګې يې د خپل باغ څخه چې هغه په کې کرل شوی ؤ، د هغه
عقاب خواته وغځولې، په دې هيله چې هغه ورته زياتې اوبه ورکړي، ۸ خو هغه تاک لا د پخوا
نه په يوه حاصلخېزه ځمکه کې کرل شوی ؤ چې زياتې اوبه ورته رسېدلې، ترڅو څانګې يې راشنې
شي، انګور ونيسي او يو ښکلی تاک ورڅخه جوړ شي.›

۹ نو اسراييليانو ته ووايه چې زه څښتن تعالی داسې پوښتنه کوم: ‹ايا دا تاک به پاتې شي او لوی
به شي؟ ايا هغه لومړنی عقاب به هغه له بېخه ونه باسي، انګور به ترې ونه شکوي او څانګې به يې
ماتې نه کړي؟ نو دا څانګې به وچې شي. د تاک د راويستلو دپاره ډېر قوي لاس او ډېرو کسانو ته
اړتيا نشته. ۱۰ هو، هغه تاک کرل شوی دی، خو ايا هغه به پاتې شي او لوی به شي؟ کله چې هغه
تاک د ختيځ تود باد ووهي، نو هغه به په پوره توګه وچ نه شي؟ په کوم باغ کې چې هغه راشين
شوی دی، نو هلته به وچ نه شي؟›»

## د دې مثال روښانه کېدل

۱۱ څښتن ماته ووېل: ۱۲ «د دې سرکښه قوم نه پوښتنه وکړه: ‹ايا د دې مثال په معنی باندې
نه پوهېږئ؟ هغوی ته ووايه چې د بابل پاچا اورشليم ته راغی او پاچا او د هغه درباريان يې بېرته د
ځان سره بابل ته بوتلل. ۱۳ هغه د پاچا د کورنۍ يو کس يووړ او د هغه سره يې يو تړون وکړ او
هغه ته يې قسم ورکړ چې هغه ته به وفادار اوسي. هغه د قوم مشران له ځان سره بوتلل، ۱۴ چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوم کمزورى شي او د بيا د راپورته کېدلو وس ونه لري، نو په دې توګه قوم به تړون ته وفادار او
ژوندى پاتې شي. ۱۵ خو د يهودا پاچا سرکښي وکړه او خپل استازي يې مصر ته ولېږل چې هغه
ته اسونه او يو لوى لښکر ورکړي. ايا هغه به په دې کار بريالى شي؟ ايا هغه د تړون په ماتولو سره
خپل ځان د سزا څخه خلاصولى شي؟›

۱۶ ښښتن تعالى داسې وايي: ‹زه په خپل ذات باندې قسم خورم چې د يهودا دا نوى پاچا به په
بابل کې مړ شي، ځکه چې هغه د خپل قسم سپکاوى وکړ او هغه تړون يې مات کړ چې د بابل د
پاچا سره چې هغه يې په تخت باندې کښېنولى ؤ، کړى ؤ. ۱۷ کله چې بابليان د کلابندۍ دپاره د
خاورو ډېرى جوړې کړي او د ډېرو خلکو د وژلو دپاره د ښار د کلابندۍ دېوالونه جوړ کړي، نو د
فرعون قوي لښکر به ونه شي کولاى د هغه سره په جنګ کې مرسته وکړي. ۱۸ هغه د تړون په
ماتولو سره د خپل قسم سپکاوى وکړ. هغه دا ټول کارونه وکړل، نو اوس هغه نه شي خلاصېدلى.›

۱۹ نو ښښتن تعالى داسې وايي: ‹زه په خپل ذات باندې قسم خورم چې زه به هغه ته د خپل هغه
تړون د ماتولو سره سم چې زما په نوم يې قسم خوړلى ؤ، سزا ورکړم. ۲۰ زه به هغه ته خپل جال
خپور کړم او هغه به په کې راګېر کړم. زه به هغه بابل ته بوځم او هغه به هلته محاکمه او هغه ته به
سزا ورکړم، ځکه چې هغه زما سره بې‌وفايي کړې ده. ۲۱ د هغه ډېر ښه عسکر به په جنګ کې
ووژل شي او څوک چې ژوندي پاتې شي هغوى به هرې خواته خواره واره شي. بيا به تاسو پوه
شئ چې ما ښښتن داسې ويلي دي.›»

## د ښښتن له خوا د هيلې دپاره وعده

۲۲ «ښښتن تعالى داسې وايي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

‹زه به راواخلمه د لوړ سبر د سر نه

یوه نازکه څانګه او هغه به پرې کږمه زه

او هغه به وکرم په خپله اوچت غر باندې

٢٣ د اسراییلو په لوړ غر باندې

هغه به وکرمه او شي به راشنې د هغه څانګې

او وبه ونیسي مېوه

او شي به جوړه ترې د سبر ښکلې ونه

د هغې لاندې به اوسیږي هر ډول مرغان

پیدا کوي به سرپناه د څانګو د سیوري لاندې

٢٤ په هغه ځمکه کې به پوه شي ټولې ونې

چې زه څښتن یمه

زه به ټیټې کړمه لوړې ونې

او کړم به لوړې ټیټې ونې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به وچې کړمه شنې ونې

او راشنې به کړم زه وچې ونې

ما څښتن داسې وويل. څه چې ما وويل، زه به هماغسې وکړم.›»

## هرڅوک د خپلې ګناه مسوول دی

۱۸ ① څښتن ماته وويل: ② «د دې متل معنی څه ده چې خلک يې د اسراييلو په هېواد
کې هر وخت وايي؟

تروه انګور وخوړل مور او پلار

خو خوله تروه شوه د اولادونو»

③ څښتن تعالی داسې وايي: «زه په خپل ذات باندې قسم خورم چې تاسو به دا متل په اسراييلو
کې نور نه کاروئ. ④ ځکه چې د هرچا ژوند زما په اختيار کې دی، که هغه د مور او پلار ژوند
وي يا د هغوی د اولادونو ژوند وي. څوک چې ګناه وکړي، نو هغه به مړ شي.

⑤ فرض کړئ چې يو سړی نېک او عادل دی، ⑥ او لکه څنګه چې نور اسراييليان د بتانو
عبادت کوي، هغه يې نه کوي او نه د غرونو په عبادت ځايونو کې د قربانۍ هغه غوښه چې بتانو ته
وړاندې کيږي، خوري. هغه د بل چا ښځه نه بې‌پته کوي او نه د کومې ښځې سره د هغې د مياشتينې
عادت په وخت کې يوځای کيږي. ⑦ هغه د چا سره ظلم نه کوي او نه د چا نه غلا کوي. هغه
شی چې د ضمانت په توګه يې اخيستی وي، هغه بېرته ورکوي. وږيو خلکو ته خواړه ورکوي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوڅو خلکو ته کالي ورکوي. ۸ هغه د سود اخیستلو په خاطر پیسې چاته په پور نه ورکوي. د
بې‌انصافۍ نه ځان ساتي او د هرې شخړې په هکله عادلانه پرېکړه کوي. ۹ دا ډول سړی زما د
قوانینو نه پیروي کوي او په وفادارۍ سره زما په حکمونو باندې عمل کوي. هغه نېک سړی دی او
هغه به خامخا ژوندی پاتې شي. څښتن تعالی داسې وايي.

۱۰ فرض کړئ چې دا سړی يو زوی لري چې ظلم او قتل کوي او داسې نور بد کارونه هم کوي
۱۱ چې پلار يې هېڅکله نه دي کړي. هغه په غرونو کې د بتانو په عبادت ځايونو کې د قربانۍ
غوښه خوري او د بل چا ښځه بې‌پته کوي. ۱۲ هغه د غريبانو او محتاجو خلکو سره ظلم کوي،
غلا کوي او هغه شی يې چې د امانت په توګه اخيستی وي، هغه بېرته نه ورکوي. هغه د بتانو عبادت
او د کرکې وړ کارونه کوي، ۱۳ او په سود پيسې ورکوي. ايا هغه به ژوندی پاتې شي؟ نه، هغه به
ژوندی پاتې نه شي. هغه دا ټول د کرکې وړ کارونه کړي دي، نو هغه به خامخا مړ شي. د هغه خون
به د هغه په خپله غاړه وي.

۱۴ اوس فرض کړئ دا دوهم سړی يو زوی ولري او هغه د خپل پلار ټول ګناهونه ويني، خو
هغه د خپل پلار په شان کارونه نه کوي. ۱۵ لکه څنګه چې نور اسراييليان د بتانو عبادت کوي،
هغه يې نه کوي او نه د غرونو په عبادت ځايونو کې د قربانۍ هغه غوښه چې بتانو ته وړاندې کيږي،
خوري. نه د بل چا ښځه بې‌پته کوي، ۱۶ نه د چا سره ظلم کوي، نه د چا نه غلا کوي، په امانت
کې خيانت نه کوي، وږيو خلکو ته خواړه ورکوي او لوڅو خلکو ته کالي ورکوي. ۱۷ هغه د
غريبانو سره مرسته کوي او خپلې پيسې په سود نه ورکوي. هغه زما په حکمونو باندې عمل کوي او
زما د قوانينو څخه پيروي کوي. هغه به د خپل پلار د ګناهونو په سبب مړ نه شي او خامخا به
ژوندی پاتې شي. ۱۸ خو پلار به يې د خپلو ګناهونو په خاطر مړ شي، ځکه هغه به غلا کوله، د
خلکو شتمني به يې په زوره غصبوله او د خپلو خلکو سره به يې بدي کوله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٩ خو تاسو پوښتنه کوئ: ‹ولې زوی ته د خپل پلار د ګناهونو په سبب سزا نه ورکول کيږي؟›
ځواب يې دا دی چې زوی هغه کار کاوه چې سم او ښه ؤ. هغه زما په قوانينو باندې عمل کاوه او په
غور سره يې د هغو څخه پيروي کوله، نو هغه به خامخا ژوندی پاتې شي. ٢٠ څوک چې ګناه
وکړي، نو هغه به مړ شي. زوی بايد د خپل پلار د ګناهونو په خاطر ونه کړېږي او نه پلار د زوی د
ګناهونو په خاطر. نېک انسان ته به د خپل نېک عمل اجر ورکول کيږي او بدعمله انسان به د خپلو
بدو عملونو سزا مومي.

٢١ که چېرې يو بدعمله انسان د ګناه نه لاس واخلي او زما په ټولو قوانينو باندې عمل وکړي او
عادلانه او ښه کارونه وکړي، نو هغه به مړ نه شي او خامخا به ژوندی پاتې شي. ٢٢ د هغه ټول
ګناهونه به وبخښل شي او هغه به ژوندی پاتې شي، ځکه چې هغه ښه کارونه کړي دي. ٢٣
څښتن تعالی پوښتنه کوي: ‹ايا تاسو فکر کوئ چې زه د يو ګناهکار انسان په مرګ باندې
خوشحالېږم؟› نه، بلکې زه غواړم چې هغه د خپلو بدو لارو نه راوګرځي او ژوندی پاتې شي. ٢۴
خو که چېرې يو نېک انسان د خپلو ښو کارونو نه لاس واخلي او ټول بد عملونه او هغه د کرکې وړ
کارونه پيل کړي چې بدکاره خلک يې کوي، ايا هغه به ژوندی پاتې شي؟ نه، د هغه ټول ښه کارونه
به هېر شي. هغه به د خپلې بې‌وفايۍ او د خپلو ګناهونو له امله مړ شي.

٢۵ خو تاسو وايئ: ‹د څښتن کارونه عادلانه نه دي.› ای اسراييليانو، ماته غوږ ونيسئ. ايا تاسو
فکر کوئ چې زما لاره عادلانه نه ده؟ دا ستاسو لاره ده چې عادلانه نه ده. ٢۶ کله چې يو نېک
انسان د نېکو کارونو نه لاس واخلي او بد کارونه پيل کړي او بيا مړ شي، نو دا مړينه به د هغه د بد
عمل په خاطر وي. ٢٧ کله چې يو ګناهکار انسان د ګناه نه لاس واخلي او عادلانه او نېک
کارونه کوي، نو هغه به خپل ژوند وژغوري. ٢٨ هغه پوهيږي چې څه کوي او د ټولو ګناهونو نه
لاس اخلي، نو هغه به خامخا ژوندی پاتې شي او مړ به نه شي. ٢٩ خو تاسو اسراييليان وايئ: ‹د
څښتن کارونه عادلانه نه دي.› ايا تاسو فکر کوئ چې زما لاره عادلانه نه ده؟ دا ستاسو لاره ده چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عادلانه نه ده.

۳۰ نو زه څښتن تعالی تاسو اسراییلیانو ته داسې وایم چې زه به ستاسو د هر یو په هکله ستاسو د
عملونو له مخې قضاوت وکړم. توبه وباسئ او د خپلو ټولو بدو عملونو نه لاس واخلئ. که نه، نو مړه
به شئ. ۳۱ تاسو چې کوم بد کارونه کوئ، د هغو ټولو نه لاس واخلئ او په خپلو ځانونو کې نوی
زړه او تازه روح راپیدا کړئ. ای اسراییلیانو، تاسو ولې غواړئ چې مړه شئ؟ ۳۲ څښتن تعالی
وايي: ‹زه د هېچا په مرګ نه خوشحالېږم. د خپلو ګناهونو نه لاس واخلئ او ژوندي پاتې شئ.›»

## د اسراییلو د جلاوطنو پاچاهانو دپاره د وېر سندره

**۱۹** ۱ څښتن ماته وویل چې د اسراییلو د دوو پاچاهانو دپاره دا د ویر سندره ووایم:

۲ «څنګه مور دې درلودله؟ هغه وه یوه زمرۍ!

خملاستله د زمریانو منځ کې

هغې کړل لوی خپل بچیان

ځوانو زمریو منځ کې

۳ هغې لوی کړ یو بچی

او د هغه نه جوړ شو یو قوي زمری

او هغه زده کړ د ښکار چل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خوړل به یې انسانان

۴ واورېدل نورو قومونو د هغه په هکله

هغه یې راګېر کړ په خپلې کنده کې

مصر ته یې بوتلو په چنګکونو

۵ مور یې وویست انتظار هغه دپاره

چې راستون شي

خو امیدونه یې ټول له لاسه ورکړل

بیا هغې لوی کړلو خپل بل بچی

او هغه یې جوړ کړ یو قوي زمری

۶ چې کله ښه لوی شو

نو ګرځېده راګرځېده هغه نورو زمریانو سره

هغه هم زده کړل چې ښکار وکړي او وخوري انسانان

۷ هغه چپه کړې کلاګانې او ښارونه یې وران کړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې به کله غړمبېدلو هغه

نو هغه هېواد او ټول خلک به يې وېرېدل له هغه

٨ شول راټول سره قومونه چې جګړه ورسره وکړي

خلک راغلل له شاوخوا ولايتونو څخه

هغوی خپور کړ په هغه باندې خپل جال

او په خپله کنده کې يې راګېر کړ هغه

٩ هغه ته يې واچوله حلقه د اوسپنې

او هغه يې يووړ د بابل پاچا ته

په زندان کې يې بندي کړ هغه

چې بيا وانه ورېدل شي غورېدل د هغه

د اسراييلو په غرونو باندې

١٠ وه ستا مور د انګورو د تاک په شان

چې کرل شوی د ويالې په غاړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هلته وې پرېمانه اوبه

هغه تاک ډک ؤ له مېوو او ښانګو

۱۱ وې قوي د هغه ښانګې

او ورڅخه جوړه شوه شاهي امسا

هغه شو لوړ د نورو ونو څخه

ټولو ليدل چې څومره لوړ دی

او ډک د ښانګو څخه

۱۲ خو له بېخه وويستل شو تاک له ډېره قهره

او راګوزار شولو په ځمکه باندې

د ختيځ باد يې کړلې وچې مېوې

قوي ښانګه يې شوه وچه او وسوځېدله اور کې

۱۳ تاک کرل شوی اوس په دښته کې

په بې‌اوبو او وچه ځمکه کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ اور لګېدلی په تنه کې د تاک

او سوځولې یې دي ښاخونه او مېوې د هغه

هېڅ قوي ښانګه په هغه کې پاتې شوې نه ده

چې ورنه جوړه شي شاهي امسا»

دا د وير سندره ده او د وير په توګه کارول شوې ده.

## د اسراییلو د قوم پرله پسې نافرماني

**۲۰** ۱ دا زمونږ د جلاوطنۍ د اووم کال د پنځمې میاشتې لسمه ورځ وه. د اسراییلو د قوم یو
څو مشران راغلل او ماته مخامخ کښېناستل چې زما نه مشوره واخلي او د څښتن رضا معلومه
کړي. ۲ بیا څښتن ماته وویل: ۳ «ای فاني انسانه، د دې مشرانو سره خبرې وکړه او هغوی
ته ووایه چې څښتن تعالی داسې وايي: ‹ایا تاسو د دې دپاره راغلي یئ چې زما نه مشوره واخلئ؟
زه په خپل ذات باندې قسم خورم زه به تاسو پرېنږدم چې زما نه د کوم شي په هکله پوښتنه وکړئ.
ما څښتن تعالی داسې ویلي دي.›

۴ ای فاني انسانه، ایا دې ته تیار یې چې د اسراییلو مشرانو ته د سزا پرېکړه واورولې؟ نو
همداسې وکړه. د هغوی نیکونو چې کوم د کرکې وړ کارونه کړي دي، هغوی ورڅخه خبر کړه. ۵
هغوی ته ووایه چې زه څښتن تعالی هغوی ته داسې وایم: ‹کله چې ما د اسراییلو قوم غوره کړ، نو
خپل ځان مې هغوی ته په مصر کې ورښکاره کړ، د هغوی سره مې قسم وخوړ او هغوی ته مې
وویل چې زه ستاسو څښتن خدای یم. ۶ دا هغه وخت ؤ چې ما د اسراییلو د قوم سره قسم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی ۇ چې هغوی به د مصر نه وباسم او هغه وطن ته به یې بوځم چې د هغوی دپاره مې خوښن
کړی ۇ یعنې یو غني، حاصلخېزه او د ټولو نه ښه وطن ته.› (۷) هغوی ته مې وویل: ‹تاسو ټول
هغه د کرکې وړ بتان چې د مینې په سترګه ورته ګورئ، لېرې وغورځوئ او خپل ځانونه د مصر په
بتانو باندې ناپاکه نه کړئ، ځکه چې زه ستاسو خښتن خدای یم.› (۸) خو د اسراییلو قوم زما په
وړاندې سرکښې وکړه، ماته یې غوږ کېنښود او هېچا خپل هغه د کرکې وړ بتان چې دوی ورسره
مینه کوله، لېرې ونه غورځول او نه یې د مصر بتان پرېښودل. بیا مې پرېکړه وکړه چې په مصر کې
به د اسراییلو په قوم باندې خپل غضب نازل کړم او خپل قهر به ورباندې سوړ کړم. (۹) خو ما دا
کار د خپل نوم په خاطر ونه کړ. ما د مصر د قوم په مخکې چې اسراییلیان ورسره اوسېدل، هغوی
ته دا اعلان کړی ۇ چې هغوی به د مصر نه وباسم او دا مې نه غوښتل چې د مصریانو په نظر کې
زما سپکاوی وشي.

(۱۰) نو هغوی مې د مصر نه راوویستل او دښتې ته مې راوستل. (۱۱) هغوی ته مې خپل قوانین
ورکړل او خپل حکمونه مې ورته وښودل چې هرڅوک ورباندې عمل وکړي، نو هغوی به ژوندي
پاتې شي. (۱۲) برسېره پردې هغوی ته مې حکم وکړ چې زما د سبت د ورځې درناوی وکړي چې
دا به زمونږ ترمنځ د لوظ نښه وي او هغوی ته دا ور په یاد کړي چې ما خښتن هغوی سپېځلي کړي
دي. (۱۳) خو د اسراییلو قوم په دښته کې هم زما په وړاندې سرکښې وکړه. د اسراییلو قوم زما د
قوانینو څخه اطاعت نه دی کړی او زما حکمونه یې رد کړي دي، نو هرڅوک چې ورباندې عمل
وکړي، هغوی به ژوندي پاتې شي. د اسراییلو قوم په پوره توګه زما د سبت د ورځې بې عزتي وکړه.
نو ما وویل چې زه به په دښته کې اسراییلو ته خپل قهر وښایم او هغوی به ووژنم. (۱۴) خو ما دا
کار ونه کړ، ترڅو د هغو قومونو په مخکې چې زه یې لیدلی وم چې اسراییلیان مې د مصر نه
راوویستل، زما نوم سپک نه شي. (۱۵) نو برسېره پردې ما په دښته کې قسم وخوړ چې د اسراییلو
قوم به هغه وطن ته چې هغوی ته مې ورکړی ۇ او هغه یو غني، حاصلخېزه او د ټولو نه ښه وطن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی، بو نه ځم. ۱۶ ما داسې وويل چې هغوی زما حکمونه رد کړل، زما د قوانينو څخه يې اطاعت
نه کاوه او د سبت د ورځې بې‌عزتي يې وکړه، ځکه هغوی خپل زړونه خپلو بتانو ته ورکړل.

۱۷ خو بيا مې په هغوی باندې رحم وکړ. ما پرېکړه وکړه چې هغوی به په دښته کې ونه وژنم.
۱۸ خو د هغې په ځای مې د هغوی اولادونو ته په دښته کې وويل چې د خپلو نيکونو په قوانينو
او حکمونو باندې عمل مه کوئ او خپل ځانونه د هغوی په بتانو باندې مه ناپاکه کوئ. ۱۹ زه
ستاسو څښتن خدای يم. زما د قوانينو نه پيروي وکړئ او په غور سره زما په حکمونو باندې عمل
وکړئ. ۲۰ د سبت ورځ سپېڅلې وګڼئ، ترڅو دا د هغه لوظ نښه وي چې زموږ ترمنځ شوی دی
او بيا به تاسو پوه شئ چې زه ستاسو څښتن خدای يم.

۲۱ خو د اسراييلو اولادونو هم زما په وړاندې سرکښي وکړه. هغوی زما د قوانينو څخه اطاعت
ونه کړ او زما په حکمونو باندې يې په غور سره عمل ونه کړ، که هرڅوک په هغه باندې عمل
وکړي، نو ژوندی به پاتې شي. هغوی زما د سبت د ورځې بې‌عزتي وکړه. نو زه دې ته تيار وم چې
په دښته کې په هغوی باندې خپل غضب نازل کړم او خپل قهر به ورباندې سوړ کړم. ۲۲ خو ما دا
کار ونه کړ، ترڅو د هغو قومونو په مخکې چې زه يې ليدلی وم چې اسراييليان مې د مصر نه
راوويستل، زما نوم سپک نه شي. ۲۳ نو په هغې دښتې کې مې يو بل قسم وخوړ چې هغوی به په
نورو قومونو او وطنونو کې خواره واره کړم. ۲۴ دا کار ما ځکه وکړ چې هغوی زما حکمونه ونه
منل، زما قوانين يې مات کړل، د سبت د ورځې بې‌عزتي يې وکړه او د هماغو بتانو عبادت يې کاوه
چې نيکونو يې هم کاوه.

۲۵ برسېره پردې هغوی ته مې داسې قوانين ورکړل چې ښه نه وو او داسې حکمونه مې ورته
ورکړل چې ژوند بخښونکي نه وو. ۲۶ ما هغوی په هغو سوغاتونو باندې چې ماته يې راکړې دي،
ناپاکه کړل، کله چې هغوی خپل لومړني زېږول شوي اولادونه خپلو خدايانو ته د نذرانو په توګه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې کړل. نو ما داسې وکړل چې هغوی برباد کړم، ترڅو هغوی په دې پوه شي چې زه ښښتن
یم.

۲۷ نو ای فاني انسانه، اسراییلیانو ته ووایه چې زه ښښتن تعالی داسې وایم: ‹ستاسو نیکونو په بله
طریقه هم په بې‌وفایي سره زما سپکاوی وکړ. ۲۸ ما هغوی هغه وطن ته راوستل چې د هغوی
سره مې قسم کړی ؤ. نو کله چې هغوی لوړې غونډۍ او شنې ونې ولیدلې، نو هغوی هلته خپلې
قرباني وړاندې کړلې. هغوی د قربانیو د سوځولو په خوشبویي او ښښلو د نذرانو په راوړلو سره زه
په قهر کړم. ۲۹ ما د هغوی نه پوښتنه وکړه: ”دا لوړ لوړ د عبادت ځایونه چې تاسو ورته ورځئ،
هغه څه دي؟“ نو هغه ځایونه تر نن ورځې پورې د «بامه» یعني لوړ د عبادت ځای په نوم
یادیږي.› ۳۰ نو له دې امله اسراییلیانو ته ووایه چې ښښتن تعالی داسې وایي: ‹تاسو ولې په
هماغو ګناهونو باندې خپل ځانونه ناپاکه کوئ چې ستاسو نیکونو کړي وو او د هغوی د کرکې وړ
بتانو پسې منډې وهئ؟ ۳۱ حتی اوس هم تاسو هماغه سوغاتونه وړاندې کوئ، هماغو بتانو ته
خپل اولادونه په اور کې قرباني کوئ او خپل ځانونه په هغو بتانو باندې ناپاکه کوئ. بیاهم تاسو
اسراییلیان راځئ او پوښتنه کوئ چې زما رضا څه ده! زه ښښتن تعالی په خپل ذات باندې قسم
خورم چې زه به تاسو پرېنږدم چې زما څخه د کوم شي په هکله پوښتنه وکړئ. ۳۲ تاسو پرېکړه
کړې ده چې د هغو نورو قومونو په شان شئ چې په نورو وطنونو کې اوسیږي او د لرګیو او تیږو نه
جوړ شویو بتانو ته عبادت کوي. خو هېڅکله به ستاسو دا پرېکړه عملي نه شي.›»

## د خدای سزا او د هغه بخښنه

۳۳ «زه ښښتن تعالی په خپل ذات باندې قسم خورم چې زه به په خپل قهر او قوي مټو او ټول
قدرت سره په تاسو باندې پاچاهي وکړم. ۳۴ زه به تاسو په خپل قوي مټ، ټول قدرت او سخت
قهر سره د هغو وطنونو نه چې په کې خواره واره یئ، بېرته راولم او سره راټول به مو کړم. ۳۵ زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به تاسو «د قومونو دښتې» ته راولم، هلته به درسره مخامخ شم او تاسو به محاکمه کړم. ۳۶ څښتن تعالی داسې وايي زه به هماغه شان تاسو محاکمه کړم لکه څنګه چې مې ستاسو نيکونه د مصر سره نژدې په دښته کې محاکمه کړي وو.

۳۷ تاسو به مجبور کړم چې زما په لوظ باندې عمل وکړئ. زه به تاسو يو له بل نه داسې بېل کړم لکه څنګه چې شپون په خپل کوټک سره ښه او بد پسونه بېلوي. ۳۸ زه به ستاسو له منځ نه سرکښه او ګناهکار خلک لېرې کړم او هغوی به له هغو وطنونو نه چې اوس په کې اوسېږي وباسم، خو هغوی به پرېنږدم چې د اسراييلو هېواد ته بېرته ورستانه شي. بيا به تاسو پوه شئ چې زه څښتن يم.

۳۹ څښتن تعالی داسې ووېل: ‹ای اسراييليانو، اوس هر څه چې غواړئ هغه وکړئ، نو لاړ شئ او د خپلو بتانو خدمت وکړئ! خو زه تاسو ته خبرداری درکوم چې له دې وروسته به زما پيروي کوئ او خپلو بتانو ته د سوغاتونو په ورکولو سره زما د سپېڅلي نوم سپکاوی بس کړئ.› ۴۰ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زما په سپېڅلي غره باندې يعنې د اسراييلو په اوچت غره باندې به تاسو ټول اسراييليان زما عبادت کوئ. زه به هلته تاسو قبول کړم چې ماته اعانې، ډېر ښه سوغاتونه او خپلې سپېڅلې نذرانې راوړئ. ۴۱ کله چې ما تاسو د هغو وطنونو نه چې په کې خپاره يئ راولم او تاسو سره راټول کړم، نو زه به تاسو قبول کړم، لکه څنګه چې د سوځېدونکو نذرانو خوشبويي قبلوم. نو ټول قومونه به ووينې چې زه سپېڅلی يم. ۴۲ کله چې زه تاسو د اسراييلو هېواد ته چې ستاسو نيکونو سره مې قسم کړی ؤ، بېرته راولم، نو بيا به تاسو پوه شئ چې زه څښتن يم. ۴۳ بيا به تاسو ته هغه شرموونکي کارونه چې تاسو کړي دي او خپل ځانونه مو ورباندې ناپاکه کړي دي، در په ياد شي. تاسو به د خپلو بدو کارونو په سبب له خپلو ځانونو نه بېزاره شئ. ۴۴ کله چې زه ستاسو سره د خپل نوم په خاطر نرم چلند وکړم، نو بيا به تاسو پوه شئ چې زه څښتن يم، ځکه چې زه ستاسو د بدو عملونو او فاسدو کارونو له مخې چې تاسو يې لايق يئ، معامله نه کوم. څښتن تعالی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې ویلي دي.›»

## په جنوب کې اور

۴۵ څښتن ماته وویل: ۴۶ «ای فاني انسانه، خپل مخ د جنوب خواته واړوه او د هغه په ضد
خبرې وکړه او د جنوب خوا د ځنګلونو په ضد نبوت وکړه. ۴۷ د جنوبي خوا ځنګلونو ته ووایه
چې څښتن تعالی چې څه وايي هغو ته غوږ ونیسه: ‹ګوره، زه به اوس اور بل کړم او دا اور به ستا
تولې ونې وسوځوي که هغه شنې وي یا وچې وي. هېڅ شی به دا اور نه شي مړ کولای. هغه به د
جنوب نه تر شماله پورې خپور شي او هرچا ته به د هغه لمبې وروړسيږي. ۴۸ بیا به ټول خلک
پوه شي چې دا اور ما څښتن لګولی دی او هېڅوک يې نه شي مړ کولای.›»

۴۹ خو ما ګیله وکړه: «ای څښتن تعالی، ما مه مجبوروه چې دا کار وکړم! هغوی لا د مخکې نه دا
شکایت کوي چې زه تل هغوی ته معماګاني وایم.»

## د څښتن د قضاوت توره

۲۱ ۱ څښتن ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، خپل مخ د اورشلیم خواته واړوه. د
عبادتځایونو په ضد خبرې وکړه. د اسراییلو د هېواد په ضد نبوت وکړه. ۳ زه څښتن تاسو ته
داسې وایم: ‹ګورئ، زه ستاسو په ضد یم. زه به خپله توره د پوښ نه راوباسم او ټول نېک او بدکاره
خلک به ووژنم. ۴ ځکه چې زه ښه او بد خلک دواړه وژنم، زه به خپله توره د پوښ نه راوباسم
او د جنوب نه تر شماله پورې به د هرچا په وړاندې ورڅخه کار واخلم. ۵ بیا به ټول خلک پوه
شي چې ما څښتن خپله توره د پوښ نه راویستلې ده او هغه به بیا په پوښ کې نه ږدم.›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ای فاني انسانه، په مات زړه او نااميدۍ سره زګېروی وکړه. د خلکو په مخکې له غمه
فريادونه وکړه. ۷ کله چې درڅخه پوښتنه وکړي چې ولې زګېروی کوې، نو هغوی ته ووايه: ‹زه
ځکه زګېروي کوم چې بد خبرونه مې اورېدلي دي. کله چې هغه رښتيا شي، نو د هغوی په زړونو
کې به سخته وېره راپيدا شي، لاسونه به يې سست شي، روحيه به يې کمزورې شي او زنګنونه به يې
ورپېږي. ګورئ، هغه وخت راتلونکی دی او هغه به عملي کيږي. څښتن تعالی داسې ويلي دي.›»

۸ څښتن ماته وويل: ۹ «ای فاني انسانه، نبوت وکړه. خلکو ته ووايه چې زه څښتن داسې
وايم:

‹ما تېره کړې خپله توره او صيقل شوې هغه

۱۰ د وژلو په خاطر ده تېره شوې هغه

ده صيقل شوې چې وځلېږي لکه برېښنا په شان

خوشحالي به نه وي

ځکه چې قوم نه ده ساتلې پروا

زما د هر خبرداري او سزا

۱۱ نو ما يو چاته توره ورکړه چې صيقل کړي هغه

چې ترې واخيستل شي کار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده تېره شوې او صيقل شوې هغه

چې يو وژونکي ته په لاس ورکړل شي

۱۲ اى فاني انسانه، له غمه وکړه انګولا او وير

ځکه دا توره ويستل شوې زما د قوم په ضد

او د اسراييلو د مشرانو په ضد

هغوى به ووژل شي زما د پاتې ټولو خلکو سره

د نااميدۍ له لاسه ووهه خپل ځان

۱۳ ازمايل کيږي زما قوم

که هغوى وکړي انکار له توبې ويستلو

نو پېښ به شي دا هرڅه ورباندې

څښتن تعالى داسې ويلي دي.›

۱۴ نو اى فاني انسانه، نبوت وکړه. خپل لاسونه وپړکوه او دوه، درې ځلې په تورې باندې ګوزار
وکړه. دا هغه توره ده چې ډېر خلک وژني، داسې توره ده چې له هرې خوا حمله کوي. ۱۵ په
دې به زما قوم خپله روحيه له لاسه ورکړي او د وېرې به ولويږي. زه د هغوى د ښار ټولو دروازو
ته په يوې داسې تورې خبرداری ورکوم چې د برېښنا په شان ځليږي او د وژنې دپاره تياره ده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ ای تېرې تورې، ښې او چپ خواته ګوزار کوه! هرې خواته چې تاوېږې ګوزار کوه. ۱۷ زه
هم خپل لاسونه پړکوم او خپل قهر سړوم. ما څښتن داسې ویلي دي.»

## د بابل د پاچا توره

۱۸ څښتن ماته وویل: ۱۹ «ای فاني انسانه، په دوو لارو باندې چې د بابل پاچا د خپلې تورې
سره ورباندې راځي، د هغه ځای نقشه جوړه کړه. دواړه لارې باید د یو وطن نه پیل شي. په هغه
ځای کې چې دا لارې سره بېلېږي، نو هلته یوه نښه جوړه کړه. ۲۰ دا نښه به پاچا ته له یوې خوا
د عمونیانو د ربه د ښار لاره وښايي او له بلې خوا به د یهودا او د اورشلیم قوي شوي ښار ته د تللو
لاره وښايي. ۲۱ ځکه د بابل پاچا به د هغې نښې سره ودرېږي چې دا دوه لارې په کې بېلې
شوې دي. هغه به د لارې د معلومولو دپاره د غشو په خوځولو باندې پچه واچوي، د خپلو بتانو نه
به مشوره واخلي او د قربانۍ په اینې باندې به فال وګوري. ۲۲ د ښې خوا نښه اورشلیم ته د تللو
اشاره ورکوي. نو هغه به لاړ شي، د لرګیو درنې پایې به راواخلي، د جنګ نعره به ووهي، دروازو ته
به مخامخ د لرګیو درنې پایې ولګوي او د خاورو ډېرۍ او د کلابندۍ دېوال به جوړ کړي. ۲۳ د
اورشلیم خلک به په دې فال باندې باور ونه کړي چې د هغوی سره به داسې وشي، ځکه چې
هغوی ټولو د سولې ټینګ تړون کړی ؤ. خو دا به هغوی ته خپل ګناهونه ور په یاد کړي او د هغوی
دپاره به دا یو خبرداری وي چې دوی به ونیول شي. ۲۴ نو دا هغه څه دي چې زه څښتن تعالی
یې وایم: ‹ستاسو ګناهونه ښکاره شوي دي. هرڅوک پوهېږي چې تاسو څومره ګناهکاران یئ.
ستاسو هر عمل ستاسو د ګناه څرګندوونکی دی. تاسو مجرمان یئ او ستاسو دښمنان به تاسو په
زوره ونیسي.

۲۵ ای د اسراییلو فاسد او بدکاره واکمنه، ستا د سزا ورځ رارسېدلې ده او د اخرنۍ سزا ورځ دې
راروانه ده.› ۲۶ زه څښتن تعالی داسې وایم: ‹تاج او لونګۍ لېرې کړه. هرڅه به بدل شي. سپک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلک به درانه شي او درانه خلک به سپک شي! ۲۷ وراني! وراني! زه به ښار وران کړم. خوا تر
هغې پورې به دا کار ونه شي، ترڅو هغه څوک چې ما ښار ته د سزا ورکولو دپاره غوره کړی دی،
نه وي راغلی. بیا به یې هغه ته ورتسلیم کړم.›»

## د عمونیانو په خلاف توره

۲۸ «ای فاني انسانه، نبوت وکړه. اعلان وکړه چې زه څښتن تعالی عمونیانو ته چې د اسراییلیانو
سپکاوی کوي، وایم. هغوی ته ووایه:

‹یوه توره ستاسو د قتلولو دپاره تیاره ده

هغه صیقل شوې ده او د برېښنا په شان ځلیږي

۲۹ ستاسو پیغمبران غلطې رویاګانې بیانوي او هغه فالونه چې ویني، هغه دروغ دي. هغوی فاسد
او بدکاره خلک دي او د هغوی د اخرنۍ سزا وخت راغلی دی. هغه توره به د هغوی په ورمېږ
باندې راولویږي.›»

## د بابلیانو تباهي

۳۰ «‹خپله توره دې بېرته په پوښ کې کېږده! په کوم ځای کې چې ته پیدا شوی یې یعنې ستا د
زېږېدنې په اصلي ځای کې به درته سزا درکړم. ۳۱ زه به په تا باندې د خپل قهر بلېدونکی اور
واچوم او د خپل غضب د اور لمبې به په تا پو کړم. تا به داسې وحشي خلکو ته په لاس ورکړم چې
په تباهۍ کې مهارت لري. ۳۲ ته به د اور دپاره د سوځېدلو مواد شې. وینه به دې په خپل هېواد
کې تویه شي او هېڅوک به دې نور نه یادوي.› څښتن داسې ویلي دي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۲۲

۱ څښتن ماته وويل: ۲ «ای فاني انسانه، ايا ته تيار يې چې د وينې توپونې ښخه د
ډک ښار په هکله قضاوت وکړې؟ هغه ته خپل ټول د کرکې وړ کارونه چې کړي يې دي، ور په ياد
کړه. ۳ دې ښار ته ووايه چې زه څښتن تعالی داسې وايم: ‹ای ښاره! په دې خاطر چې تا د
ډېرو خلکو وينه تويه کړې ده او بتانو ته په عبادت کولو سره دې خپل ځان ناپاکه کړی دی، نو ستا
د سزا وخت راروان دی. ۴ ته د دې وينې تويونې په سبب ګناهکار يې او د هغو بتانو په خاطر
چې تا جوړ کړي دي، خپل ځان دې ناپاکه کړی دی، نو تا د خپلې سزا ورځې رانژدې کړې دي او
وخت دې پوره شوی دی! ځکه نور قومونه مې پرېښودل چې ملنډې درباندې ووهي او ټول وطنونه
دې مسخره کړي. ۵ ټول خلک د لېرې او نژدې وطنونه په تا باندې ملنډې وهي، ځکه چې ته
بدنامه او ګډوډ ښار يې.

۶ د اسراييلو ټول مشران د خپل قدرت نه کار اخلي او د خلکو وينه تويوي. ۷ په تا کې
خلک د خپل مور او پلار سپکاوی کوي. دوی د پرديو خلکو سره زياتی کوي او د يتيمانو او کونډو
سره بد چلند کوي. ۸ تا زما د سپېڅلو شيانو سپکاوی کړی دی او د سبت د ورځې بې عزتي
دې کړې ده. ۹ ستا ځينې خلک په نورو باندې په دروغو تهمت لګوي چې ووژل شي. ځينې
خلک د هغو قربانيو غوښې خوري چې په غرونو باندې بتانو ته وړاندې کيږي. ځينې په تا کې
شهوت پرستي کوي. ۱۰ ځينې خلک د خپل پلار د ښځې سره خملي. ځينې خلک د مياشتينې
عادت په وخت کې ښځې مجبوروي چې ورسره يوځای شي. ۱۱ ځينې د خپل ګاونډي د ښځې
سره زنا کوي او نور د خپل زوی د ښځې سره نامشروع اړيکې لري او نور خلک خپله ناسکه خور
مجبوروي چې ورسره خملي. ۱۲ ستا ځينې خلک د رشوت په بدل کې وينه تويوي. ځينې خلک
چې خپلو اسراييليانو ورونو ته پور ورکوي، نو د هغه سود اخلي او د هغو نه د مال په غصب کولو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره خپل ځانونه شتمن کوي. هغوی زه هېر کړی يم. څښتن تعالی داسې ويلي دي.

١٣ ګوره، په دې خاطر چې تا نامشروع ګټې کړې دي او د هغو وينو تويونو له امله چې په تا کې
شوي دي، زه به خپل لاس په تا باندې اوچت کړم. ١٤ کله چې زه تا سره خپل حساب تصفيه
کړم، نو ته به خپل همت له لاسه ورکړې او دومره به کمزورې شې چې ته به ونه شې کولای خپل
لاسونه اوچت کړې. ما څښتن داسې وويل. څه چې ما وويل زه به هماغسې وکړم. ١٥ زه به ستا
خلک په نورو قومونو او وطنونو کې خواره واره کړم او ستا ناپاکي به له منځه يوسم. ١٦ نور
قومونه به ستا د خلکو د کارونو له امله ستا سپکاوی کوي، خو ته به پوه شې چې زه څښتن يم.››»

## په داش کې ويلي کېدل

١٧ څښتن ماته وويل: ١٨ «ای فاني انسانه، اسراييليان ماته د بېکاره برنجو، قلعي، اوسپنې او
سرپو په شان شوي دي چې په داش کې د سپينو زرو د چټلو نه وروسته بېلېږي. ١٩ نو زه
څښتن تعالی تاسو ته داسې وايم چې تاسو د هماغو شيانو په شان بېکاره يئ. نو زه به تاسو ټول په
اورشليم کې راټول کړم ٢٠ لکه څنګه چې سپين زر، برنج، اوسپنه، سرپ او حلبي په داش کې
اچوي او اور تېزوي، ترڅو ويلي يې کړي. زما قهر او غضب به تاسو داسې ويلي کړي لکه څنګه
چې اور فلزي مواد ويلي کوي. ٢١ هو، زه به تاسو په اورشليم کې سره راټول کړم، په تاسو باندې
به د خپل قهر اور تېز کړم او تاسو به ويلي کړم. ٢٢ تاسو به په اورشليم کې داسې ويلي شئ لکه
سپين زر چې په داش کې ويلي کېږي، نو بيا به تاسو ته د څښتن قهر درمعلوم شي.»

## د اسراييلو د مشرانو ګناهونه

٢٣ څښتن يوځل بيا ماته وويل: ٢٤ «ای فاني انسانه، د اسراييلو هېواد ته ووايه چې ته ناپاکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هېواد يې او زما د قهر په وخت کې به په تا باران ونه اورېږي. ۲۵ د اسراييلو پيغمبران دسيسې
جوړوي. هغوی د هغو زمريانو په شان دي چې په هغو حيواناتو باندې غورېږي چې هغوی وژلي
دي. هغوی خلک وژلي، پيسې او جايداد يې ورڅخه اخيستی دی او په خپلو قتلونو سره يې په
هېواد کې ډېرې ښځې کونډې کړې دي. ۲۶ کاهنان زما قانون ماتوي او د سپېڅلو شيانو بې عزتي
کوي. هغوی د سپېڅلو او عادي شيانو تر منځ فرق نه کوي او د پاکو او ناپاکو شيانو د توپير په اړه
تعليم نه ورکوي. د سبت د ورځې پروا نه ساتي. نو نتيجه يې دا شوه چې د اسراييلو خلک زما
سپکاوی کوي. ۲۷ د هغوی مشران د هغو لېوانو په شان دي چې کوم حيوانات چې د هغوی وينه
دې تويه کړې وي، هغه ټوټې ټوټې کوي. هغوی د دې دپاره دا قتلونه کوي چې نامشروع ګټه
ترلاسه کړي. ۲۸ پيغمبرانو دا ګناهونه داسې پټ کړي او سپين کړي دي، لکه څوک چې په چونه
باندې دېوال سپينوي. هغوی د دې مشرانو دپاره غلطې روياګانې ويني او د دروغو پېشګوياني کوي.
هغوی دعوه کوي چې دوی د څښتن تعالی له خوا خبرې کوي، خو ما څښتن د هغوی سره خبرې
نه دي کړې. ۲۹ د اسراييلو خلک غصب او غلا کوي. هغوی د غريبانو سره ظلم کوي او د پرديو
خلکو سره زورزياتی او د هغوی نه غلطه ګټه اخلي. ۳۰ ما په هغوی کې يو داسې کس لټاوه چې
دېوال جوړ کړي او په هغه ځای کې ودرېږي چې دېوالونه راغورځېدلي وي او کله چې زه د خپل
قهر په وخت کې دا وطن ورانوم د هغه نه دفاع وکړي، خو هېڅوک مې پيدا نه کړ. ۳۱ نو زه به په
هغوی باندې خپل قهر نازل کړم او د هغو کارونو سره سم چې هغوی کړي دي، د خپل غضب په اور
کې به يې له منځه يوسم.» څښتن تعالی داسې ويلي دي.

## ګناهکارې خويندې

۲۳ ۱ څښتن ماته وويل: ۲ «ای فاني انسانه، يوه مور وه چې دوه لورګانې يې درلودلې.
۳ کله چې هغوی ځوانې وې او په مصر کې اوسېدلې، هغوی خلک پرېښودل چې د دوی د سينو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره لوبې وکړي، په دې ډول يې خپل پېغلتوب له لاسه ورکړ او بدلمنې شوې. ۴ د مشرې نوم يې اهوله وه چې د سامرې معنی ورکوي او د کشرې نوم يې اهوليبه وه چې د اورشليم معنی ورکوي. ما د هغو دواړو سره واده وکړ او د هغوی نه مې زامن او لورګانې پيدا شوې.

۵ که څه هم اهوله زما ښځه وه، خو هغې خپل بدلمنتوب کاوه او شوق يې درلود چې د خپلو عاشقانو يعنې آشوري جنګياليانو سره شهواني اړيکې ولري. ۶ هغوی عسکر وو او بانجاني کالي يې اغوستي وو، واليان او لوړرتبه مامورين وو، دا ټول ښکلي ځوانان او اس سپاره وو. ۷ هغې د آشوريانو سره بدلمني کوله چې ټول يې منصبداران وو او د هغې شهوت پرستي د دې سبب شوه چې خپل ځان د آشوريانو بتانو ته په عبادت کولو سره ناپاکه کړي. ۸ هغې چې کوم بدلمنتوب په مصر کې پيل کړی ؤ، د هغې نه يې لاس وانخيست. هلته يې خپل پېغلتوب له لاسه ورکړی ؤ. د ځوانۍ د وخت نه به خلکو د هغې د سينو سره لوبې کولې او د هغې سره يې شهواني اړيکې لرلې.
۹ نو هغه مې خپل آشوري عاشقانو ته چې د هغوی سره يې زياتې شهواني اړيکې غوښتلې، ورتسليمه کړه. ۱۰ هغوی هغه لوڅه کړه، د هغې زامن او لورګانې يې ونيولې او هغه يې په توره باندې ووژله. په هرځای کې به ښځو د هغې د سرنوشت او سزا په هکله خبرې کولې.

۱۱ که څه هم د هغې خور اهوليبه دا هرڅه وليدل، خو بياهم هغه په خپل شهوت او بدلمنتوب کې د خپلې خور اهولې نه هم زياته فاسده شوه. ۱۲ هغې هم د آشوريانو په هغو واليانو، لوړرتبه مامورينو او عسکرو چې ښکلي کالي يې اغوستي وو او په اسونو سپاره وو، غوښتل چې د هغوی سره شهواني اړيکې ولري. دا ټول زړه وړونکي ځوانان وو. ۱۳ ما وليدل چې هغه بيخي بداخلاقه شوه او دوهمه خور يې هم د اولنۍ خور لاره غوره کړه.

۱۴-۱۵ هغه د خپلې خور نه هم زياته بداخلاقه شوه. هغه د بابليانو د منصبدارانو د هغو تصويرونو لېواله شوه چې په دېوالونو باندې ويستل شوي وو او هغو ته تک سره رنګونه ورکړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوي وو. د هغوی د ملاګانو نه پټې تاوې شوې وې او ښایسته لونګۍ ګانې یې په سر وې. ۱۶ څنګه چې هغې دا ولیدل، نو هغې غوښتل چې د هغوی سره شهواني اړیکې ولري او هغوی پسې یې قاصدان بابل ته ولېږل. ۱۷ بابلیان راغلل او د هغې سره یې زنا وکړه. هغه یې په خپل شهوت ناپاکه کړه او وروسته هغه ورڅخه بېزاره شوه او د هغوی نه یې مخ واړاوه. ۱۸ هغې په ښکاره ځان لوڅاوه او بدلمنتوب یې کاوه. نو زه د هغې نه دومره بېزاره شوم چې خپل مخ مې ترې واړاوه، لکه څنګه چې د هغې د خور نه بېزاره شوی وم او خپل مخ مې ترې اړولی ؤ. ۱۹ هغه د بل هر وخت نه هم زیاته بدلمنه شوه او داسې بدلمنتوب یې کاوه، لکه څنګه چې هغې د خپلې ځوانۍ د دوران په یاد په مصر کې کاوه. ۲۰ هغې د هغو شهوت پرسته خلکو هوس کاوه چې د هغوی تناسلي الې د خره او انزال یې د اس په شان زیات ؤ. ۲۱ نو ای اهولیبې، تا غوښتل چې خپله هغه بداخلاقي تکرار کړې چې په پېغلتوب کې دې په مصر کې کاوه یعنې چېرته چې سړیو ستا د سینو سره لوبې کولې.»

## د کشرې خور اهولیبه په هکله د خښتن قضاوت

۲۲ «نو ای اهولیبې، زه خښتن تعالی تاته داسې وایم: ګوره، ستا په وړاندې به هغه عاشقان راپورته کړم چې ورڅخه بېزاره شوې یې او مخ دې ورڅخه اړولی دی. هغوی به د هرې خوا نه په تا باندې راولم. ۲۳ زه به بابلیان، کلدانیان او د فقود، شوع او قوع سړي او ورسره ټول آشوریان راولم. دا به ټول ښکلي ځوانان وي، دا به والیان، لوړرتبه مامورین او منصبداران وي، هغوی به ټول په اسونو سپاره وي. ۲۴ هغوی به د یو لوی لښکر، جنګي او د سامان وړلو ګاډیو سره د شمال له خوا په تا باندې حمله وکړي. هغوی به تا کلابند کړي او د وړو او لویو سپرونو او د زغرو د خولیو په وسیله به د خپل ځان ساتنه وکړي. زه به تا هغوی ته په لاس ورکړم او تاته به د خپل قانون له مخې سزا درکړي. ۲۵ په دې خاطر چې زما غیرت راپارېدلی دی، نو زه به هغوی پرېږدم چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا سره د ډېر قهر نه کار واخلي. هغوی به ستا پوزه او غوږونه پرې کړي او ستا اولادونه به ووژني.
هو، هغوی به ستا زامن او لورګانې بوځي او هغوی به ژوندي وسوځوي. ۲۶ هغوی به ستا نه کالي
وباسي او ستا ښکلي زېورات به درځخه واخلي. ۲۷ نو زه به ستا شهوت پرستي او بدلمنتوب چې
د مصر نه دې له ځان سره راوړی دی، پای ته ورسوم. ته به نور بتانو ته نه ګورې او نه به د مصر په
هکله فکر کوې.›

۲۸ زه ښښتن تعالی داسې وایم: ‹زه به تا هغو خلکو ته په لاس ورکړم چې ورځخه کرکه کوې،
ورځخه بېزاره شوې او د هغوی نه دې مخ واړاوه. ۲۹ په دې خاطر چې هغوی ستا نه کرکه کوي،
نو هغوی به ستا نه هغه ټول شیان واخلي چې د هغو دپاره دې زحمت ویستلی دی او هغوی به د
یوې بدلمنې په شان تا لوڅه پرېږدي. دا هرڅه ستا شهوت او ستا بدلمنتوب ۳۰ په تا باندې
راوستلي دي. ته د ټولو قومونو دپاره بدلمنه یې او د هغوی په بتانو باندې دې خپل ځان ناپاکه کړی
دی. ۳۱ ته د خپلې خور په لاره باندې روانه شوې، نو زه به د سزا هماغه پیاله تاته درکړم چې
ویې ښښې.›»

۳۲ «ښښتن تعالی داسې وایي:

‹ته به وښښې د خپلې خور له پیالې

هغه ده غټه او ژوره

هرڅوک به تا پسې کوي خندا

او وهي ملنډې به په تا باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې ډکه ده هغه پیاله

٣٣ هغه به تا کاندي غمجن او نشه

د وحشت او نابودۍ هغه پیاله

ستا د خور سامرې پیاله

٣٤ هغه به وڅښې او خالي به یې کړې

وبه ژوې د هغې ماتې ټوټې

او پرې به کړې خپله سینه›

ما څښتن تعالی داسې ویلي دي.

٣٥ نو څښتن تعالی داسې وایي: ‹په دې خاطر چې تا زه هېر کړی یم او ماته دې شا اړولې ده، نو
ته به د خپلې شهوت پرستۍ او خپل بدلمنتوب په سبب کړېږې.›»

## د دواړو خویندو په هکله د څښتن قضاوت

٣٦ څښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، اهوله او اهولیبه محاکمه کړه. هغوی د هغو کرکې وړ
کارونو په سبب چې کړي یې دي، ملامته کړه. ٣٧ هغوی زنا کړې ده او لاسونه یې د خلکو په
وینو باندې سره دي. هغوی د بتانو په عبادت کولو سره زما په وړاندې زنا کړې ده. هغه زامن یې
قتل کړي دي چې ماته یې زېږولي وو او هغوی یې د خوړو په توګه بتانو ته قرباني کړل. ٣٨

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی نور کارونه هم کړي دي. په هماغه وخت کې هغوی زما د عبادت ځای ناپاکه کړ او د سبت د
ورځې بې‌عزتي يې وکړه. ۳۹ په هماغه ورځ چې هغوی زما اولادونه خپلو بتانو ته د قربانۍ دپاره
ووژل، هغوی زما عبادتځای ته راغلل او د هغه سپکاوی يې وکړ. دا هغه څه دي چې هغوی زما په
کور کې وکړل.

۴۰ حتی هغوی استازي ولېږل چې د لېرې لېرې ځايونو نه سړي راوبولي او کله چې هغوی
راغلل، دواړو خويندو خپل ځانونه ووينځل، سترګې يې تورې کړلې او ګاڼې يې واچولې. ۴۱
هغوی په ښايسته کوچونو باندې کښېناستلې او د کوچونو په مخکې يو مېز تيار شوی ؤ چې په مېز
باندې خوشبويي او د زيتونو تېل چې ما ورته ورکړي وو، ايښي وو. ۴۲ د هغوی شاوخوا نه د
عياشو خلکو د ډلې اواز اورېدل کېده، دا د هغو سړيو ډله وه چې د دښتې نه يې راوستلي وو. هغوی
ښځو ته بنګړي په لاس کړل او ښکلي تاجونه يې ورته په سرونو باندې کېښودل. ۴۳ نو ما د
خپل ځان سره ووېل سره له دې چې هغه ښځې د زنا کولو نه ستړې شوې دي، خو بياهم هغه سړي
ورځخه د بدلمنې په توګه کار اخلي. ۴۴ هغوی دې دوه بدلمنو يعنې اهوله او اهوليبه ته ورغلل
چې شهوت پرسته ښځې وې. ۴۵ خو نېک خلک به هغوی د زناکارۍ او قتلونو له امله محکوم
کړي، ځکه چې هغوی زنا کوي او لاسونه يې په وينو باندې سره دي.

۴۶ نو څښتن تعالی داسې وايي: يو لښکر راولئ چې هغوی سخت ووېروي او لوټ يې کړي. ۴۷
هغه ډله به هغوی سنګسار کړي او په خپلو تورو باندې به د هغوی بدنونه ټوټې ټوټې کړي. د هغوی
زامن او لورګانې به ووژني او کورونه به يې وسوځوي. ۴۸ نو زه به ټول وطن کې شهوت پرستي
پای ته ورسوم او دا به ټولو ښځو ته يو خبرداری وي چې د هغوی په شان شهوت پرستي ونه کړي.
۴۹ ای دواړو خويندو، زه به تاسو ته ستاسو د شهوت پرستۍ او بتانو ته د عبادت کولو د ګناه په
خاطر سزا درکړم. بيا به تاسو پوه شئ چې زه څښتن تعالی يم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۲۴

۱ زمونږ د جلاوطنۍ د نهم کال د لسمې مياشتې په لسمه ورځ خښتن ماته ووېل: ۲
«ای فاني انسانه، ننني نېټه وليکه. هو همدا ورځ، ځکه چې د بابل پاچا نن ورځ د اورشليم په کلابند
کولو باندې پيل کړی دی. ۳ دې سرکښه قوم ته دا مثال ووايه چې زه خښتن تعالی يې هغوی ته
بيانوم:

‹دېګی کېږدئ په اور باندې

او په کې واچوئ اوبه

۴ په کې واچوئ د غوښې ښې ټوټې

د ورانه او د اوږو غوښه

هغه کړئ ډک د ډېرو ښو غوښو نه

چې لري هډوکي

۵ واخلئ رمې نه ډېر ښه پسه

کېږدئ لرګي د دېګي لاندې

پرېږدئ چې ښه جوش شي اوبه

کړئ پاخه غوښه او هډوکي›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ خښتن تعالی داسې وايي: ‹افسوس د خونړي ښار په حال! دا د داسې زنګ وهلې دېګې په
شان دی چې هېڅکله نه پاکېږي. ټوټه ټوټه غوښه ورڅخه وباسئ چې يوه ټوټه هم په کې پاتې نه
شي. ۷ ځکه د اورشليم خلکو په ښار کې بې‌ګناه خلک ووژل، خو وينه يې په ځمکې باندې
تويه نه شوه چې په خاورو کې پټه شوې وای، هغه په ګټ باندې تويه شوه چې ټول يې ويني.
۸ د دې دپاره چې زه په قهر شم او بدل واخلم، نو هغه وينه مې په هغه ګټ باندې پرېښودله
چې پټه نه شي.›»

۹ نو خښتن تعالی داسې وايي: «افسوس د خونړي ښار په حال! زه به هم د هغه لاندې د
سوځولو دپاره د لرګيو ډېرى جوړه کړم. ۱۰ نو ډېر لرګي راوړئ او اور بل کړئ! غوښه ښه پخه
کړئ، مساله په کې واچوئ او تر هغې پورې يې وخوټوئ چې اوبه يې وچې شي او هډوکي
وسوځي. ۱۱ بيا هغه د برنجو خالي دېګی د سکارو په اور باندې کېږدئ او هغه پرېږدئ چې تک
سور شي. بيا به د هغه زنګ وسوځي او هغه به بېرته پاک شي. ۱۲ خو ما بې‌ګټې ځان ستړی کړ،
ځکه دېګی لا پاک شوی نه دی. هغه چټلي په اور کې بيا واچوئ چې پاکه شي. ۱۳ ای
اورشليمه، ته خپلې شهوت پرستی ناپاکه کړی يې. سره له دې ما هڅه وکړه چې تا پاک کړم، خو ته
هماغسې ناپاکه پاتې شوې. ترڅو پورې چې تا زما د قهر زور نه وي ليدلی، ته به بېرته پاک نه شې.
۱۴ ما خښتن داسې وويل. د عمل وخت رارسېدلی دی. زه به د سزا ورکولو څخه ډډه ونه کړم، نه
به درباندې زړه وسوځوم او نه به درباندې رحم وکړم. بلکې تاسو چې کوم کارونه کړي دي، د هغو
له امله به تاسو محاکمه کړم. زه خښتن داسې وايم.»

## د حزقيال نبي د ښځې مړينه

۱۵ خښتن ماته وويل: ۱۶ «ای فاني انسانه، زه به د سترګو په رپ کې ستا ښځه چې په تا
باندې ډېره ګرانه او د سترګو تور دی، ستا نه واخلم. خو ته وير مه کوه، مه ژاړه او اوښکې مه تويوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ستا اسوېلي باید ونه اورېدل شي. له غمه سرتور سر او لوڅې پښې مه ګرځه. له غمه خپل مخ
مه پټوه او د مړي د کور ډوډۍ مه خوره.»

۱۸ نو بیا مې د سهار په وخت د خلکو سره خبرې وکړې او ماښام زما ښځه مړه شوه. بله ورځ
مې هماغسې وکړل لکه څنګه چې څښتن راته ویلي وو. ۱۹ خلکو زما نه پوښتنه وکړه: «دا
کارونه مونږ ته څه معنی لري او ولې مونږ ته نه وایې؟»

۲۰ نو ما هغوی ته وویل: «څښتن زما سره خبرې وکړې او راته ویې ویل ۲۱ چې څښتن تعالی
تاسو اسراییلیانو ته دا پیغام لري: ‹زه اوس د خپل سپېڅلي عبادت ځای سپکاوی کوم او هغه د
قوت مقام چې تاسو ورباندې ویاړ کاوه، ورانوم. ستاسو د سترګو تور او د مینې د پام وړ ځای تباه
کوم. ستاسو زامن او لورګانې چې په اورشلیم کې پاتې شوي دي، هغوی ټول به په جنګ کې ووژل
شي. ۲۲ بیا به تاسو زما په شان هماغسې وکړئ. له غمه به خپل مخ نه پټوئ او نه به د مړي د
کور ډوډۍ خورئ. ۲۳ تاسو به سرتور سر او لوڅې پښې نه ګرځئ او نه به ویر او ژړا کوئ. تاسو
به یو بل ته فریادونه کوئ او د خپلو ګناهونو له امله به کمزوري کېږئ، ترڅو له منځه لاړ شئ. ۲۴
بیا به حزقیال ستاسو دپاره یو مثال وي چې پیروي ورڅخه وکړئ، هغه چې څه کوي تاسو به هم
هماغسې کوئ. څښتن وایي چې کله داسې وشي، نو تاسو به پوه شئ چې زه څښتن تعالی یم.›»

۲۵ څښتن وویل: «ای فاني انسانه، زه به د هغوی نه هغه قوي کلا چې هغوی ورباندې ویاړ او
خوشحالي کوي او د هغه په لیدلو خوند اخلي، واخلم او د هغوی نه به زامن او لورګانې هم واخلم.
۲۶ په هغه ورځ چې زه دا کار کوم، نو څوک چې د دې تباهۍ نه تښتېدلی وي، هغه به راشي او
په دې هکله به خبر ورکړي. ۲۷ په هماغه ورځ به ته بیا خبرې وکولای شې او نور به ګونګی
پاتې نه شې. نو کوم څه چې ستا سره پېښېږي، هغه به د خلکو دپاره یوه نښه شي او هغوی به په
دې پوه شي چې زه څښتن یم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عمون په ضد نبوت

# ۲۵

۱ څښتن ماته وويل: ۲ «ای فاني انسانه، خپل مخ د عمونيانو خواته واړوه او د هغوی
په ضد نبوت وکړه. ۳ هغوی ته ووايه زه څښتن تعالی هرڅه چې وايم هغو ته غوږ ونيسئ: ‹کله
چې تاسو زما د عبادت د ځای سپکاوی او د اسراييلو د هېواد ورانېدل وليدل او تاسو وليدل چې د
يهودا قوم د جلاوطنو په توګه بوتلل شول، نو خوشحاله شوئ. ۴ نو په دې خاطر چې تاسو
خوشحاله وئ، زه به د ختيځې دښتې قبيلو ته اجازه ورکړم چې په تاسو باندې بريالي شي. هغوی به
ستاسو په وطن کې خېمې ودروي او هلته به واوسيږي. هغوی به ستاسو مېوې وخوري او ستاسو
شيدې به وڅښي. ۵ زه به د ربه ښار د هغوی اوښانو په څرځای باندې بدل کړم او د عمون ټول
وطن به په يو داسې ځای بدل کړم چې د هغوی پسونه په کې ساتل کيږي، نو بيا به تاسو پوه شئ
چې زه څښتن يم.›

۶ نو څښتن تعالی داسې وايي: ‹په دې خاطر چې تاسو د اسراييلو د هېواد په تباهۍ لاسونه
وپړکول او د خوشحالۍ نه مو ټوپونه ووهل، ۷ نو له دې امله زه به ستاسو په ضد خپل قدرت
وکاروم او تاسو به نورو قومونو ته تسليم کړم چې لوټ او تالا مو کړي. زه به تاسو بيخي له منځه
يوسم چې نور د يو قوم په توګه پاتې نه شئ او نه به خپل وطن ولرئ. بيا به تاسو پوه شئ چې زه
څښتن يم.›»

## د موآب او ادوم په ضد نبوت

۸ «څښتن تعالی داسې وويل: ‹څرنګه چې موآبيانو او ادوميانو ويلي وو چې يهودا د نورو ټولو
قومونو څخه ښه نه دی، ۹ نو په دې خاطر به زه اجازه ورکړم چې په هغو ښارونو باندې چې د
موآب د سرحدونو نه دفاع کوي، حمله وشي چې په هغو کې د هېواد ښکلي ښارونه يعني

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیت‌یشیموت، بعل معون او قیریتایم شامل دي. ۱۰ زه به د ختیځې دښتې قبیلو ته اجازه ورکړم
چې موآب او عمون یوځای سره فتح کړي، چې عمون نور د یو قوم په توګه یاد نه شي. ۱۱ زه به
موآبیانو ته سزا ورکړم او هغوی به په دې پوه شي چې زه څښتن یم.›»

## د ادوم په ضد نبوت

۱۲ «څښتن تعالی داسې وویل: ‹د ادوم خلکو د یهودا نه په بې‌رحمانه توګه بدل واخیست او په
دې کار باندې ادوم سخت ګناهکار شو. ۱۳ نو په دې خاطر زه دا اعلان کوم چې ادوم ته به سزا
ورکړم او د هغه ځای انسانان او حیوانات به ووژنم. زه به هغه وطن د تیمان د ښار نه نیولې د ددان
تر ښاره پورې وران او په کنډوالو باندې بدل کړم او خلک به یې په جنګ کې ووژل شي. ۱۴ زما
قوم اسراییل به زما په خاطر د ادوم نه بدل واخلي او په دې کار به هغوی ادومیانو ته زما سخت قهر
وروښايي. نو ادوم به په دې پوه شي چې دا بدل اخیستنه زما له خوا ده.› څښتن تعالی داسې ویلي
دي.›»

## د فلسطین په ضد نبوت

۱۵ «څښتن تعالی داسې وویل: ‹فلسطینیانو د خپلو زړو دښمنانو نه په بې‌رحمانه توګه بدل
واخیست او د هغې کینې له امله چې په زړونو کې یې ورسره لرله، غوښتل یې چې هغوی له منځه
یوسي. ۱۶ نو په دې خاطر زه دا اعلان کوم چې په فلسطینیانو باندې به حمله وکړم او هغوی به
ورک کړم. کریتیان او پاتې خلک چې د بحیرې په غاړه اوسیږي، هغوی به هم له منځه یوسم. ۱۷
زه به هغوی ته سخته سزا ورکړم او د هغوی نه به پوره بدل واخلم. هغوی ته به زما قهر معلوم شي.
بیا به هغوی پوه شي چې زه څښتن یم.›»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د صور په ضد نبوت

۲۶ ۱ زمونږ د جلاوطنۍ په يوولسم کال، د مياشتې په لومړۍ ورځ، څښتن ماته وويل: ۲
«اې فاني انسانه، د صور د ښار خلک وايي: ‹واه، واه، اورشليم سقوط کړى دى! هغه مخکې د
سوداګرۍ يو پياوړى مرکز ؤ، خو اوس هغه وران شوى دى. نو مونږ کولاى شو دا ځاى د سوداګرۍ
دپاره واخلو او شتمن شو.›

۳ نو زه څښتن تعالى داسې وايم: ‹اې د صور ښاره، زه ستا په ضد يم. زه به ډېر قومونه درولېږم
او هغوى به د بحيرې د څپو په شان راشي او په تا باندې به حمله وکړي. ۴ هغوى به ستا د ښار
دېوالونه وران کړي او ستا برجونه به راوغورځوي. خاوره به دې لرې کړم چې يوازې لوڅ ګټ پاتې
شي.› ۵ هغه به د بحيرې په منځ کې په يو داسې ځاى بدل شي چې ماهيګيران به په کې جالونه
غوړوي. ما څښتن تعالى داسې ويلي دي. قومونه به د صور ښار لوټ کړي، ۶ او هغوى به هغه
خلک چې د صور د جزيرې په نژدې ښارونو کې اوسېږي، په خپلو تورو باندې ووژني. نو بيا به
صور پوه شي چې زه څښتن يم.

۷ څښتن تعالى داسې وايي: ‹زه به د بابل پاچا نبوکدنصر چې د پاچاهانو پاچا دى، د خپل لوى
لښکر سره چې په هغه کې اسونه، جنګي ګاډۍ او سپاره عسکر دي، راولم او په صور باندې به
حمله وکړي. ۸ کوم خلک چې د صور د جزيرې په نژدې ښارونو کې اوسېږي، هغوى به په
جنګ کې ووژل شي. دښمنان به ستا په وړاندې د کلابندۍ دېوال جوړ کړي، د خاورو ډېرۍ به
جوړې کړي او د ځانونو د ساتنې دپاره به د سپرونو دېوال جوړ کړي. ۹ نبوکدنصر به خپلو څو
لښکرو ته امر وکړي چې د درنو پايو نه کار واخلي او ستا دېوالونه به ورباندې ووهي او ستا برجونه
به په جبلونو باندې راوغورځوي. ۱۰ د هغوى سره به دومره زيات اسونه وي چې په دوړو باندې
به يې تا پټ کړي. کله چې اس سواران، بګۍ او جنګي ګاډۍ ښار ته ورننوځي چې دروازې يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ماتې شوې وي، نو د هغوی شورماشور به ستا دېوالونه ولړزوي. ۱۱ د بابليانو د اسونو سومونه به
ستا ټولې کوڅې تر پښو لاندې کړي او هغه به په خپلو تورو باندې خلک ووژني. ستا قوي قوي
ستنې به په ځمکه باندې راوغورځوي. ۱۲ هغوی به ستا شتمني او د سوداګرۍ مال لوټ کړي.
ستا دېوالونه به راوغورځوي او ستا ښکلي کورونه به وران کړي. هغوی به ستا تيږې، لرګي او
خاورې بحيرې ته ورګوزار کړي. ۱۳ زه به ستا د ټولو سندرو ساز او اواز خاموش کړم او نور به
ستا د رباب ساز نه اورېدل کيږي. ۱۴ زه به ستا څخه يو لوڅ ګټ جوړ کړم چې ماهيګيران به
درباندې جالونه وغوړوي. ته به بيا هېڅکله اباد نه شې. زه چې څښتن تعالی يم داسې مې ويلي
دي.›

۱۵ څښتن تعالی د صور ښار ته داسې وايي: ‹کله چې تاته سقوط درکول کيږي، نو کوم خلک
چې د بحيرې په غاړه او جزيرو کې اوسيږي، هغوی به د هغو خلکو د چيغو په اورېدلو چې وژل
کيږي، له وېرې ولړزيږي. ۱۶ نو د بحيرې د غاړې د قومونو ټول پاچاهان به د خپلو تختونو نه
راښکته شي. هغوی به خپلې شاهانه چپنې او ګلدوزي شوي کالي وباسي، په ځمکه باندې به کښېني
او له وېرې به ولړزيږي. هغوی به ستا د قسمت په خاطر دومره ووېرېږي چې لړزېدل به يې نه
خلاصيږي. ۱۷ هغوی به تاته د وير دا سندره ووايي:

”څنګه شو وران هغه مشهور ښار چې ؤ جوړ شوی

د بحيرې د غاړې هېوادونو له خلکو څخه

د دې ښار خلک چې يو وخت يې واکمني کوله

په بحيرې باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول خلک به وېرول د هغه

او د هغې د اوسېدونکو هیبت

۱۸ په کومه ورځ چې تا سقوط وکړلو

نو لړزیږي جزیرې او د بحیرې غاړه

او سخت وېرېږي خلک ستا په ورانۍ باندې“›

۱۹ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زه به تا د هغو ښارونو په شان وران او ویجاړ کړم چې په کنډوالو
باندې بدل شوي دي او هېڅوک په کې نه اوسیږي. زه به تا د ژورو بحرونو په اوبو کې پټ کړم.
۲۰ زه به تا د مړو دنیا ته ورولېږم چې د پخوانیو زمانو د خلکو سره یوځای شې. زه به تا مجبور
کړم چې د ځمکې لاندې په تلپاتې کنډوالو کې د مړو سره واوسېږې. په تا کې به بیا هېڅکله څوک
نه اوسیږي او نه به د ژوندیو په دنیا کې ځای ولرې. ۲۱ زه به تا په یو وېروونکي تباهۍ باندې
اخته کړم او دا به ستا دپاره وروستنۍ نېټه وي. خلک به تا لټوي، خو ته به هېڅکله پیدا نه شې.›
څښتن تعالی داسې ویلي دي.»

## د صور دپاره د وير سندره

۲۷ ۱ څښتن ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، د صور دپاره د وير یوه سندره ووایه. ۳
د هغه ښار دپاره چې د بحیرې بندرونه لري او د بحیرې د غاړې د هېوادنو او د جزیرو د خلکو
دپاره د سوداګرۍ مرکز دی، هغه ته ووایه چې څښتن تعالی داسې وايي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

‹ای صوره، وهلې لافې تا چې ښایست مې دی پوره

۴ پوله ده ستا د بحیرې په زړه کې

ستا جوړوونکو پوره کړی ستا ښایست دی

۵ ته وې په شان د بحیرې د کشتۍ

دوی جوړولې ستا تختې

د حرمون د غره د سروې له ونو

او دوی جوړوله ستا ستنه

د لبنان د سبر له ونې څخه

۶ د باشان د څېړی له ونو

هغوی جوړ کړل راشپېلونه د کشتۍ

هغوی جوړ کړلو ستا فرش

د قبرس د نښتر له ونو

او هغه یې سینګار کړلو د فیل په غاښو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ د ښه کتان څخه يې جوړ کړل بادوانونه د ستا

او د مصر د ګلدوزي شوي کتان څخه

چې ستا نښه يې له لېرې په اسانه پېژندله

وه جوړه شوې ستا چترى د ډېر ښه رخت څخه

چې هغه ؤ بانجاني رنګی رخت

د قبرس د جزيرې څخه

۸ راشپېل وهونکي وو ستا

د صيدون او د ارواد له ښارونو څخه

اى صوره، ستا چلوونکي وو

د کشتۍ ماهران خلک

۹ وو ماهر نجاران د کشتۍګانو

د جبال با تجربه خلک

چې کوله يې رغونه د کشتۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوداګري کوله په بازارونو کې ستا

د بحيرې د ټولو کشتيو چلوونکو

۱۰ د فارس، ليديا او ليبيا عسکرو به ستا په لښکر کې خدمت کاوه. هغوی به خپل سپرونه او
خپلې د زغرو خولۍ ستا شاوخوا ځوړندولې. دا هغه خلک وو چې د هغو په وسيله تا شان او
شوکت ترلاسه کاوه. ۱۱ د ارواد او د حيلک عسکرو ستا شاوخوا دېوالونه او د جماد سړيو ستا
برجونه ساتل. هغوی به خپل سپرونه ستا په دېوالونو باندې ځوړندول. دا هغه خلک وو چې ستا
ښايست يې پوره کړ.

۱۲ د ترشيش خلکو به تا سره سوداګري کوله او ستا د پرېمانه سوداګرۍ مالونو په بدل کې به يې
سپين زر، اوسپنه، حلبي او سرپ درکول. ۱۳ يونان، توبال او ماشک به ستا سره سوداګري کوله او
ستا د مالونو په بدل کې به يې غلامان او د برنجو لوښي درکول. ۱۴ د بيت‌توجرمه څخه ستا د
مالونو په بدل کې به يې بار وړونکي اسونه، جنګي اسونه او قچرې درکولې. ۱۵ د رودس خلکو
به تا سره د سوداګرۍ کاروبار کاوه. د بحيرې په غاړو او په جزيرو باندې د پرتو وطنونو خلکو به تا
سره د سوداګرۍ راکړه او ورکړه کوله او ستا د مالونو په بدل کې به يې د فيل غاښونه او د ابنوس
تور لرګي درکول. ۱۶ د سورېې خلکو به تا سره سوداګري کوله، ځکه چې په تا کې هر ډول
مالونه پيدا کېدل. هغوی به ستا د مالونو په بدل کې تاته زمرد، بانجاني رنګه رختونه، ګلدوزي شوي
شيان، د کتان ښه رختونه، د بحيرې مرجان او ياقوت درکول. ۱۷ د يهودا او د اسراييلو خلکو به
ستا د مالونو په بدل کې تاته د منيت څخه غنم، اينځر، شات، د زيتونو تېل او ملهم درکول. ۱۸-
۱۹ د دمشق خلکو به ستا د زياتو مالونو او شتمنيو په خاطر تا سره سوداګري کوله او ستا د
مالونو په بدل کې به يې د حلبون د انګورو شراب او د زاهار وړۍ درکولې. هغوی به ستا د مالونو
په بدل کې د اوزال څخه د انګورو شراب په لوښو کې، اوسپنه، د سناد د پاڼو شيره او خو شبويې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درکوله. ۲۰ د ددان خلکو به ستا د مال په بدل کې تاته د اسونو د زین پوښونه درکول. ۲۱
عربانو او د قیدار واکمنانو به ستا د مالونو په بدل کې ورې، پسونه او وزې په تا خرڅولې. ۲۲ ستا
د مالونو په بدل کې به د شیبا او رعمه سوداګرانو هر ډول عطرونه، قیمتي تیږې او سره زر درکول.
۲۳ د حران، کنه عدن، آشور او د کلمد ښارونو او د شیبا سوداګرانو به تا سره سوداګري کوله.
۲۴ هغوی ستا سره د ښکلي کالیو، بانجاني رنګه او ګلدوزي شوي چپنو، رنګه قالینو او ښه جوړ
شوي تارونو او رسۍګانو سوداګري کوله. ۲۵ د ترشیش بحري کشتۍګانو به ستا د سوداګرۍ
مالونه ستا په خاطر وړل.

د بحیرې منځ کې وې ته هغې کشتۍ په شان

چې وې ډکه په درنو مالونو

۲۶ کله چې یووړلې راشپیل وهونکو ستا

د بحیرې منځ ته

نو ته ماته کړلې د ختیځ باد

د بحیرې په منځ کې

۲۷ ستا ټوله شتمني او ستا مالونه

ستا ټول کشتیوانان

نجاران او سوداګران ستا د کشتیو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا هر عسکر چې په کشتۍ کې سپور ؤ

ټول شول ډوب په بحیره کې

هغه ورځ چې شوه ډوبه ستا کشتۍ

۲۸ د ډوبېدونکو کشتیوانانو په چیغو

به ولړزیږي د بحیرې غاړه

۲۹ پرېږدي ټول راشپېل وهونکي کشتۍ خپلې

کشتیوانان دي ټول ولاړ د بحیرې په غاړه

۳۰ وهي چیغې هغوی ټول او سخت ژاړي

په خاطر ستا

بادوي خپلو سرونو باندې خاورې

او په ایرو کې رغړي

۳۱ ستا په خاطر هغوی خریي خپل سرونه

هغوی اغوستي دي د ویر کالي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاته سخت ژاړي د زړه له درده

۳۲ تاته کوي انګولا او وايي سندرې د ماتم

داسې ښار شته لکه د صور په شان

چې اوس خاموش دی د بحيرې په تل کې؟

۳۳ کله چې تلل بهر ملکونو ته مالونه ستا

پوره کول ضرورتونه به تا د ډېرو قومونو

ستا په پرېمانه شتمنۍ او مالونو باندې

تا شتمن کړل د نړۍ پاچاهان

۳۴ اوس ماته شوې يې ته په بحيرې کې

ډوبه شوې يې ته د بحيرې په تل کې

ستا مالونه او ټول خلک چې به يې کار کاوه په تا کې

تا سره ډوب شول ټول په بحيرې کې

۳۵ د بحيرې په غاړه او جزيرو کې چې اوسېږي خوک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتې کېږي حيران د قومونو تجاران

ځکه چې بد دی خومره ستا سرنوشت

هم وېرېدلي وو سخت پاچاهان د هغوی

په څېرو کې د هغوی ښکاره کېږي وېره

۳۶ پاتې کېږي هک حيران د قومونو تجاران

هغوی وېرېږي ځکه چې بد دی خومره ستا سرنوشت

له منځه تللی يې ته د تل دپاره›»

## د صور د پاچا په ضد نبوت

۲۸ ۱ څښتن ماته وويل: ۲ «ای فاني انسانه، د صور پاچا ته ووايه چې زه څښتن تعالی
داسې وايم: ‹ته مغروره يې او وايې چې زه يو خدای يم او د بحيرې په منځ کې د خدايانو په تخت
ناست يم، په داسې حال کې چې ته يو فاني انسان يې او خدای نه يې. ۳ په رښتيا ته د دانيال نه
هم ډېر هوښيار يې او هېڅ کوم راز ستا نه پټ نه دی. ۴ تا په خپل حکمت او پوهې سره زيات
مال او دولت ګټلی دی او خپلې خزانې دې د سرو او سپينو زرو څخه ډکې کړې دي. ۵ تا په
ډېر حکمت سره د سوداګرۍ کاروبار کړی دی او خپل مال او دولت دې زيات کړی دی. نو ته په
خپل مال او دولت باندې ډېر مغرور يې!›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ نو اوس زه څښتن تعالی داسې وایم: ‹په دې خاطر چې ته فکر کوې چې ته د خدای په شان هوښیار یې، ۷ نو ګوره، زه به په تا باندې پردي او ډېر بې‌رحمه قومونه راولم چې حمله درباندې وکړي. هغوی به ستا ټول ښایسته شیان چې په خپل حکمت باندې دې ګټلي دي، سپک او تباه کړي. ۸ هغوی به تا د مرګ کندې ته ګوزار کړي او ته به په وحشتناکه توګه د بحیرې په تل کې مړ شې. ۹ کله چې هغوی ستا د وژلو دپاره راشي، نو ته به بیاهم دا وایې چې زه خدای یم؟ کله چې ته د خپلو قاتلانو سره مخامخ شې، نو ته به یو فاني انسان یې، نه خدای. ۱۰ ته به د بې‌دینه خلکو په شان د پردیو خلکو د لاسه مړ شې. ما څښتن تعالی داسې ویلي دي.›»

## د صور د پاچا دپاره ویر

۱۱ څښتن ماته وویل: ۱۲ «ای فاني انسانه، د صور د پاچا د سرنوشت په خاطر ویر وکړه. هغه ته ووایه چې څښتن تعالی داسې وایي: ‹په یو وخت کې ته د کمال یو مثال، د حکمت څخه ډک او په ښایست کې پوره وې! ۱۳ ته په عدن کې چې د خدای باغ دی، اوسېدلې او په سرو یاقوتو، زیړو یاقوتو، الماسو، شنو یاقوتو، سرو عقیقو، یشم، د لاجوردو په تیږو، زمردو او لعلو باندې سینګار وې. دا ټولې تیږې په سرو زرو کې په ښکلي شکل ځای په ځای شوې وې. په هغه ورځ چې ته پیدا شوی وې، دا ستا دپاره جوړې شوې وې. ۱۴ ته یو ټاکل شوی ساتونکی اسماني مخلوق وې. ته مې د خدای په سپېڅلي غر باندې ځای په ځای کړې او د ځلېدونکو تیږو په منځ کې به ګرځېدلې. ۱۵ د کومې ورځې نه چې ته پیدا شوی وې په رښتیا سره چې کامل وې، خو وروسته دې په بدو کارونو باندې پیل وکړ. ۱۶ ته په خرڅولو او اخیستلو باندې بوخت وې او دا کار د دې سبب شو چې تا ډېر ظلم وکړ او ګناه ته دې مخه کړه. نو ته مې د خپل سپېڅلي غره څخه ستا د ناپاکۍ له امله وشړلې. ای ساتونکیه اسماني مخلوقه، ته مخکې په ځلېدونکو تیږو کې ګرځېدلې، خو ته مې تباه کړې. ۱۷ ته په خپل ښایست باندې مغرور وې او ستا شهرت د دې سبب شو چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بې‌عقلو خلکو په شان عمل وکړي. نو له دې امله مې ته په ځمکه راوغورځولې چې د نورو
پاچاهانو په نظر کې سپک شې. ۱۸ تا په اخیستلو او خرڅولو کې دومره ټګي وکړه چې خپل د
عبادت ځایونه دې سپک کړل. نو ما ښار ته اور واچاوه او هغه مې د خاورو سره خاورې کړ. نو
اوس چې هرڅوک تاته ګوري، نو هغوی به ویني چې ته خاورې ایرې شوې. ۱۹ ټول قومونه
چې تا پېژني، ستا په لیدلو سخت وېرېږي. ته په یو بد سرنوشت باندې اخته شوې او د تل دپاره به
له منځه لاړ شې.›»

## د صیدون په ضد نبوت

۲۰ څښتن ماته وویل: ۲۱ «ای فاني انسانه، د صیدون ښار ته مخ واړوه او د هغه په ضد نبوت
وکړه. ۲۲ د هغه ځای خلکو ته ووایه چې زه څښتن تعالی داسې وایم: ‹ای صیدونه، زه ستا په
ضد یم. زه چې ستا سره کوم کار کوم، نو د هغه په سبب به خلک وګوري چې زه څومره سپېڅلی
یم او زما ستاینه به وکړي. کله چې زه هغو خلکو ته چې په تا کې اوسېږي سزا ورکړم، نو بیا به
خلک پوه شي چې زه څښتن یم. ۲۳ زه به په تا باندې وبا نازله کړم او ستا په کوڅو کې به ویني
وبهیږي. د هرې خوا نه به په تا باندې حمله وشي او ستا خلک به ووژل شي. نو بیا به پوه شي چې
زه څښتن یم.›»

## اسراییلو ته به برکت ورکړل شي

۲۴ څښتن وویل: «د شاوخوا قومونو څخه به هېڅ یو قوم چې اسراییلو ته به یې په سپکه سترګه
کتل، بیا به هېڅکله د کرکېږو او اغزیو په شان نه شي چې هغوی ته زیان ورسوي او هغوی به په دې
پوه شي چې زه څښتن تعالی یم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زه به د اسراييلو خلک د هغو قومونو نه چې هغوی په کې خپاره
وو، بېرته راټول کړم او ټول قومونه به په دې پوه شي چې زه سپېڅلی يم. د اسراييلو خلک به په
خپل وطن کې يعنې هغه وطن کې چې خپل خدمتګار يعقوب ته مې ورکړی ؤ، واوسيږي. ۲۶
هغوی به هلته په امن کې واوسيږي. هغوی به کورونه جوړ کړي او د انګورو باغونه به وکري. زه به
د هغوی ټولو ګاونډيانو ته چې هغوی ته به يې په سپکه سترګه کتل سزا ورکړم او اسراييل به
خوندي واوسي. نو بيا به هغوی پوه شي چې زه د هغوی څښتن خدای يم.›»

## د مصر په ضد نبوت

**۲۹** ۱ زمونږ د جلاوطنۍ په لسم کال د لسمې مياشتې په دولسمه ورځ څښتن ماته وويل:
۲ «ای فاني انسانه، د مصر پاچا فرعون ته مخ ورواړوه. د هغه او د مصر د ټولو خلکو په خلاف
نبوت وکړه. ۳ هغه ته ووايه چې څښتن تعالی داسې وايي: ‹ای د مصر پاچا فرعونه، زه ستا په
خلاف يم، ته داسې يوه لويه بلا يې چې په سيندونو کې پروت يې. ته وايې چې د نيل سيند زما دی
او ما د خپل ځان دپاره جوړ کړی دی. ۴ زه به ستا په ژامه کې چنګکونه واچوم او ستا د
سيندونو ماهيان به تا پورې کلک ونښلوم. بيا به تا د هغو ماهيانو سره چې درپورې نښتي دي، ستا
د سيندونو نه راوباسم. ۵ زه به تا او هغه ټول ماهيان په دښته کې وغورځوم او هلته به يې
پرېږدم. ستا مړی به په ځمکه باندې پروت وي او ښخ به نه شي. زه به هغه د حيواناتو او مرغانو د
خوراک کړم. ۶ بيا به د مصر ټول خلک پوه شي چې زه څښتن يم.›

څښتن وايي: ‹اسراييليانو په مصريانو باندې تکيه کوله چې ملاتړ به يې وکړي، خو تاسو د يوې
کمزورې لوخې څخه جوړه شوې امسا په شان وئ. ۷ کله چې هغوی درباندې تکيه وکړه، نو ته
ماته شوې، د هغوی اوږې دې سورې کړې او د هغوی ملاګانې دې ژوبل کړې.› ۸ نو زه څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تعالی داسې وايم: ‹زه به لښکرې درولېږم چې په تا باندې حمله وکړي او هغوی به ستا خلک او حيوانات ووژني. ٩ مصر به وران او ويجاړ شي. بيا به پوه شئ چې زه څښتن يم.

په دې خاطر چې تا فرعون ويلي وو: ”د نيل سيند زما دی او ما جوړ کړی دی،“ ١٠ زه ستا او ستا د سيندونو په ضد يم. زه به ټول مصر په شمال کې د مجدل د ښار نه د اسوان تر ښاره پورې په جنوب کې او د ايتوپيا تر سرحده پورې په پوره توګه وران او ويجاړ کړم. ١١ په هغه کې به نه انسانان او نه حيوانات تېرېږي. څلوېښت کاله به هغه ځای د اوسېدلو نه وي. ١٢ زه به مصر د نړی په ډېر وران او ويجاړ وطن باندې بدل کړم. څلوېښت کاله به د مصر ښارونه کنډواله پراته وي او د نورو وران شويو ښارونو نه به بدتر وي. زه به مصريان د نړی په قومونو او هېوادونو کې خواره واره کړم.›

١٣ خو څښتن تعالی داسې وايي: ‹څلوېښت کاله وروسته به مصريان د هغو قومونو نه چې هغوی په کې خواره واره شوي وو، راټول کړم. ١٤ زه به د مصريانو حال ښه کړم او هغوی به د مصر په جنوب کې د فتروس سيمې ته چې د هغوی اصلي ځای دی، بېرته راولم. د هغوی پاچاهي به يوه کمزورې پاچاهي وي، ١٥ د ټولو نه ډېره کمزورې پاچاهي او هغوی به بيا هېڅکله په نورو قومونو باندې حکومت نه کوي. زه به هغوی دومره کمزوري کړم چې ونه شي کولای په نورو قومونو باندې حکومت وکړي. ١٦ اسراييل به بيا هېڅکله د مرستې په خاطر په مصريانو باندې تکيه نه کوي. د مصر سرنوشت به اسراييلو ته دا ور په يادوي چې په هغوی باندې تکيه کول څومره ګناه وه. بيا به اسراييل په دې پوه شي چې زه څښتن تعالی يم.›»

## نبوکدنصر پاچا به مصر فتح کړي

١٧ زمونږ د جلاوطنۍ په اووه ويشتم کال د لومړۍ مياشتې په لومړۍ ورځ څښتن ماته وويل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ «ای فاني انسانه، د بابل پاچا د صور په ښار باندې حمله وکړه. هغه خپل عسکر مجبور کړل
چې دومره درانه بارونه یوسي چې د هغوی سرونه ګنجیان شول او اوږې یې تناکې شولې، خو پاچا
او د هغه لښکرو د هغو ټولو زحمتونو نه چې هغوی وویستل کومه ګټه ترلاسه نه کړه. ۱۹ نو زه
څښتن تعالی داسې وایم: ‹ګوره، زه به د مصر هېواد د مصر پاچا نبوکدنصر ته ورکړم. هغوی به هغه
لوټ او تالا کړي او د مصر ټول مال او دولت به یوسي او خپلو عسکرو ته به یې د معاش په توګه
ورکړي. ۲۰ زه به هغه ته مصر د هغه د کار او زیار په بدل کې ورکړم، ځکه چې عسکرو یې زما
دپاره کار کړی دی. ما څښتن تعالی داسې ویلي دي.

۲۱ کله چې داسې وشي، نو زه به د اسراییلو قوم یوځل بیا قوي کړم. ای حزقیاله، زه به تا پرېږدم
چې خبرې وکړې او ستا خبرې به ټول واوري، نو بیا به هغوی په دې پوه شي چې زه څښتن یم.›»

## څښتن مصر ته سزا ورکوي

**۳۰** ۱ څښتن ماته وویل: ۲ «ای فاني انسانه، نبوت وکړه او مصریانو ته ووایه چې زه
څښتن تعالی داسې وایم:

‹وکړئ ژړا او انګولا!

ده راروانه یو وېرېدونکې ورځ

۳ ځکه رانژدې ده هغه ورځ، چې کوم به زه عمل

د تورو ورېځو ورځ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده قومونو ته د مصیبت ورځ

۴ وي به په مصر کې جنګ

او لوی مصیبت په ایتوپیا کې

ډېر خلک به ووژل شي مصر کې

شي به لوټ شتمني د هغه

او شي به بدل په کنډوالو باندې›»

۵ په دې جنګ کې به په پیسو اخیستل شوي عسکر د ایتوپیا، لیبیا، لیدیا، د هغه سره نښتي
هېوادونه، کوب او حتی زما د خپل قوم نه به هم ووژل شي.

۶ «څښتن داسې وايي: ‹په شمال کې د مجدل نه، په جنوب کې تر اسوانه پورې، د مصر ټول
ملاتړ کوونکي به په جنګ کې ووژل شي. په کومو عسکرو چې مصریان ورباندې مغروره وو، د
هغوی دغه غرور به له منځه لاړ شي. ما څښتن تعالی داسې ویلي دي. ۷ دا وطن به په نړۍ کې
د ټولو نه زیات وران او ویجاړ شي او د دې وطن ټول ښارونه به د نورو ښارونو په پرتله په کنډوالو
باندې بدل شي. ۸ کله چې زه مصر ته اور واچوم او د هغه ټول ملاتړ کوونکي ووژل شي، نو بیا
به مصریان پوه شي چې زه څښتن یم.

۹ کله چې هغه ورځ راورسیږي او مصر له منځه لاړ شي، نو زه به په کشتۍګانو کې استازي
ولېږم چې د ایتوپیا بې‌خبره خلک سخت وویروي. ګوره، هغه ورځ راروانه ده!›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زه به د بابل د پاچا نبوکدنصر په وسيله د مصر شتمني له منځه
يوسم. ۱۱ هغه او د هغه ډېر بې‌رحمه لښکر به راشي او د مصر هېواد به وران او ويجاړ کړي.
هغوی به د خپلو تورو سره په مصر باندې حمله وکړي او هغه هېواد به د مړو نه ډک کړي. ۱۲ زه
به د نيل سيند وچ کړم او د مصر واک او اختيار به بدکارو خلکو ته ورکړم. زه به په پرديو خلکو
باندې ټول وطن وران او ويجاړ کړم. ما څښتن داسې ويلي دي.›

۱۳ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زه به بتان او د ممفيس غلط خدايان له منځه يوسم. په مصر کې به
نور پاچا نه وي چې په هغه باندې حکومت وکړي او زه به د هېواد ټول خلک ووېروم. ۱۴ زه به
د مصر جنوبي سيمه فتروس وران او ويجاړ کړم او د صوعن ښار چې په شمال کې دی، هغه به
وسوځوم. زه به د طيبس د ښار خلکو ته سزا ورکړم. ۱۵ زه به د پلوسيوم په ښار باندې چې د
مصر قوي کلا ده، خپل قهر نازل کړم. زه به د تيبس ډېر خلک له منځه يوسم. ۱۶ زه به مصر ته
اور واچوم او د پلوسيوم ښار به په عذاب باندې اخته شي. د طيبس د ښار دېوالونه به راوغورځېږي
او دښمن به په رڼا ورځ په ممفيس باندې حمله وکړي. ۱۷ د اون او فيبست ځوانان به په جنګ
کې مړه شي او د دې ښارونو پاتې خلک به د اسيرانو په توګه بوتلل شي. ۱۸ کله چې زه د مصر
قدرت مات کړم او د مصر هغه قوت چې هغویورباندې مغروره وو، له منځه يوسم، نو د تحفنحيس
په ښار باندې به توره تياره راشي. مصر به په وريځو باندې پټ شي او د دې ښارونو خلک به د
اسيرانو په توګه بوتلل شي. ۱۹ کله چې زه مصر ته داسې سزا ورکړم، نو هغوی به پوه شي چې زه
څښتن يم.›»

## د مصر د پاچا فرعون قدرت ماتېدل

۲۰ زمونږ د جلاوطنۍ په يوولسم کال د لومړي مياشتې په اوومه ورځ څښتن ماته وويل: ۲۱
«ای فاني انسانه، ما د مصر د پاچا فرعون مټ مات کړی دی. ګوره، د مات مټ جوړوونکی نشته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په مټ باندې يې پټۍ کېږدي او هغه وتړي چې جوړ شي او دومره قوي شي چې وکولای شي
بيا توره په لاس کې ونيسي. ٢٢ نو اوس زه څښتن تعالی داسې وايم: ‹زه د مصر د پاچا فرعون په
ضد يم. زه به د هغه دواړه متې ماتې کړم، د هغه روغ مټ او هغه مټ چې پخوا مات شوی ؤ، ترڅو
د هغه د لاس نه توره ولوېږي. ٢٣ زه به مصريان د نړۍ په قومونو او هېوادونو کې خواره واره کړم.
٢٤ بيا به د بابل د پاچا متې قوي کړم او خپله توره به د هغه په لاس کې ورکړم. خو د فرعون
متې به ماتې کړم، ترڅو لکه د يو زخمي په شان چې مرګ ته نژدې وي، د بابل د پاچا په مخکې
زګېروي وکړي. ٢٥ هو، زه به هغه کمزوری کړم او د بابل پاچا به قوي کړم. کله چې زه هغه ته
خپله توره ورکړم چې د مصر په وړاندې ورڅخه کار واخلي، نو مصريان به په دې پوه شي چې زه
څښتن يم. ٢٦ زه به مصريان د نړۍ په قومونو او هېوادونو کې خواره واره کړم. بيا به هغوی په دې
پوه شي چې زه څښتن يم.›»

## د اشور سره د مصر پرتله کول

٣١ ١ زمونږ د جلاوطنۍ د يوولسم کال د درېمې مياشتې په لومړۍ ورځ څښتن ماته ووېل:
٢ «ای فاني انسانه، د مصر پاچا فرعون او د هغه ټولو خلکو ته ووايه:

‹څومره لوی يې ته!

پرتله کړم تا له چا سره؟

٣ نو آشور ؤ په لبنان کې د سبر د ونې په شان

چې لرې داسې ښکلې څانګې چې کوي سيوری

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې لوړه ونه چې رسي وربځو ته

۴ لرلې دې ونې پرېمانه اوبه چې شي پرې غټه هغه

او وې ژورې اوبه چې شي پرې لوړه هغه

چې جارې کړل سيندونه هغو ژورو اوبو

د ونې شاوخوا ته

او راوتلې وې ويالې د دې ونې څخه ټولو ونو

د ځنګل ته

۵ ريښو يې لرلې ډېرې اوبه

نو هغه لوړه شوه له ټولو ونو

څانګې يې ډېرې او اوږدې شولې

۶ مرغانو جوړې کړلې ځالې د هغې په څانګو

او زېږول به بچي ټولو وحشي حيواناتو

د هغې د څانګو لاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول لوی قومونه د نړۍ به اوسېدل

د هغې د سیوري لاندې

۷ خومره ښایسته وه هغه ونه

وه ډېره لوړه او لرلې یې اوږدې ښانګې

ځکه ریښې وې ځغلېدلې ښکته ډېرو اوبو ته

۸ د خدای د باغ د سبز یوه ونه هم

پرتله کېدای نه شوه هغې سره

د سروې یوې ونې نه لرلې داسې ښانګې

او نه لرلې د چنار ونې داسې ښانګې

داسې ښکلې نه وه د خدای د باغ هم یوه ونه

۹ ما ښایسته کړې وه هغه په زیاتو ښانګو باندې

بخیلې کوله په باغ عدن کې د خدای

ټولو ونو د هغې سره،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٠ نو زه څښتن تعالی د مصر پاچا ته داسې وايم: ‹په دې خاطر چېهغه ونه دومره لوړه شوه چې
ورېځو ته رسېدله، نو د خپل لوړوالي له امله مغروره شوه. ١١ نو ځکه هغه مې لاندې وغورځوله
او هغه مې د نورو قومونو يو واکمن ته تسليم کړه او هغه ورسره د هغې د بدکارۍ له مخې سخت
چلند وکړ. ١٢ بې‌رحمه پرديو خلکو هغه ونه ووهله او هغه يې پرېښودله. د هغې ماتې شوې
څانګې د دې وطن په هر غره او هرې درې کې پرتې وې. کوم قومونه چې د هغې د سيورې لاندې
اوسېدل، نو هغوی هغه پرېښودله او لاړل. ١٣ ټول مرغان د دې لوېدلې ونې په تنه باندې
کښېناستل او ټول وحشي حيوانات د هغې په څانګو باندې ګرځېدل. ١۴ نو له دې وروسته به هېڅ
يوه ونه چې زياتې اوبه هم ولري، هغه به هېڅکله د دې ونې په شان دومره لوړه نه شي چې ورېځو
ته ورسيږي. ځکه هغوی ټول زما د رضا سره سم فناکېدونکي دي او لکه د فاني انسانانو په شان به
مري او د مړو دنيا ته به ورځي.›

١۵ څښتن تعالی داسې وايي: ‹په کومه ورځ چې هغه ونه د مړو دنيا ته لاړه، نو ما د ځمکې
لاندې اوبه پټې کړې چې ټوله نړۍ وير وکړي. په دې خاطر چې هغه ونه مړه شوې ده، نو ما
سيندونه ودرول او ما پرېښنبودل چې د هغو ډېرې ويالې ورخخه رواني شي. ما د لبنان په غرونو
باندې تياره راوستله او د ځنګل ټولې ونې مې وچې کړې. ١۶ کله چې ما هغه لاندې د مړو دنيا
ته وروغورځوله، نو ما د هغې د لوېدلو په اواز قومونه له وېرې ولړزول. د عدن ټولې ونې او د لبنان
ډېرې ښې ونې چې په اوبو باندې مړې شوې وې او لاندې د مړو دنيا ته تللې وې، هغوی د دې
ونې په لوېدلو باندې تسلي وموندله. ١٧ د سبر د ونې ملاتړ کوونکي چې د قومونو په منځ کې د
هغې د سيورې لاندې اوسېدلې وو، هغوی هم ورسره د مړو دنيا ته لاړل. هغوی د هغو خلکو سره
چې په جنګ کې وژل شوي وو، يوځای شول.

١٨ ای فرعونه او ټولو خلکو، تاسو د هغې ونې په شان يئ. د عدن د باغ هېڅ يوه ونه نه شي
کولای په عزت او لويۍ کې ستا سره سيالي وکړي. خو اوس به ته د عدن د ونو په شان د مړو دنيا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته وغورځول شي او د بې دينه او هغو خلکو سره به يو ځای کېږي چې په جنګ کې وژل شوي دي. ما څښتن تعالی داسې ويلي دي.›»

## د فرعون او مصر په هکله د وير سندره

۳۲ ۱ زمونږ د جلاوطنۍ د دولسم کال د دولسمې مياشتې په لومړی ورځ څښتن ماته وويل:
۲ «ای فاني انسانه، د مصر د پاچا فرعون دپاره د وېر سندره ووايه. هغه ته زما له خوا دا پيغام ورسوه:

‹نورو قومونو منځ کې
ګڼې خپل ځان لکه زمري په شان
خو په رښتيا يې د بحيرې د بلا په شان
ته اوبه شړپوې خپلو سيندونو کې
ته اوبه خړوې په خپلو پښو باندې
او چټلوې سيندونه

۳ څښتن تعالی داسې وايي:

زه به په تا باندې خپل جال کړم خپور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ډېرو قومونو په مرسته

به دې غاړې ته راکاږم

۴ تا به وغورځوم ځمکه باندې

تا به ګوزار کړم په میدان باندې

زه به راوړم ټول مرغان د نړۍ چې کښېني تا باندې

حیوانات به راوغواړم زه چې ماړه شي په تا باندې

۵ زه به په غرونو کې خپره کړمه ستا غوښه

زه به ډکې کړم درې ستا په هډوکو باندې

۶ تر غرونو پورې به لمده کړم ځمکه

ستا په وینو باندې

شي به ډکې درې ورباندې

۷ کله چې مړه کړم ستا د ژوند شمع

زه به پټ کړم اسمانونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پټ به کړم ستوري په تياره کې

لمر به پټ کړمه په وريځو کې

سپوږمی به نه کوي رڼا

٨ زه به ټولې رڼاګانې د اسمان کړم تياره

راولم به ستا وطن باندې تياره

ما څښتن تعالی داسې ويلي دي.

٩ کله چې زه ستاسو د بربادۍ خبر په هغو وطنونو کې چې تاسو يې نه پېژنئ، خپور کړم، نو د
ډېرو قومونو د خلکو زړونه به خفه شي. ١٠ کوم کار چې زه به يې ستا سره کوم په هغه باندې به
ډېر قومونه ولړزيږي. کله چې زه خپله توره وخوځوم، نو پاچاهان به له وېرې وربيږي. په کومه
ورځ چې ته سقوط وکړې، نو هغوی ټول به د خپل ژوند په خاطر له وېرې لړزيږي.›

١١ څښتن تعالی د مصر پاچا ته داسې وايي: ‹ته به د بابل پاچا د تورې سره مخامخ شي. ١٢
زه به د ډېر ظالم قوم غښتلي عسکر ولېږم چې په تا باندې حمله وکړي. بيا به ستا ډېر خلک په
جنګ کې ووژل شي.

له منځه به يوسي هغوی غرور د مصر

له منځه به لاړ شي ټول خلک د مصر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ زه به حلالې کړم ستا ټولې پادې

چې خرېړي د ويالو په غاړه

هلته به نه وي نور انسان يا حيوان

چې کړي چټلې اوبه

۱۴ هو، زه به کړم صافې ستا اوبه

ستا سيندونه به روان کړم ارام

ما ښتن تعالی داسې ويلي دي.

۱۵ کله چې زه کړم مصر وران او ويجاړ

او ټولو شيانو نه يې کړمه خالي

کله چې ووژنم ټول اوسېدونکي يې

نو شي به پوه هغوی چې زه ښتن يم؟

۱۶ پورته سندره به د وير د يوې سندرې په توګه وويلی شي. د ټولو قومونو ښځې به د وير دا
سندره په مصر او د هغه په ټولو اوسېدونکو باندې د وير کولو په وخت کې ووايي. ما ښتن تعالی
داسې ويلي دي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ زمونږ د جلاوطنۍ د دولسم کال د دولسمې میاشتې په پنځلسمه ورځ ښښتن ماته وویل: ۱۸
«ای فاني انسانه، د مصر د ټولو خلکو په خاطر ویر وکړه. هغوی د دنیا د نورو قوي قومونو سره د
ځمکې لاندې د مړو دنیا ته ولیږه.

۱۹ هغوی ته ووایه:

‹تاسو فکر کوئ چې زیات ښایسته یئ

د نورو څخه؟

تاسو به لاړ شئ د مړو دنیا ته

یئ به پراته بې دینه خلکو سره›

۲۰ د مصر خلک به د هغو خلکو په شان له منځه لاړ شي چې په جنګ کې وژل شوي دي. د
هغوی د ټولو د وژلو دپاره توره تیاره ده. د مصر ډېر خلک به د وژنې دپاره بوتلل شي. ۲۱
غښتلي جنګیالي به د مړو له دنیا څخه د مصریانو او د هغوی د ملاتړو په اړه ووایي: ‹هغه بې‌دینه
خلک چې په جنګ کې وژل شوي دي، هغوی راغلي دي او دلته پراته دي!›

۲۲ آشور هلته دی او شاوخوا ته یې د خپلو هغو عسکرو قبرونه دي چې په جنګ کې وژل شوي
دي ۲۳ او د هغوی قبرونه د مړو د دنیا په ډېره ژوره کنده کې پراته دي. د هغه ټول عسکر په
جنګ کې وژل شوي دي او د هغوی قبرونه د ده د قبر شاوخوا پراته دي. کله چې هغوی ژوندي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو، نو هغوی به خلک سخت وېرول.

۲۴ عیلام هم هلته دی او د هغه ټول عسکر د هغه د قبر شاوخوا پراته دي. هغوی ټول په جنګ
کې وژل شوي وو او د مړو دنیا ته بېدینه لاړل. کله چې هغوی ژوندي وو، نو هغوی به نور قومونه
سخت وېرول، خو اوس هغوی د هغو خلکو په شان چې د هغوی څخه مخکې مړه شوي وو، مړه او
شرمېدلي پراته دي. ۲۵ عیلام د هغو خلکو په منځ کې پروت دی چې په جنګ کې وژل شوي
دي او شاوخوا ته یې د خپلو عسکرو قبرونه دي. هغوی ټول بېدینه وو او په جنګ کې وژل شوي
وو. کله چې هغوی ژوندي وو، نو هغوی به په خلکو کې وېره خپروله، خو اوس هغوی مړه او
شرمېدلي پراته دي او د هغو خلکو په سرنوشت باندې اخته دي چې په جنګ کې وژل شوي دي.

۲۶ د ماشک او توبال د عسکرو قبرونه هم هلته دي. هغوی ټول بېدینه وو او په جنګ کې وژل
شوي وو، ځکه کله چې هغوی ژوندي وو، نو هغوی به خلک سخت وېرول. ۲۷ هغوی د پخوا
زمانې د جنګیالیو په شان په قدر او عزت نه وو ښخ شوي. هغه جنګیالي د خپلو وسلو سره د مړو
دنیا ته لاړل. د هغوی تورې د هغوی د سرونو لاندې ایښې وې او سپرونه یې په مړو باندې پراته
وو. کله چې دا جنګیالي ژوندي وو، نو هغوی به خلک سخت وېرول. ۲۸ نو تاسو مصریان به د
هغو بېدینه خلکو په منځ کې ټوټې ټوټې پراته یئ، کوم چې په جنګ کې وژل شوي دي.

۲۹ د ادوم د پاچاهانو او نورو ټولو واکمنانو قبرونه هم هلته دي. هغوی قوي عسکر وو، خو اوس
هغوی د هغو بېدینه خلکو سره چې په جنګ کې وژل شوي وو، د مړو په دنیا کې پراته دي.

۳۰ د شمال د ټولو مشرانو او د صیدونیانو قبرونه هم هلته دي. د هغوی زور به په یو وخت کې د
خلکو د سختې وېرې سبب کېده، خو اوس هغوی په شرم او رسوایۍ سره د هغو خلکو سره چې په
جنګ کې وژل شوي دي، د مړو دنیا ته لاړل او بېدینه پراته دي. هغوی د هغو خلکو سره په شرم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او رسوايۍ کې شريک شول چې د مړو دنيا ته تللي دي.

۳۱ ښښتن تعالی داسې وايي: ‹کله چې فرعون او د هغه لښکر هغوی ووينې، نو هغوی ته به دا
تسلي راپيدا شي چې يوازې د هغوی عسکر نه دي وژل شوي. ۳۲ ما په فرعون باندې خلک
وېرول، خو هغه او د هغه ټولې لښکرې به ووژل شي او د هغو نورو ټولو بې‌دينه خلکو سره به ښخ
شي چې په جنګ کې وژل شوي دي.›»

## خدای حزقيال د پهره‌دار په توګه ټاکي

۳۳ ۱ ښښتن ماته وويل: ۲ «ای فاني انسانه، خپلو خلکو ته ووايه: ‹که چېرې زه په يو
هېواد باندې جنګ راولم او د هغه هېواد خلک د خپل منځ څخه يو کس د پهره‌دار په توګه وټاکي،
۳ کله چې هغه ووينې چې دښمن راروان دی، نو هغه به سرنی ووهي چې خلک خبر کړي. ۴
که څوک د سرني اواز واوري او هېڅ پام ورته ونه کړي او دښمن راشي او هغه ووژني، نو خون به
يې په خپله غاړه وي. ۵ ځکه چې هغه د سرني اواز واورېد، خو پام يې ورته ونه کړ، نو خون به
يې په خپله غاړه وي. که چېرې هغه پام کړی وای، نو کولای يې شول چې خپل ځان وژغوري.
۶ خو که هغه پهره‌دار وګوري چې دښمن راروان دی او سرنی ونه وهي چې خلک خبر شي، نو
دښمن به راشي او ځينې ګناهکاران به ووژني، خو زه به هغه پهره‌دار د هغوی د مرګ مسوول وګڼم.›

۷ نو اوس ای فاني انسانه، ته مې د اسراييلو د قوم دپاره پهره‌دار ټاکلی يې. زه چې تاته کوم
خبرداری درکوم بايد هغوی ته يې ورسوې. ۸ که زه يو بدکاره انسان ته خبرداری ورکړم چې
هرومرو مړ کيږي او ته زما خبرداری هغه ته ونه رسوې او ورته ونه وايې چې د خپلو بدو کارونو
څخه توبه وباسي، نو هغه به د خپلې ګناه له امله مړ شي، خو تا به د هغه د مړينې مسوول وګڼم.
۹ که چېرې ته هغه بدکاره انسان ته خبرداری ورکړې او هغه د خپلې ګناه نه لاس وانخلي، نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به ګناهکار مړ شي، خو تا به د مرګ څخه خپل ځان ژغورلی وي.»

## شخصي مسوولیت

۱۰ څښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، اسراییلیانو ته ووایه چې تاسو داسې وایئ: ‹په مونږ باندې د خپلو سرکښیو او ګناهونو درون بار پروت دی او مونږ یې کمزوري او ناتوانه کړي یو. نو مونږ به څنګه ژوندي پاتې شو؟› ۱۱ هغوی ته ووایه چې زه څښتن تعالی داسې وایم: ‹زه په خپل ذات باندې قسم خورم چې زه د ګناهکار انسان په مرګ باندې نه خوشحالیږم، بلکې په دې خوشحالیږم چې هغه ګناه پرېږدي او ژوندی پاتې شي. ای اسراییلو، خپل بد کارونه پرېږدئ. تاسو ولې غواړئ چې مړه شئ؟›

۱۲ نو ای فاني انسانه، اسراییلیانو ته ووایه کله چې یو نېک انسان ګناه وکړي، نو هغه چې کوم ښه کارونه کړي دي د هغو په سبب به د هغه ژوند ونه ژغورل شي. که یو بدعمله انسان د خپلو بدو نه لاس واخلي، نو هغه ته به سزا نه ورکول کیږي او که چېرې یو نېک انسان په ګناه کولو باندې پیل وکړي، نو هغه به د خپلو پخوانیو نېکو کارونو په خاطر ژوندی پاتې نه شي. ۱۳ فرض کړئ چې زه د کوم نېک انسان سره وعده وکړم چې هغه به ژوندی پاتې شي، خو هغه په بدی کولو پیل وکړي او په دې فکر کې وي چې کوم نېک کارونه هغه مخکې کړي دي، د هغو په سبب به د هغه ژوند وژغورل شي، نو زه به د هغه نېک کارونه هېر کړم او هغه به د خپلو بدو کارونو له امله مړ شي. ۱۴ فرض کړئ چې زه یو بدکاره انسان ته خبرداری ورکړم چې هغه به خامخا د خپلو ګناهونو په سبب مړ شي. خو که هغه ګناه کول پرېږدي او سم او نېک کارونه وکړي، ۱۵ د مثال په ډول که چېرې هغه د ضمانت په توګه پور اخیستی وي او هغه بېرته ورکړي، یا هغه کوم شی غلا کړی وي او هغه بېرته ورکړي، د بدی نه لاس واخلي او د هغو قوانینو پیروي وکړي چې ژوندون ورکوي، نو هغه به نه مړ کیږي، بلکې ژوندی به پاتې شي. ۱۶ هغه چې کومه ګناه کړې ده، هغه به ورته یاده نه کړم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه به خامخا ژوندی پاتې شي، ځکه چې سم او نېک کارونه يې کړي دي.

۱۷ خو ستا خلک وايي چې د څښتن لاره عادلانه نه ده! نه، د هغوی لاره عادلانه نه ده. ۱۸
کله چې يو نېک انسان د ښو کارونو نه لاس واخلي او بد کارونه پيل کړي، نو د هغو په سبب به هغه
مړ شي. ۱۹ کله چې کوم بدکاره انسان د ګناه نه لاس واخلي او عادلانه او نېک کارونه پيل کړي،
نو هغه به ژوندی پاتې شي. ۲۰ خو ای اسراييلو، تاسو وايئ چې د څښتن لاره عادلانه نه ده. زه
به تاسو هر يو ستاسو د عمل سره سم محاکمه کړم.»

## د اورشليم د سقوط په هکله خبر

۲۱ زمونږ د جلاوطنۍ د دولسم کال د لسمې مياشتې په پنځمه ورځ يو سړی چې د اورشليم نه
راتښتېدلی ؤ، راغی او ماته يې وويل: «ښار سقوط کړی دی.» ۲۲ نو د ماښام په وخت کې مخکې
له دې چې هغه سړی راشي، ما د څښتن قدرتمند حضور حس کړ. دا سړی د سهار په وخت راغی،
خو د دې سړي د رارسېدلو څخه مخکې څښتن ماته بېرته د خبرو کولو توان راکړی ؤ.

## د خلکو ګناهونه

۲۳ څښتن ماته وويل: ۲۴ «ای فاني انسانه، کوم خلک چې د اسراييلو په وران شويو ښارونو
کې اوسيږي، هغوی وايي: ‹ابراهيم يوازې يو سړی ؤ او هغه ته ټول وطن ورکړل شو. نو څنګه چې
زمونږ شمېر زيات دی، نو دا وطن بايد زمونږ وي.›

۲۵ هغوی ته ووايه چې زه څښتن تعالی هغوی ته داسې وايم: ‹تاسو داسې غوښه خورئ چې
وينه لا په کې وي. تاسو د بتانو عبادت او قتلونه کوئ. نو بيا څنګه داسې فکر کوئ چې دا وطن
ستاسو دی؟ ۲۶ تاسو په خپلو تورو باندې زړه تړلی دی. ستاسو عملونه د کرکې وړ دي. تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول د خپلو ګاونډيو د ښځو سره زنا کوئ. بيا څنګه داسې فکر کوئ چې دا وطن ستاسو دی؟›

۲۷ هغوی ته ووايه چې زه څښتن تعالی هغوی ته داسې وايم: ‹زه په خپل ذات باندې قسم خورم، هغه خلک چې په ورانو ښارونو کې اوسيږي، هغوی به په جنګ کې ووژل شي. کوم خلک چې په صحرا کې اوسيږي، نو ځنګلي حيوانات به پرېږدم چې هغوی وخوري. کوم خلک چې په غرونو او غارونو کې اوسيږي، هغوی به د وبا له لاسه مړه شي. ۲۸ زه به دا وطن وران او ويجاړ کړم او د هغوی هغه قدرت به له منځه لاړ شي چې هغویورباندې مغروره وو. د اسراييلو غرونه به داسې وران شي چې هېڅوک به ورباندې تګ او راتګ نه کوي. ۲۹ کله چې زه خلکو ته د هغوی د کرکې وړ کارونو په سبب سزا ورکړم او هغه وطن وران او ويجاړ کړم، نو بيا به هغوی پوه شي چې زه څښتن يم.›»

## اورېدل، خو عمل نه کول

۳۰ څښتن وويل: «ای فاني انسانه، کله چې خلک د ښار د دېوالونو او د خپلو کورونو په دروازو کې سره راټوليږي، نو ستا په هکله خبرې کوي. هغوی يو بل ته وايي: ‹راځئ چې لاړ شو او هغه کلام واورو چې د څښتن له خوا راغلی دی.› ۳۱ نو زما قوم راټوليږي او ستا خبرو ته غوږ نيسي، خو په هغو باندې عمل نه کوي. څکه هغوی د چاپلوسۍ خبرې کوي، خو هغوی يوازې خپلو ګټو پسې ګرځي. ۳۲ ګوره، د هغوی دپاره ته يوازې يو سندرغاړی يې چې په خپل ښکلي اواز سره عشقي سندرې وايې او ښه ساز غږوې. هغوی ستا خبرو ته غوږ نيسي، خو په هغو باندې عمل نه کوي. ۳۳ خو کله چې ستا خبرې رښتيا شي او هغه به بې له شکه رښتيا شي، بيا به هغوی پوه شي چې د هغوی په منځ کې يو پيغمبر ؤ.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اسراييلو د واکمنانو په ضد نبوت

# ۳۴

۱ څښتن ماته وويل: ۲ «ای فاني انسانه، د اسراييلو د واکمنانو په ضد نبوت وکړه.
هغوی ته وواية چې زه څښتن تعالی هغوی ته داسې وایم: ‹ای د اسراييلو شپنو، افسوس ستاسو په
حال! تاسو په خپلو ځانونو باندې پام کوئ، ایا خپلو پسونو ته باید پاملرنه ونه کړئ؟ ۳ تاسو د
هغوی وازګه خورئ، د هغو د وړیو نه جوړ شوي کالي اغوندئ، چاغ پسونه حلالوئ او هغه خورئ،
خو هېڅکله په خپلو رمو باندې پام نه کوئ. ۴ تاسو د کمزورو پسونو ساتنه نه ده کړې، د
ناروغو پسونو علاج مو نه دی کړی، د مات شويو هډوکو رغونه مو نه ده کړې، هغو چې خپله لاره
ورکه کړې ده، هغه مو بېرته نه دي راوستي او ورک شوي مو نه دي لټولي. د دې په ځای په هغو
باندې مو په زورزیاتي حکومت کړی دی. ۵ په دې خاطر چې هغو پسونو شپون نه درلود، نو
هرې خواته خواره واره شول او د وحشي حیواناتو د خوراک شول. ۶ نو زما پسونه په غرونو او
لوړو غونډیو باندې سرګردانه ګرځېدل. هغوی د ځمکې په مخ خواره واره شول او هېچا نه لټول او
نه يې کوښښ کاوه چې هغه راپیدا کړي.›

۷ نو ای شپنو، زما کلام ته غوږ ونیسئ. ۸ زه څښتن تعالی تاسو ته داسې وایم، څرنګه چې
زما پسونو شپون نه درلود، نو وحشي حیواناتو ورباندې حمله وکړه، هغوی يې ووژل او ويې خوړل.
زما شپنو د پسونو د لټولو کوښښ ونه کړ. هغوی په خپلو ځانونو باندې پام کاوه او په پسونو باندې
يې پام نه کاوه. ۹ نو ای شپنو، زما کلام ته غوږ ونیسئ. ۱۰ زه څښتن تعالی داسې وایم چې
زه ستاسو په ضد یم. زه به تاسو سره حساب وکړم او بیا به هېڅکله تاسو پرېنږدم چې د هغوی
شپانه اوسئ. بیا به هېڅکله تاسو پرېنږدم چې یوازې په خپلو ځانونو باندې پام وکړئ. زه به خپل
پسونه ستاسو د خولې نه خلاص کړم او تاسو به پرېنږدم چې هغوی وخورئ.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ «زه څښتن تعالی تاسو ته داسې وایم چې زه به په خپله خپل پسونه ولټوم او په هغو باندې به
پام وکړم. ۱۲ لکه څنګه چې شپانه خپل ورک شوي پسونه لټوي او هغه بېرته راټولوي، زه به هم
خپل پسونه چې په هغې تیاره او بدبخته ورځ خواره واره شوي وو، ولټوم او د ټولو ځایونو نه به یې
بېرته راولم. ۱۳ زه به هغوی د پردیو وطنونو نه راوباسم، هغوی به سره راټول کړم او بېرته به یې
خپل وطن ته راولم. زه به هغوی د اسراییلو په غرونو، تنګیو او د وطن په ټولو مېشته شوي ځایونو
کې ماړه کړم. ۱۴ زه به هغوی په ښو واښو باندې ماړه کړم او د هغوی څرځایونه به د اسراییلو په
لوړو غرونو باندې وي. هغوی به په ښو څرځایونو کې ارام ومومي او د اسراییلو په غرونو کې به
پرېمانه واښه وخوري. ۱۵ زه به خپله د خپلو پسونو شپون اوسم او د هغوی دپاره به د ارام کولو
ځای پیدا کړم. ما څښتن تعالی داسې ویلي دي.

۱۶ زه به ورک شوي پسونه ولټوم، بې‌لارې شوي به بېرته راولم، د مات شویو هډوکو رغونه به
وکړم او کوم چې ناروغه شوي دي د هغو علاج به وکړم، خو چاغ او قوي پسونه به له منځه یوسم،
ځکه زه به د هغوی دپاره باانصافه شپون اوسم.

۱۷ نو ای زما رمې، زه څښتن تعالی تاسو ته داسې وایم چې زه به ستاسو هر یو په هکله قضاوت
وکړم او ښه حیوان به د بد حیوان نه او پسونه د سېرلیو نه بېل کړم. ۱۸ ایا دا ستاسو دپاره بس نه
ؤ چې په خپله ښه واښه خورئ، خو کوم واښه چې تاسو نه پاتې کیږي، هغه ترپښو لاندې کوئ؟ ایا
دا ستاسو دپاره بس نه ؤ چې صافې اوبه څښئ، خو پاتې اوبه چټلوئ؟ ۱۹ ولې زما نور پسونه
هغه واښه خوري چې تاسو ترپښو لاندې کړي دي او هغه اوبه څښي چې تاسو چټلې کړې دي؟

۲۰ نو اوس زه څښتن تعالی تاسو ته داسې وایم: ‹ګورئ، زه به په خپله ستاسو د چاغو او ډنګرو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پسونو ترمنځ قضاوت وکړم. ۲۱ تاسو کمزوري پسونه په خپلو اوږو، ورنونو او ښکرونو باندې
یوې خواته ټېله کړي دي او د رمې نه مو هغوی خواره واره کړي دي. ۲۲ په دې خاطر به زه
خپله رمه وژغورم او نور به یې پرېنږدم چې ظلم ورسره وشي. زه به د خپل هر یو حیوان په هکله
قضاوت وکړم او ښه به د بد نه بېل کړم. ۲۳ زه به هغوی ته د خپل خدمتګار داود په شان بل پاچا
ورکړم چې د هغوی یوازینی شپون شي او په هغوی باندې به پام وکړي. ۲۴ زه به د هغوی څښتن
خدای یم او زما د خدمتګار داود په شان یو پاچا به د هغوی واکمن وي. ما څښتن داسې ویلي
دي.›»

## د څښتن د سولې او امن لوظ

۲۵ «زه به د هغوی سره د سولې او امن لوظ وکړم. د هغوی وطن به د خطرناکو حیواناتو نه
خلاص کړم، ترڅو زما پسونه وکولای شي په امن سره په صحرا کې واوسیږي او په ځنګلونو کې
ویده شي.

۲۶ زه به نوموړې سیمې او په اورشلیم کې زما د غونډۍ شاوخوا حاصلخېزه کړم. زه به په سم
موسم کې باران وورووم او دا به د برکت سبب وګرځي. ۲۷ ونې به مېوې ونیسي، ځمکې به
حاصلات ورکړي او هر یو به په خپل وطن کې په امن سره ژوند تېر کړي. کله چې زه د خپلو
خلکو جغونه مات او هغوی د غلامۍ نه خلاص کړم، بیا به هغوی پوه شي چې زه څښتن یم. ۲۸
پردي قومونه به هغوی لوټ نه کړي او وحشي حیوانات به هغوی ونه وژني او نه به یې وخوري.
هغوی به په امن کې واوسیږي او هېڅوک به هغوی ونه وېروي. ۲۹ زه به هغوی ته داسې ځمکه
ورکړم چې په حاصل ورکولو کې مشهوره وي. نور به هغوی له قحطۍ او لوږې ونه مري او پردي
قومونه به نور هغوی ته سپکاوی ونه کړي. ۳۰ نو بیا به هغوی په دې پوه شي چې زه د اسراییلو
څښتن خدای د هغوی سره یم او هغوی یعنې د اسراییلو قوم، زما خلک دي. ما څښتن تعالی داسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ويلي دي.

۳۱ اې زما پسونو، تاسو زما د څړځايونو پسونه يئ، تاسو زما قوم يئ او زه ستاسو خداى يم.
څښتن تعالى داسې وايي.»

## د ادوم د غره په ضد نبوت

۳۵ ۱ څښتن ماته وويل: ۲ «اې فاني انسانه، خپل مخ دې په ادوم کې د سعير د غره
خواته راواړوه او د هغه په ضد نبوت وکړه. ۳ خلکو ته ووايه چې زه څښتن تعالى داسې وايم:

‹اې د سعير غره، يمه زه ستا په ضد

کړم به زه پورته خپل لاس ستا په ضد

زه به کړم وران او ويجاړ تا

۴ په کنډوالو به زه بدل کړمه ښارونه ستا

کړم به ستا وطن وران او ويجاړ

بيا به پوه شې چې زه څښتن يم

۵ ته د اسراييلو تلپاتې دښمن يې او تا د جنګ په وخت کې د اسراييلو خلک پرېښودل چې
ووژل شي يعنې د مصيبت په هغه وخت کې چې د خپلو ګناهونو له امله يې اخرنۍ سزا وليدله. ۶
نو زه څښتن تعالى په خپل ذات باندې قسم خورم چې ستا په قسمت کې به مرګ وي او د هغه نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلاصېدلی نه شې. تا د وژنې څخه کرکه نه درلوده، نو په دې خاطر باید ووژل شې. ۷ زه به د
سعیر غر وران او ویجاړ کړم او هرڅوک چې په هغه کې تګ او راتګ کوي، هغه به ووژنم. ۸ زه
به ستا غرونه د مړو څخه ډک کړم او ستا په غونډیو، درو او تنګیو کې به د خلکو هغه مړي پراته
وي چې په جنګ کې وژل شوي دي. ۹ زه به تا د تل دپاره وران او ویجاړ کړم او ستا په
ښارونو کې به نور هېڅوک ونه اوسېږي. بیا به تاسو د ادوم خلک پوه شئ چې زه څښتن یم.

۱۰ دا وطن زما دی، خو تا ووېل چې د یهودا او اسراییلو دواړه قومونه او د هغوی وطنونه ستا
دي او ته به هغه ونیسې. ۱۱ نو زه څښتن تعالی په خپل ذات باندې قسم خورم چې زه به تاته د
هغه قهر، حسادت او کرکې په خاطر چې زما د قوم سره دې لرله، محاکمه او سزا درکړم. نو بیا به زه
خپل ځان اسراییلیانو ته ورښکاره کړم. ۱۲ ته به هم پوه شې چې زه څښتن یم.

ما څښتن ستا هغه د سپکاوی نه ډکې خبرې واورېدلې چې ودې ویل چې د اسراییلو غرونه ویجاړ
شوي دي او هغه زمونږ خلکو ته راکړل شوي دي چې زمونږ شي. ۱۳ ما ستا هغه ډېرې خبرې او
لافې چې زما په ضد دې کړې دي، اورېدلې دي.›»

۱۴ څښتن تعالی داسې وایي: «زه به تا داسې وران او ویجاړ کړم چې ټوله نړۍ درباندې
خوشحاله شي. ۱۵ لکه څنګه چې ته د اسراییلو په ورانېدلو باندې چې زما ملکیت دی خوشحاله
شوې، نو زه به هم ستاسو سره همداسې چلند وکړم. د سعیر غر او د ادوم ټول وطن به وران او
ویجاړ شي. بیا به اسراییلیان پوه شي چې زه څښتن یم.»

## د اسراییلو بیا ودانول

۳۶ ۱ څښتن ووېل: «نو ته، ای فاني انسانه، د اسراییلو غرونو ته نبوت وکړه او ورته ووایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه پيغام ته غوږ ونيسي ۲ چې زه څښتن تعالی يې هغوی ته ورکوم: ‹د اسراييلو دښمنانو
خوشحالي کوله او ويل يې چې هغه پخواني د اسراييلو لوړ ځايونه اوس زمونږ دي! ۳ نو نبوت
وکړه او څه چې زه څښتن تعالی وايم هغه اعلان کړه. کله چې شاوخوا قومونو د اسراييلو غرونه
ونيول او هغه يې وران او تر پښو لاندې کړل، نو هغوی ټولو په اسراييلو باندې ملنډې ووهلې. ۴
نو ای د اسراييلو غرونو، هغه څه چې زه څښتن تعالی يې تاسو ته وايم، واورئ. هو، غرونو، غونډيو،
تنګيو، درو، وران شويو ځايونو او هغو ويجاړ شويو ښارونو ته وايم چې تاسو د شاوخوا قومونو ته
د تالا کولو او سپکاوي موقعه برابره کړه.› ۵ نو په دې خاطر څښتن تعالی داسې وايي: ‹ما د
خپل سخت قهر په وخت کې د شاوخوا قومونو او په ځانګړې توګه د ادوم په ضد خبرې کړې دي.
هغوی په خوشحالۍ او کينې زما وطن او د هغه څرڅايونه د غنيمت په توګه ونيول.›

۶ د اسراييلو د هېواد په هکله نبوت وکړه او غرونو، غونډيو، تنګيو او درو ته ووايه چې زه
څښتن تعالی داسې وايم: ‹ګورئ، زه د سخت قهر په حالت کې خبرې کوم، ځکه چې تاسو د نورو
قومونو سپکاوی زغملی دی. ۷ نو زه څښتن تعالی قسم خورم چې شاوخوا قومونه به په خپله
سپک شي.

۸ خو ای د اسراييلو غرونو، ستاسو ونې به يوځل بيا پاڼې وکړي او زما د خلکو يعنې اسراييلو
دپاره به مېوه ونيسي. هغوی به ډېر زر خپل وطن ته بېرته راستانه شي. ۹ ګورئ، زه ستاسو په
خوا يم او تاسو ته ډاډ درکوم چې ستاسو ځمکه به بيا قلبه شي او تخمونه به په کې وکرل شي. ۱۰
زه به ستاسو يعنې د اسراييلو د ټول قوم نفوس زيات کړم. خلک به ستاسو په ښارونو کې واوسېږي
او هغه څه چې په کنډوالو بدل شوي دي، هغه به بيا ودان شي. ۱۱ زه به ستاسو د انسانانو او
څارويو شمېر ډېر کړم. هغوی به د مخکې نه زيات شي او د هغوی نسل به هم زيات شي. زه به
هغوی پرېږدم چې په هغه ځای کې چې مخکې اوسېدل، هم هلته واوسېږي او د مخکې نه به يې
زيات سوکاله کړم. بيا به تاسو پوه شئ چې زه څښتن يم. ۱۲ زه به خپل خلک اسراييل پرېږدم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په خپل وطن کې واوسېږي. دا به د اسراییلو خپل وطن شي او نور به تاسو پرېنږدئ چې د
هغوی اولادونه له لوږې مړه شي.›

۱۳ زه څښتن تعالی داسې وایم: ‹نور قومونه تاسو ته پېغور درکوي او وايي چې تاسو د اسراییلو
وطن تباه کوئ او خپل قوم بې‌اولاده کوئ. ۱۴ خو نور به تاسو خلک نه تباه کوئ او خپل قوم به
نه بې‌اولاده کوئ. ما څښتن تعالی داسې ویلي دي. ۱۵ زه به تاسو نور پرېنږدم چې د نورو قومونو
سپکاوی واورئ او نه به هغوی په تاسو باندې ملنډې وهي. دا وطن به نور خپل قوم نه بې‌اولاده
کوي. ما څښتن تعالی داسې ویلي دي.›»

## د څښتن د نوم سپېڅلتوب

۱۶ څښتن ماته وویل: ۱۷ «ای فاني انسانه، کله چې اسراییلیان په خپل وطن کې اوسېدل، نو
هغوی چې په کوم ډول ژوند تېراوه، په خپلو عملونو باندې یې هغه وطن ناپاک کړ. زما په نظر
د هغوی کړه وړه داسې ناپاک وو لکه ښځه چې د میاشتیني عادت په وخت کې ناپاکه وي. ۱۸ په
دې خاطر چې هغوی په دې وطن کې وینه تویه کړې وه او بتانو ته په عبادت کولو سره یې هغه
وطن ناپاکه کړې ؤ، نو ما په هغوی باندې خپل قهر نازل کړ. ۱۹ ما هغوی د هغوی د چلند او
عملونو په سبب محاکمه او هغوی ته مې سزا ورکړه او هغوی مې په پردیو وطنونو کې خواره واره
کړل. ۲۰ هغوی چې هرچېرته تلل نو زما سپېڅلی نوم یې سپکاوه، ځکه چې خلکو به ویل چې دا
د څښتن قوم دی، خو هغوی مجبور شول چې د هغه د وطن نه لاړ شي. ۲۱ نو زه د خپل
سپېڅلي نوم په خاطر اندېښمن شوم، ځکه اسراییلیان چې هرچېرته تلل، نو زما سپکاوی به یې
کاوه.

۲۲ نو اوس اسراییلیانو ته دا پیغام چې زه څښتن تعالی یې د هغوی دپاره لرم، ورسوه: ‹زه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم کار کوم هغه ستاسو په خاطر نه، بلکې د خپل سپېڅلي نوم په خاطر يې کوم چې تاسو هغه په
هر وطن کې چې ورته تللي يئ، هغه مو سپک کړی دی. ۲۳ کله چې زه د خپل لوی نوم
سپېڅلتوب نورو قومونو ته وښايم، کوم چې تاسو په هغوی کې سپک کړی دی، نو بيا به هغوی پوه
شي چې زه څښتن يم. ما څښتن تعالی داسې ويلي دي. هغه وخت به زه ستاسو په وسيله قومونو ته
دا وښايم چې زه سپېڅلی يم. ۲۴ زه به تاسو د ټولو قومونو او وطنونو نه راټول کړم او بېرته به مو
خپل وطن ته راولم. ۲۵ زه به په تاسو باندې پاکې اوبه وشيندم او تاسو به د ټولو بت‌پرستيو او
ناپاکيو نه پاک کړم. ۲۶ زه به تاسو ته نوی زړه او تازه روح درکړم. زه به ستاسو نه هغه د تيږې
په شان کلک زړه لرې کړم او يو نرم زړه به درکړم. ۲۷ زه به په تاسو کې خپل روح واچوم او دا
به د دې سبب شي چې تاسو زما په قوانينو او حکمونو باندې عمل وکړئ. ۲۸ نو بيا به تاسو په
هغه وطن کې واوسېږئ چې ستاسو نيکونو ته مې درکړی دی. تاسو به زما قوم يئ او زه به ستاسو
خدای يم. ۲۹ زه به تاسو د ټولو ناپاکيو نه وژغورم. ستاسو غلې دانې به ډېرې زياتې کړم، ترڅو
تاسو نور د قحطيو سره مخامخ نه شئ. ۳۰ زه به ستاسو د مېوو د ونو او د ځمکو حاصلات زيات
کړم، ترڅو د قحطۍ له امله په نورو قومونو کې ونه شرمېږئ. ۳۱ نو تاسو ته به خپل بدچلند او
غلط کارونه چې کړي مو دي، در په ياد شي او د خپلو ګناهونو او د کرکې وړ کارونو له امله به
تاسو د خپلو ځانونو نه بېزاره او پښېمانه شئ. ۳۲ ای اسراييلو، زه غواړم چې تاسو په دې پوه
شئ چې زه دا ټول کارونه ستاسو په خاطر نه کوم. زه غواړم چې تاسو د خپلو کارونو له امله
وشرمېږئ او چاته کتلی نه شئ. ما څښتن تعالی داسې ويلي دي.›

۳۳ څښتن تعالی داسې وايي: ‹کله چې تاسو د ټولو ګناهونو نه پاک کړم، نو تاسو به پرېږدم چې
بېرته په خپلو ښارونو کې واوسېږئ او کنډوالې بېرته ودانې کړئ. ۳۴ هرڅوک به چې ستاسو په
ځمکو باندې تېرېده، نو هغوی به ليدل چې هغه ځمکې څنګه شاړې او خوشې پاتې وې، خو زه به
پرېږدم هغه ځمکه چې مخکې شاړه وه، بېرته قلبه شي. ۳۵ نو هغوی به ووايي چې دا ځمکه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يو وخت شاړه وه، اوس ورشخه د عدن باغ جوړ شوی دی او هغه ښارونه چې وران او په کنډوالو
باندې بدل شوي وو، اوس قوي شوي او خلک په کې اوسيږي. ۳۶ نو ستاسو شاوخوا کوم قومونه
چې ژوندي پاتې دي، هغوی به پوه شي چې ما څښتن هغه وران شوي ښارونه بېرته ودان کړل او
هغه شاړې ځمکې مې بېرته راشنې کړلې. ما څښتن دا وعده کړې وه چې زه به دا کار وکړم.›

۳۷ څښتن تعالی داسې وايي: ‹زه به يوځل بيا د اسراييليانو دعاګانې قبولې کړم او د هغوی شمېر
به د پسونو د رمې په شان زيات کړم. ۳۸ لکه څنګه چې په يو وخت کې د اورشليم ښار د اختر
په ورځو کې د قربانۍ د پسونو نه ډک ؤ، نو همداسې به هغه ښارونه چې اوس وران او ويجاړ پراته
دي، د خلکو نه ډک شي. بيا به هغوی پوه شي چې زه څښتن يم.›»

## د وچو هډوکو دره

# ۳۷

۱ ما د څښتن قوي حضور احساس کړ او د هغه روح زه هغې درې ته چې ماته اشنا وه،
بوتلم چې ځمکه يې د هډوکو نه ډکه وه او هلته يې ودرولم. ۲ هغه زه په ټوله دره کې وګرځولم
او ما وليدل چې هلته ډېر زيات هډوکي پراته وو او هغه وچ شوي وو. ۳ هغه زما نه پوښتنه
وکړه: «ای فاني انسانه، ايا دا هډوکي بېرته ژوندي کېدای شي؟» ما ځواب ورکړ: «ای څښتن تعالی،
د دې په ځواب يوازې ته پوهېږې!»

۴ بيا هغه ماته وويل: «په دې هډوکو باندې نبوت وکړه او هغوی ته ووايه: ‹ای وچو هډوکو، د
څښتن کلام ته غوږ ونيسئ.› ۵ هغوی ته ووايه چې زه څښتن تعالی هغوی ته داسې وايم: ‹زه به
په تاسو کې ساه واچوم او تاسو به بېرته راژوندي کړم. ۶ زه به تاسو ته پلې او غوښه درکړم او
په پوستکي کې به مو پټ کړم. په تاسو کې به ساه واچوم او بېرته به مو راژوندي کړم. بيا به تاسو
پوه شئ چې زه څښتن يم.›»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ نو ښځګه چې ماته ویل شوي وو، ما نبوت وکړ. کله چې ما خبرې کولې، نو کړپهار مې واورېد
چې هډوکو یو د بله سره په یوځای کېدلو پیل وکړ. ٨ نو ما وکتل چې په هډوکو باندې پلې او
غوښه راپیدا شوې وې او بیا په پوستکي کې پټ شوي وو. خو په هغوی کې لا ساه نه وه.

٩ ښښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، ساه ته نبوت وکړه او ورته ووایه چې ښښتن تعالی درته
حکم کوي چې د هرې خوا نه راشه، د دې مړو بدنونو ته ورننوځه او هغوی بېرته راژوندي کړه.»
١٠ نو ښځګه چې ښښتن ماته وویل، ما هماغه شان نبوت وکړ. هغو بدنونو ته ساه ورننوتله، هغوی
راژوندي شول او په خپلو پښو باندې ودرېدل. د هغوی شمېر دومره زیات ؤ چې یو ډېر لوی لښکر
ورځخه جوړ شو.

١١ ښښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، ټول اسراییلیان په جلاوطنی کې د دې هډوکو په شان
دي. هغوی وایي چې زمونږ هډوکي وچ شوي دي، زمونږ دپاره کومه هیله نشته او راتلونکی نه لرو.
١٢ نو زما قوم ته نبوت وکړه او هغوی ته ووایه: ‹زه ښښتن تعالی به ستاسو قبرونه خلاص کړم.
تاسو به د هغه ځای نه راوباسم او بېرته به مو د اسراییلو وطن ته راولم. ١٣ ای زما خلکو، کله
چې زه ستاسو قبرونه خلاص کړم او تاسو ورځخه راوباسم، نو هغه وخت به تاسو پوه شئ چې زه
ښښتن یم. ١٤ زه به په تاسو کې خپله ساه واچوم، تاسو به بېرته راژوندي کړم او تاسو به په خپل
وطن کې ځای په ځای کړم. نو بیا به تاسو پوه شئ چې زه ښښتن یم. ما وعده کړې ده چې زه به دا
کار وکړم. ما، ښښتن داسې ویلي دي.›»

## د اسراییلو او یهودا یووالی

١٥ ښښتن ماته وویل: ١٦ «ای فاني انسانه، یو لرګی راواخله او په هغه باندې ولیکه: ‹د یهودا
پاچاهي او د هغې سره یو ځای شوي اسراییلیان› بیا یو بل لرګی راواخله او په هغه باندې ولیکه:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«د اسراييلو پاچاهي او د هغې سره يو ځای شوي اسراييليان.» ۱۷ بيا د دواړو لرګيو ځوکې سره
يوځای کړه چې ستا په لاس کې د يو لرګي په شان ښکاره شي. ۱۸ کله چې خپل قوم درڅخه
پوښتنه وکړي چې دا کار څه معنې لري، ۱۹ هغوی ته ووايه چې زه څښتن تعالی داسې وايم: ‹زه
به هغه لرګی چې د اسراييلو د پاچاهۍ او د هغوی سره د يوځای شويو قبيلو استازيتوب کوي،
راواخلم او د هغه لرګي سره به يې ونښلوم چې د يهودا د پاچاهۍ استازيتوب کوي. د هغو دواړو نه
به يو لرګی جوړ کړم او په خپل لاس کې به يې ونيسم.›

۲۰ دواړه لرګي په خپل لاس کې ونيسه او پرېږده چې خلک يې ووينې. ۲۱ بيا هغوی ته ووايه
چې زه څښتن تعالی داسې وايم: ‹زه به د اسراييلو خلک د هغو قومونو نه راوباسم چې هلته تللي
دي، هغوی به راټول کړم او بېرته به يې خپل وطن ته راولم. ۲۲ زه به په هغه وطن کې د اسراييلو
په غرونو باندې د هغوی نه يو قوم جوړ کړم. هغوی به يو پاچا ولري چې په دوی باندې به پاچاهي
وکړي او هغوی به نور دوه قومونه نه وي او نه به په دوو پاچاهيو باندې ووېشل شي. ۲۳ هغوی
به نور خپل ځانونه د کرکې وړ بتانو باندې ناپاکه نه کړي او نه به خپل ځانونه په ګناه باندې فاسد
کړي. زه به هغوی د هغو ټولو لارو نه چې هغوی په کې ګناه کړې ده، خلاص کړم. زه به هغوی پاک
کړم، هغوی به زما قوم شي او زه به د هغوی خدای شم.

۲۴ زما د خدمتګار داود د کورنۍ څخه به يو کس د هغوی پاچا وي. هغوی ټول به د هغه د
پاچاهۍ لاندې يو موټی شي او د هغوی ټولو به يو شپون وي او په وفادارۍ سره به زما په قوانينو
او حکمونو باندې عمل کوي. ۲۵ هغوی به په هغه وطن کې واوسېږي چې خپل خدمتګار يعقوب
ته مې ورکړی دی، هغه وطن چې ستاسو نيکونه په کې اوسېدل. دوی به تل هلته واوسېږي او
همدارنګه د هغوی اولادونه او د هغوی د اولادونو اولاده به د تل دپاره په کې واوسېږي او زما د
خدمتګار داود د کورنۍ څخه يو کس به تل تر تله د هغوی پاچا وي. ۲۶ زه به د هغوی سره د
سولې او امن ابدي لوظ وکړم. زه به هغوی په خپل وطن کې ځای په ځای کړم، نفوس به يې زيات

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړم او د هغوی په وطن کې به خپل سپېڅلی کور چې تر ابده پورې به هلته وي، رامنځته کړم. ۲۷
زما د اوسېدلو ځای به د هغوی په منځ کې وي، زه به د هغوی خدای يم او هغوی به زما قوم وي.
۲۸ کله چې زما سپېڅلی کور د هغوی په منځ کې د تل دپاره شتون ولري، نو بيا به نور قومونه په
دې پوه شي چې ما اسراييل د دې دپاره غوره کړي دي چې زما سپېڅلی قوم شي.›»

## د جوج په ضد نبوت

۳۸ ۱ څښتن ماته وويل: ۲ «ای فاني انسانه، خپل مخ دې د جوج خواته چې د ماجوج
د هېواد څخه دی او د ماشک او توبال پاچا دی، واړوه او د هغه په ضد نبوت وکړه. ۳ زه څښتن
تعالی داسې وايم: ‹ګوره، ای جوجه، د ماشک او توبال پاچا، زه ستا دښمن يم. ۴ زه به تا
راوګرځوم، ستا په ژامو کې به چنګکونه واچوم او تا به د خپلو ټولو لښکرو، اسونو او سپرو عسکرو
سره چې شمېر يې ډېر زيات دی او ټول په زغرو، ورو او لويو سپرونو او تورو باندې سمبال دي،
راوباسم. ۵ د هغوی سره به د فارس، ايتوپيا او ليبيا لښکرې وي چې د هغوی ټولو سره به
سپرونه او د زغرو خولۍګانې وي. ۶ د جومر او د شمال د لېرې ځای نه د بيت‌توجرمه د
وطنونو څخه به ټول جنګيالي د هغه سره وي، يعني د ډېرو قومونو سړي به ورسره وي.›

۷ هغه ته ووايه: ‹تيار اوسه، ته او ستا ټولې شاوخوا لښکرې بايد ستا تر قوماندې لاندې تياری
ونيسي. ۸ له ډېرو کلونو وروسته به زه تاته حکم درکړم چې په اسراييلو باندې حمله وکړې. دا
به داسې هېواد وي چې خلک يې د جنګ نه وروسته ځای په ځای شوي وي. خلک به يې د ډېرو
قومونو څخه راټول شوي وي او په هغو غرونو کې به واوسيږي چې ډېره موده وران او ويجاړ پراته
وو. هغه وخت به هغوی ټول په امن کې ژوند تېر کړي. ۹ ته او ستا لښکر او ستا سره نور ډېر
قومونه به لکه د توفان په شان حمله وکړئ او هغه وطن به لکه د ورېځې په شان پټ کړئ.›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ څښتن تعالی جوج ته داسې وايي: ‹کله چې هغه وخت راورسيږي، نو ستا ذهن ته به بد
فکرونه راشي او يوه ناوړه نقشه به جوړه کړې. ۱۱ د ځان سره به ووايې چې په يو داسې بې‌وزله
وطن باندې حمله کوم چې خلک يې په داسې ښارګوټو کې په امن او ارامی سره ژوند تېروي چې
نه دېوالونه لري، نه دروازې او نه اړمونه. ۱۲ ته به هغه خلک لوټ او تالا کړې چې په داسې
ښارونو کې اوسيږي چې يو وخت وران پراته وو. هغوی د نورو قومونو نه راټول شوي، اوس د
څارويو او د مال او جايداد خاوندان دي او د نړۍ د سوداګرۍ په مرکز کې اوسيږي. ۱۳ د شيبا او
ددان خلک او د ترشيش د ښار سوداګران به ستا نه پوښتنه کوي: ”ايا تا خپل لښکر راټول کړی
چې د لوټ او تالان په خاطر حمله وکړې؟ ايا دا نيت لرې چې سپين زر، سره زر، څاروي او ډېره
شتمني په غنيمت يوسې؟“›

۱۴ نو په دې خاطر ای فاني انسانه، نبوت وکړه او جوج ته ووايه چې څښتن تعالی داسې وايي:
‹کله چې ته ووينې چې زما قوم په امن کې ژوند تېروي، نو راويښ به شې، ۱۵ ته به د خپل ځای
نه چې لېرې په شمال کې دی، د خپل لوی او قوي لښکر سره چې د ډېرو قومونو د عسکرو نه جوړ
شوی دی او ټول به په اسونو باندې سپاره وي، راشې. ۱۶ تاسو به زما په قوم اسراييلو باندې
داسې حمله کوئ، لکه څمکه چې وريځ پټوي. په وروستيو ورځو کې به زه تا ولېږم چې زما په
وطن باندې حمله وکړې، ترڅو ای جوجه، قومونه په دې پوه شي چې زه څوک يم او ستا په وسيله
به خپل سپېڅلتوب وښايم.›»

## جوج ته سزا ورکول

۱۷ «څښتن تعالی داسې وايي: ‹ايا ته هغه څوک يې چې ډېر پخوا مې ستا په هکله خبرې کړې
وې؟ هغه وخت ما د خپلو خدمتګارانو يعنې د اسراييلو د نبيانو په وسيله ويلي وو. هغوی تر ډېرو
کلونو پورې پېشګويي کوله چې په راتلونکو ورځو کې به زه يو کس په اسراييلو باندې د حملې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره راولم.› ۱۸ څښتن تعالی وايي: ‹په هماغه ورځ چې جوج په اسراييلو باندې حمله وکړي،
نو زه به سخت په قهر يم. ۱۹ زه په خپل غيرت او په سخت قهر کې اعلان کوم چې په هغه ورځ
به د اسراييلو په وطن کې سخته زلزله وشي. ۲۰ ټول ماهيان او مرغان، ټول لوی حيوانات،
خزندې او د ځمکې په مخ ټول انسانان به زما په حضور کې ولړزيږي. غرونه به راوغورځول شي،
کمرې به ونړيږي او ټول ديوالونه به راچپه شي. ۲۱ زه به په خپلو ټولو غرونو کې د جوج په ضد
جنګ راولم، ما څښتن تعالی داسې ويلي دي. د هغه عسکر به په خپلو کې يو بل په تورو باندې
ووهي. ۲۲ زه به هغه په وبا او وينې تويولو سره محاکمه او هغه ته به سزا ورکړم. زه به په هغه او
د هغه په لښکرو او نورو ډېرو قومونو باندې چې د هغه په خوا ولاړ دي، د باران توفان او ږلۍ د
اور او ګوګړو سره نازل کړم. ۲۳ په دې ډول به زه ډېرو قومونو ته وښايم چې زه ډېر لوی او
سپېڅلی ذات يم. نو بيا به هغوی پوه شي چې زه څښتن يم.›»

## د جوج ماتې خوړل

۳۹ ۱ څښتن وويل: «ای فاني انسانه، د جوج په ضد نبوت وکړه او ووايه چې څښتن تعالی
داسې وايي: ‹ای جوجه، د ماشک او توبال د قومونو پاچا، زه ستا دښمن يم. ۲ زه به تا د هغې
لارې نه چې ته ورباندې روان يې راوګرځوم، راکش به دې کړم او د شمال د ډېر لېرې ځای څخه
به دې د اسراييلو غرونو ته د حملې دپاره راولم. ۳ بيا به دې د چپ لاس نه لينده او ښي لاس
نه غشي وغورځوم. ۴ ته، ستا لښکر او ستا ملګري به د اسراييلو په غرونو باندې وژل شوي
پراته وي او ستاسو بدنونه به د هر ډول ښکاري مرغانو او وحشي حيواناتو خوراک کړم. ۵ تاسو
به په صحرا کې مړه پراته يئ. ما څښتن تعالی داسې ويلي دي. ۶ زه به په ماجوج او هغو خلکو
باندې چې د بحيرې په غاړه او په جزيرو کې په امن کې اوسيږي، اور نازل کړم او هغوی به پوه شي
چې زه څښتن يم. ۷ په دې ډول به زما قوم اسراييل زما سپېڅلی نوم وپېژني او نور به پرېنږدم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زما د نوم سپکاوی وشي. بیا به نور قومونه پوه شي چې زه څښتن د اسراییلو سپېڅلی خدای
یم.›

۸ څښتن تعالی داسې وايي: ‹د کومې ورځې په هکله چې ما خبرې کړې وې، هغه به خامخا
راورسیږي. ۹ کله چې هغه ورځ راشي، نو کوم خلک چې د اسراییلو په ښارونو کې اوسیږي،
هغوی به دباندې ووځي او هغوی به هغه وسلې راټولې کړي چې د هغوی د وژل شویو دښمنانو نه
پاتې شوې دي. هغوی به سپرونو، لیندو، غشو، ډنډو او نېزو باندې اور بلوي او د اوو کالو دپاره د
هغو څخه د سوځېدونکو موادو په توګه کار واخلي. ۱۰ هغوی ته به په پټیو کې د سوځولو د
لرګیو د راټولولو او په ځنګل کې د ونو د وهلو اړتیا نه وي، ځکه چې د هغوی سره به د سوځولو
دپاره پرېمانه وسله وي. هغوی به هغه خلک لوټ او تالا کړي چې دوی یې لوټ او تالا کړي وو.
څښتن تعالی داسې ویلي دي.›»

## د جوج ښخېدل او د ځمکې پاکېدل

۱۱ څښتن وویل: «کله چې دا ټولې پېښې رامنځته شي، نو زه به جوج ته په اسراییلو کې د
مسافرو په دره کې چې د بحیرې په ختیځ کې ده، د هدیرې دپاره ځمکه ورکړم. دا به د مسافرو لاره
بنده کړي، ځکه هلته به جوج او د هغه لښکر ښخ کړای شي. هغه دره به د «جوج د لښکرو د درې»
په نوم یادیږي. ۱۲ اسراییلیان به په اوو میاشتو کې دا ټول مړي ښخ کړي، په دې ډول به دا هېواد
بېرته پاک شي. ۱۳ د هغه هېواد ټول خلک به د هغوی په ښخولو کې ګډون وکړي او په کومه
ورځ چې زه خپل جلال ښکاره کړم، دا به هغوی ته سرلوړي ور په برخه کړي. ما څښتن تعالی
داسې ویلي دي. ۱۴ کله چې اووه میاشتې تېرې شوې، نو یو څو تنه به وټاکل شي چې په
دوامداره توګه په ټول هېواد کې وګرځي او د حمله کوونکو پاتې شوي مړي د ځمکې په مخ باندې
ولټوي، ترڅو هغه ښخ کړي. په دې ډول به هغه هېواد پاک شي. ۱۵ کله چې هغوی په هېواد کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګرځي او د انسان هډوکي پيدا کړي، د هغو په خوا کې دې نښه ولګوي، ترڅو قبر کېندونکي راشي
او هغه د جوج د لښکرو په دره کې ښخ کړي. ۱۶ هغه ځای ته نژدې ښار به د «لښکرو» په نوم
ونومول شي. نو په دې ډول به هغه هېواد بيا پاک شي.»

۱۷ څښتن تعالی ماته وويل: «ای فاني انسانه، هر ډول مرغان او ټول وحشي حيوانات راوغواړه
او ورته ووايه: ‹د هرې خوا نه راټول شئ او هغه قرباني وخورئ چې ستاسو دپاره يې تياروم. دا به
د اسراييلو په غرونو باندې يو لوی جشن وي او هلته تاسو کولای شئ چې غوښه وخورئ او وينه
وڅښئ. ۱۸ تاسو به د جنګياليو غوښې وخورئ او د دنيا د واکمنانو وينې به وڅښئ. جنګياليان به
لکه د حيواناتو په شان ووژل شي. هغوی ټول به لکه د باشان د چاغو پسونو، وريو، وزو او غوييانو
په شان ووژل شي. ۱۹ کله چې زه دا خلک لکه د قربانۍ کولو په شان ووژنم، نو تاسو مرغان او
حيوانات به دومره وازګه وخورئ چې ورباندې ماړه شئ او دومره وينه به وڅښئ چې ورباندې نشه
شئ. ۲۰ زما په دسترخوان باندې چې تاسو هرڅومره کولای شئ د اسونو، سپرو عسکرو، او د هر
ډول جنګياليو غوښې وخورئ او خپل ځانونه ورباندې ماړه کړئ.› څښتن تعالی داسې وايي.»

۲۱ څښتن وويل: «زه به خپل جلال قومونو ته وښايم او هغوی ټول به ووينې چې ما څنګه په
خپل قدرت سره جوج او د هغه لښکرو ته سزا ورکړې ده. ۲۲ د هماغې ورځې نه به د اسراييلو
خلک پوه شي چې زه د هغوی څښتن خدای يم. ۲۳ نو بيا به نور قومونه پوه شي چې اسراييليان
د خپلو ګناهونو له امله اسيران شول، ځکه چې هغوی زما په وړاندې بې‌وفايي کړې وه. نو ما د
هغوی نه خپل مخ واړاوه. هغوی مې بيا پرېښودل چې دښمنان يې ورته ماتې ورکړي او په جنګ
کې يې ووژني. ۲۴ ما د هغوی سره د هغوی د ناپاکۍ او بدعملۍ سره سم چلند وکړ او د هغوی نه
مې خپل مخ واړاوه.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اسراییلو بېرته راستنېدل او ځای په ځای کېدل

۲۵ نو څښتن تعالی داسې وویل: «خو زه به اوس د یعقوب په اولادې یعنې د اسراییلو په خلکو
باندې رحم وکړم او هغوی به یوځل بیا نېکمرغه کړم. زه به خپل سپېڅلی نوم وساتم. ۲۶ کله چې
هغوی یوځل بیا په خپل وطن کې په امن کې واوسېږي، هېڅوک نه شي کولای چې هغوی
وځوروي. نو هغوی به په هغه د شرم وړ خیانت چې زما سره یې کړی ؤ، اقرار وکړي. ۲۷ کله
چې زه خپل قوم د هغوی د دښمنانو د وطنونو نه بېرته راولم او سره راټول یې کړم، نو د هغوی په
وسیله به زه قومونو ته وښایم چې زه سپېڅلی یم. ۲۸ نو بیا به زما قوم پوه شي چې زه د هغوی
څښتن خدای یم. هغوی به په دې پوه شي، ځکه چې ما هغوی د اسیرانو په توګه ولېږل او اوس یې
راټولوم او بېرته یې خپل وطن ته راولم او د هغوی نه به یو کس هم هلته پاتې نه شي. ۲۹ زه به د
اسراییلو په قوم باندې خپل روح نازل کړم او د هغوی نه به بیا هېڅکله خپل مخ وانهړوم.› ما
څښتن تعالی داسې ویلي دي.»

## حزقیال په رویا کې د اورشلیم عبادتځای ته بېول کیږي

**۴۰** ۱ دا د نوي کال لسمه ورځ وه او زمونږ د جلاوطنی پنځه ویشتم کال او د اورشلیم د
سقوط څوارلسم کال ؤ. په هماغه ورځ ما د څښتن قوي حضور احساس کړ او زه یې هلته بوتلم.

۲ خدای زه په رویا کې د اسراییلو وطن ته بوتلم او په یو لوړ غره باندې یې ودرولم. د جنوب
خواته یو ښو ودانۍ وې چې د ښار په شان ښکاره کېدلې. ۳ کله چې هغه هلته نژدې بوتلم، ما
یو سړی ولیده چې د برنجو په شان ځلېده. هغه د یوې دروازې په خوله کې ولاړ ؤ چې د کتان فیته
او د اندازه کولو یو لرګی ورسره ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ هغه ماته وویل: «ای فاني انسانه، وګوره. په غور سره غوږ ونیسه او څه چې درته ښایم، نو هغو ته ښه پام کوه، ځکه چې ته دلته د همدې دپاره راوستل شوی یې. هرڅه چې وینې، نو هغه د اسراییلو خلکو ته ووایه.»

## ختیځه دروازه

۵ ما چې کوم شی ولیده هغه د عبادت ځای ؤ او ګردچاپېره ورڅخه دېوال راتاو شوی ؤ. د هغه سړي سره خپل د اندازه کولو لرګی ؤ چې درې متره یې اوږدوالی ؤ. هغه دېوال اندازه کړ، دېوال درې متره لوړ او درې متره پنډوالی یې درلود. ۶ بیا هغه د ختیځې دروازې خواته لاړ. هغه په زینه باندې پورته وخوت او د دروازې خوله یې اندازه کړه او هغه درې متره اوږده وه. ۷ د دروازې دننه، د دهلیز په دواړو خواوو کې درې درې وړې کوټې وې. هره کوټه یې درې متره مربع وه او د هغو ترمنځ د دېوال پنډوالی دوه نیم متره ؤ. د هغې د دروازې خوله چې باندیني حویلی ته داخلېږي، اوږدوالی یې درې متره ؤ. ۸-۹ بیا هغه دهلیز اندازه کړ او د هغه اوږدوالی څلور متره ؤ. هغه داسې جوړ شوی ؤ چې د دنننۍ دروازې اخرنی سر یې عبادتځای ته مخامخ ؤ او د دروازې چوکاټ یو متر پنډ او یو متر اوږد ؤ. ۱۰ دا وړې کوټې د ختیځې دروازې د دهلیز په دواړو خواوو کې یوه اندازه وې او د هغوی ترمنځ د دېوالونو پنډوالی هم یوشان ؤ.

۱۱ بیا هغه سړي د دروازې د چوکاټ تر منځ فاصله اندازه کړه. هغه پنځه متره پلن ؤ، سره له دې چې د دهلیز پراخوالی شپږنیم متره ؤ. ۱۲ د هرې وړې کوټې په مخکې یو ټیټ دېوال ؤ چې نیم متر لوړوالی یې درلود او نیم متر یې پنډوالی ؤ. هره کوټه درې درې متره مربع وه. ۱۳ بیا هغه د یوې کوټې د شا دېوال نه د بلې مخامخ کوټې د شا د دېوال پورې فاصله اندازه کړه او هغه دولس نیم متره وه. ۱۴ هغه د دواړو دروازو تر منځ دهلیز اندازه کړ چې تر حویلی پورې رسېدلې ؤ او اوږدوالی یې دېرش متره ؤ. باندینۍ حویلی د دهلیز په دریو خواوو کې وه. ۱۵ د باندینۍ دروازې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه د دننني دروازې تر اخره پورې ټوله فاصله پنځه ويشت متره وه. ١٦ د ټولو کوټو په باندينيو دېوالونو او همدارنګه د کوټو په منځ کې په دننيو دېوالونو کې وړې وړې کړکۍګانې وې. دهلېز ته مخامخ په دنني دېوالونو کې هم کړکۍګانې وې. دنني دېوالونه او چوکاټونه د خرما د ونو په تصويرونو باندې ښکلي کړای شوي وو.

## باندينۍ حوېلۍ

١٧ هغه سړي زه د دروازې له لارې باندينۍ حوېلۍ ته بوتلم. په هغه ځای کې باندیني دېوال ته مخامخ دېرش کوټې جوړې شوې وې او هغو ته مخامخ يوه لاره وه چې په تيږو باندې فرش شوې وه. ١٨ دا فرش شوې لاره د دهلېز په دواړو خواوو کې غزېدلې وه. څومره چې دهلېز اوږد ؤ، هغومره دا لاره پراخه وه. د دې لارې سطح د دننۍ حوېلۍ د سطحې نه ټيټه وه.

١٩ ختيځې دروازې ته مخامخ يوه بله پورتنۍ دروازه وه چې دننۍ حوېلۍ ته خلاصېدله. کله چې هغه د دواړو دروازو تر منځ فاصله اندازه کړه، نو هغه پنځوس متره وه. هغه بيا د ختيځې خوا نه شمال خواته لاړ.

## شمالي دروازه

٢٠ يوه شمالي دروازه وه چې باندينۍ حويلۍ ته د ننوتلو لاره وه. هغه سړي د هغې دروازې اوږدوالی او پراخوالی اندازه کړ. ٢١ درې وړې کوټې چې د دروازې د دهلېز په دواړو خواو کې وې، د هغو په منځ کې دېوالونه او د دننۍ کوټې اندازه د ختيځې دروازې سره يوشان وه. د دروازې اوږدوالی پنځه ويشت متره او سور يې دولس نيم متره ؤ. ٢٢ د کړکۍګانو، دهلېز او د خرما د ونو د تصويرونو اندازه هماغه شان وه، لکه څنګه چې په ختيځې دروازې کې وه. په دې ځای کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمالي دروازې ته یوه زینه ورختلې وه چې اووه پوړۍ یې درلودلې او دهلېز ته مخامخ وه. ٢٣ شمالي دروازې ته مخامخ د حوېلۍ دننه خواته یوه بله دروازه وه لکه څنګه چې ختیځې خواته وه. هغه سړي د دې دواړو دروازو ترمنځ فاصله اندازه کړه او هغه پنځوس متره وه.

## جنوبي دروازه

٢٤ بیا هغه سړي زه د جنوب خواته بوتلم او هلته مې یوه بله دروازه ولیدله. هغه دننني دېوالونه او دهلېز اندازه کړ او هغه هم د نورو دروازو په اندازه وو. ٢٥ د دې دروازې او د دروازې دهلېز هماغه شان کړکۍګانې درلودلې لکه څنګه چې په نورو دروازو کې وې. د ننوتلو د دهلېز ټول اوږدوالی پنځه ویشت متره او سور یې دولس نیم متره ؤ. ٢٦ دې دروازې ته یوه زینه ورختلې وه چې اووه پوړۍ یې لرلې او دهلېز ته مخامخ وه. د هغه دننني دېوالونو دواړې خواوې چې د تېرېدلو لارې ته مخامخ وو، د خرما د ونو په تصویرونو باندې ښکلې کړای شوې وو. ٢٧ دلته هم باندینۍ حوېلۍ ته مخامخ د دننني حوېلۍ جنوب خواته یوه دروازه وه. هغه سړي د دننني دروازې نه جنوب خواته تر باندینۍ دروازې پورې فاصله اندازه کړه، هغه پنځوس متره وه.

## د دنننۍ حوېلۍ جنوبي دروازه

٢٨ هغه سړي زه د جنوبي دروازې په لاره دنننۍ حوېلۍ ته بوتلم. هغه دروازه اندازه کړه او د هغې اندازه د باندینیو دروازو سره یوشان وه. ٢٩ د وړو کوټو، د هغه د دننني دېوالونو او د دهلېز اندازه د نورو دروازو سره یوشان وه. همدارنګه دې دروازې او دهلېز شاوخوا کړکۍګانې درلودلې. د هغو ټول اوږدوالی پنځه ویشت متره او سور یې دولس نیم متره ؤ. ٣٠ شاوخوا په دنننۍ حوېلۍ کې نور دهلېزونه هم وو چې اوږدوالی یې دولس نیم متره او سور یې دوه نیم متره ؤ. ٣١ د جنوبي دروازې دهلېز باندینۍ حوېلۍ ته مخامخ ؤ او دېوال یې د خرما د ونو په تصویرونو باندې ښکلې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړای شوي وو. دروازې ته يوه زينه ورختلې وه چې اته پوړۍ يې لرلې.

## د دننني حوېلۍ ختيځه دروازه

۳۲ هغه سړي زه د ختيځې دروازې په لاره دننني حوېلۍ ته بوتلم. هغه دروازه اندازه کړه او د
هغې اندازه د نورو دروازو سره يوشان وه. ۳۳ د وړو کوټو، د هغه د دننيو دېوالونو او د دهلېز
اندازه د نورو دروازو سره يوشان وه. همدارنګه دې دروازې او دهلېز شاوخوا کړکۍګانې درلودلې. د
هغو ټول اوږدوالی پنځه ويشت متره او سور يې دولس نيم متره ؤ. ۳۴ د ختيځې دروازې دهلېز
باندينۍ حوېلۍ ته مخامخ ؤ. دېوال يې په دواړو خواوو د خرما د ونو په تصويرونو باندې ښکلي
کړای شوي وو. دروازې ته يوه زينه ورختلې وه چې اته پوړۍ يې لرلې.

## د دننني حوېلۍ شمالي دروازه

۳۵ بيا هغه سړي زه شمالي دروازې ته بوتلم. هغه يې اندازه کړه او د هغې اندازه د نورو دروازو
سره يوشان وه. ۳۶ د وړو کوټو، د هغه د دننيو دېوالونو او دهلېز اندازه د نورو دروازو سره
يوشان وه. همدارنګه شاوخوا يې کړکۍګانې درلودلې. د هغو ټول اوږدوالی پنځه ويشت متره او سور
يې دولس نيم متره ؤ. ۳۷ د شمالي دروازې دهلېز باندينۍ حوېلۍ ته مخامخ ؤ. دېوال يې په دواړو
خواوو د خرما د ونو په تصويرونو باندې ښکلي کړای شوی ؤ. دروازې ته يوه زينه ورختلې وه چې
اته پوړۍ يې لرلې.

## د قربانۍ د تيارولو ځانګړې ځای

۳۸ د هرې دننۍ دروازې په څنګ کې يوه کوټه وه چې دروازه يې درلودله او په دې کوټو کې به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی د سوځېدونکو قربانیو غوښې وینځلې. ۳۹ د ننوتلو په کوټه کې څلور مېزونه وو چې د
کوټې دواړو خواو ته دوه دوه مېزونه ایښودل شوي وو. په دې مېزونو باندې به هغوی حیوانات
حلالول چې د سوځېدونکو نذرانو، د ګناه د نذرانو او د تاوان د نذرانو په توګه یې وړاندې کړي.
۴۰ کله چې خلک د شمال دننني دروازې ته پورته کېدل، د دروازې د خولې څخه دباندې په
دواړو خواوو کې دوه دوه مېزونه لیدل کېدل. ۴۱ ټول اته مېزونه وو چې د قربانۍ حیوانات به
وربانديې حلالېدل چې څلور یې دننه په کوټه کې او څلور یې د کوټې نه دباندې په حویلۍ کې وو.
۴۲ هلته څلور مېزونه نور هم وو چې د سوځېدونکو نذرانو د تیارولو دپاره ورڅخه کار اخیستل
کېده او هغه د توږل شویو تیږو نه جوړ شوي وو. په دې مېزونو باندې به یې هغه سامان ایښوده چې
د قربانۍ حیوانات به یې وربانديې حلالول. د دې مېزونو لوړوالی پنځوس سانتي متره او سرونه یې
پنځه اویا سانتي متره مربع وو. ۴۳ د مېزونو نه ګردچاپېره چنګکونه ټړل شوي وو چې پنځه اویا
ملي متره اوږدوالی یې درلود. د نذرانې غوښه به په دې مېزونو باندې ایښودل کېدله.

## د کاهنانو دپاره کوټې

۴۴ بیا هغه زه دننني حویلۍ ته بوتلم. په دننني حویلۍ کې دوه کوټې وې، یوه یې جنوب خواته
مخامخ وه چې د شمالي دروازې په څنګ کې وه او بله یې شمال خواته مخامخ وه چې د جنوبي
دروازې په څنګ کې وه. ۴۵ هغه سړي ماته وویل چې جنوب خواته مخامخ کوټه د هغو کاهنانو
دپاره ده چې د عبادت په ځای کې مسوولان دي، ۴۶ او شمال خواته مخامخ کوټه د هغو کاهنانو
دپاره ده چې د قربانۍ د ځای مسوولان دي. ټول کاهنان د صادوق اولاده ده، هغوی د لاوي د
قبیلې یوازېني خلک دي چې ورته اجازه شته چې د څښتن حضور ته ورشي او د هغه خدمت
وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دننني حوېلۍ او د عبادتځای ودانۍ

۴۷ هغه سړي دننني حوېلۍ اندازه کړه او هغه پنځوس متر مربع وه. د هغې مخامخ د قرباني ځای
ؤ. ۴۸ بیا هغه زه د عبادتځای دهلېز ته بوتلم او د دروازې چوکاټ یې اندازه کړ. هغه دوه نیم متره
مربع ؤ، د دروازې سور اووه متره ؤ او د دېوالونو د دواړو خواو پنډوالی یونیم متر ؤ. ۴۹ دهلېز ته
لس پوړېزه زینه ورختلې وه. د دې کوټې اوږدوالی لس متره او سور یې شپږ متره ؤ. د ننوتلو د
دروازې دواړو خواو ته یوه یوه ستنه وه.

۴۱ ۱ وروسته بیا هغه سړي زه د عبادت د ځای اصلي کوټې یعنې سپېڅلي ځای ته بوتلم.
هغه د دې کوټې د دروازې د دواړو خواوو چوکاټونه اندازه کړل او د هر یو پنډوالی درې متره ؤ،
۲ دروازه پنځه متره پراخه وه او د هغې د دواړو خواو د دېوالونو پراخوالی دوه نیم متره ؤ. هغه
همدا کوټه اندازه کړه، د هغې اوږدوالی شل متره او سور یې لس متره ؤ. ۳ بیا هغه دې کوټې ته
لاړ چې د ټولو په منځ کې وه. هغه د کوټې د دروازې چوکاټ اندازه کړ چې پنډوالی یې یو متر ؤ.
دروازه درې متره پراخه وه او د هغې د دواړو خواوو دېوالونه درې نیم متره پراخ وو. ۴ هغه بیا
همدا کوټه اندازه کړه چې هغه لس متره مربع وه. دا کوټه د اصلي کوټې شاته وه. بیا هغه ماته وویل:
«دا ډېر سپېڅلی ځای دی.»

## د عبادت د ځای دېوالونو څنګ ته کوټې

۵ هغه سړي د عبادتځای دېوال اندازه کړ او د هغه پنډوالی درې متره ؤ. د دې دېوال دباندې د
عبادتځای ګردچاپېره یو شمېر کوچنۍ کوټې وې چې دوه متره یې سور ؤ. ۶ دا کوټې په درې
منزلونو کې جوړې شوې وې چې په هر منزل کې یې دېرش کوټې وې. د عبادت د ځای ګردچاپېره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دېوالونو کې ځنډې وې چې دا کوټې به يې ټينګولې، ترڅو کوټې په خپله د ودانۍ په دېوال کې نښتې نه وې. ⑦ د عبادتځای شاوخوا کوټې داسې جوړې شوې وې. څنګه چې څوک په کې پورته کېده، هغه پراخه کېدلې. د لاندېنی منزل څخه د منځني منزل له لارې تر پاسني منزل پورې يوه زينه ختلې وه. ⑧ ما وليدل چې د عبادتځای په يو بنياد باندې ولاړ ؤ. د عبادتځای شاوخوا يوه صفه وه چې درې متره لوړه وه. ⑨-⑪ د کوټو باندينې دېوال پنډوالی دوه نيم متره ؤ. په اصلي بنياد باندې داسې ځای لکه صفه ؤ چې د عبادتځای د کوټو په شاوخوا کې دوه نيم متره يې سور درلود. د بنياد د غاړې نه د کاهنانو تر کوټو پورې لس متره فاصله وه. د دې کوټو يوه دروازه د عبادتځای شمال خواته خلاصېدله او يوه دروازه جنوب خواته.

## د لوېديځ خواته ودانۍ

⑫ د عبادت د ځای لوېديځ خواته يو خالی ځای ؤ. لوېديځ خواته په اخر سر کې يوه ودانۍ وه چې اوږدوالی يې پنځه څلوېښت متره او سور يې پنځه دېرش متره ؤ. د هغې د ګردچاپېره دېوالونو پنډوالی دوه نيم متره ؤ.

## د عبادت د ځای مساحت

⑬ هغه سړي د بهر څخه د عبادت د ځای اصلي ودانۍ اندازه کړه چې د هغې اوږدوالی پنځوس متره ؤ. هغه د عبادت د ځای د ودانۍ د شا د دېوال څخه د خالي ځای په شمول تر لوېديځې ودانۍ د بهرني دېوال پورې مساحت اندازه کړ چې د هغه اوږدوالی هم پنځوس متره ؤ. ⑭ ختيځې خواته د عبادت د ځای د حوېلۍ سور چې په هغې کې د عبادت د ځای مخه هم شامله وه، پنځوس متره ؤ. ⑮ هغه د لوېديځې ودانۍ بهرنۍ اوږدوالی اندازه کړ چې په هغې کې د دېوالونو د دواړو خواو ځنډې هم شاملې وې، هغه هم پنځوس متره ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عبادت د ځای د ودانۍ تفصیلات

د عبادت د ځای د اصلي کوټې دننني دېوالونه، دهلېز، (۱۶) د دروازو خولې، وړې کړکۍګانې او هغه درې څنډې چې د دې کوټو شاوخوا وې، همدارنګه د دروازې د خولې په مخکې دېوالونه د غولي څخه تر وړو کړکیو پورې د تړل شویو کړکۍګانو په شمول، دا ټول په لرګیو پوښل شوي وو. (۱۷) د دروازې دپاسه دېوال، د عبادت د ځای په دننه او دباندې او د هغه د شاوخوا په ټولو دېوالونو باندې که دننه وو او که دباندې، (۱۸) د اسماني مخلوقاتو او د خرما د ونو نقشونه ویستل شوي وو. مخکې یوه ونه وه، بیا یو اسماني مخلوق ؤ، ونه او اسماني مخلوق په دې ډول ویستل شوي وو. دغو اسماني مخلوقاتو هر یو دوه دوه مخونه درلودل. (۱۹)-(۲۰) په یو اړخ باندې یې د انسان مخ ؤ چې د خرما د ونې خواته یې کتل او بل اړخ باندې یې د ځوان زمري مخ ؤ چې هغه هم د خرما د ونې خواته کتل. د غولي نه نیولې د دروازو تر سره پورې، ګردچاپېره په ټولو دېوالونو او همدارنګه د اصلي کوټې په دېوالونو باندې د اسماني مخلوقاتو او د خرما د ونو نقشونه ویستل شوي وو. (۲۱) د اصلي کوټې د دروازې چوکاټونه مربع شکله وو.

د ډېر سپېڅلي ځای د دروازې د چوکاټ لرګي هم د دې په شان وو.

## د لرګیو نه جوړ شوی د قربانۍ ځای

(۲۲) د لرګیو نه جوړ شوی د قربانۍ د ځای لوړوالی یونیم متر او مساحت یې یو متر مربع ؤ. د هغه د کنج پایې، بنیاد او د هغه خواوې ټولې د لرګیو نه جوړې شوې وې. هغه سړي ماته وویل: «دا هغه مېز دی چې د څښتن په حضور کې اېښودل کېږي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عبادت د ځای دروازې

۲۳ د عبادت ځای لویې کوټې یعنې سپېڅلي ځای او ډېر سپېڅلي ځای دوه، دوه پرله پسې
دروازې درلودلې. ۲۴ دې دروازو دوه پلې درلودلې چې هره دروازه به د منځ نه خلاصېدله. ۲۵
د عبادت د ځای د لویې کوټې دروازې هم د دېوالونو په شان د خرما د ونو او اسماني مخلوقاتو په
نقشونو باندې ښکلې کړای شوې وې. د دهلېز د دروازې په باندیني ځای باندې د لرګیو چترۍ
لګول شوې وه. ۲۶ د دې کوټې په اړخونو کې وړې کړکۍګانې وې او دېوالونه یې د خرما د ونو
په نقشونو باندې ښکلي کړای شوي وو. د عبادت د ځای نورو کوټو هم چترۍګانې درلودلې.

## د کاهنانو کوټې

۴۲ ۱ بیا هغه سړي زه باندینۍ حوېلۍ ته بوتلم او هغې ودانۍ ته یې راوستلم چې د
عبادتځای په شمال کې وه او د هغې ودانۍ او خالي ځای ته مخامخ وه چې د عبادتځای لوېدیځ
خواته وه. ۲ د دې ودانۍ اوږدوالی پنځوس متره او سور یې پنځه ویشت متره ؤ او دروازه یې
شمال خواته خلاصېدله. ۳ د ودانۍ یوې خواته یوه ساحه وه چې د عبادتځای په خوا کې وه او
لس متره سور یې درلود. بله خوا یې د باندینۍ حوېلۍ لارې ته مخامخ وه. ودانۍ په درېو منزلو کې
جوړه شوې وه او هر منزل د لاندېني منزل په پرتله شاته ؤ. ۴ د دننۍ حوېلۍ خواته او د ودانۍ
د کوټو په مخکې یوه لاره وه چې سور یې پنځه متره ؤ. د ودانۍ شمال خواته هم یوه لاره وه چې
نیم متر پراخه وه او دروازې یې هم شمال خواته خلاصېدلې. ۵ نو د ودانۍ پاسنۍ کوټې د
منځنیو او لاندېنیو کوټو نه تنګې وې، ځکه چې هغه شاته جوړې شوې وې. ۶ کوټې په درېو
منزلو کې جوړې شوې وې، خو د حوېلیو د ودانیو په شان یې ستنې نه درلودلې. له دې امله پاسنۍ
کوټې د لاندېنیو او منځنیو کوټو په پرتله شاته جوړې شوې وې. ۷ په باندینۍ حوېلۍ کې دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ودانۍ ته موازي يو دېوال ؤ او دا د ودانۍ د دېوال نيمايي برخه وه چې اوږدوالى يې پنځه ويشت
متره ؤ. ۸ دا دېوال ځکه داسې ؤ چې د باندينۍ حوېلۍ د ودانۍ اوږدوالى پنځه ويشت متره ؤ،
سره له دې چې د عبادتځاى مخامخ ودانۍ پنځوس متره پراخه وه. ۹-۱۰ د ودانۍ په لومړني
منزل کې چېرته چې دېوال پيلېده، يوه داسې دروازه وه چې يو کس کولاى شول د باندينۍ حوېلۍ
څخه دننني ودانۍ ته ورننوځي. دا دروازه ختيځ خواته خلاصېدله.

جنوب خواته هم لکه د شمال په شان يوه ودانۍ وه چې کوټې په کې وې. دا کوټې هم لوېديځې
ودانۍ ته او د عبادت د ځاى شاته يعنې خالي ځاى ته مخامخ وې. ۱۱ د دې کوټو په مخ کې يوه
لاره وه او دا کوټې د شمال د کوټو په شان وې. د ودانۍ مساحت، نقشې او د وتلو دروازې هم د
شمال د کوټو په شان وې. ۱۲ د جنوبي ودانۍ دروازې جنوب خواته خلاصېدلې. ودانۍ ته مخامخ
د شمال په شان يو دېوال ؤ چې يوه لاره يې درلودله. د دې لارې په پيل کې داسې يوه دروازه وه
چې دې ودانۍ ته د ورننوتلو لاره وه او ختيځ خواته خلاصېدله.

۱۳ هغه سړي بيا ماته وويل: «د شمال او جنوب خواته، د عبادتځاى شاته د خالي ځاى په
مخکې، دا دواړه ودانۍ سپېڅلې دي. په هغو کې هغه کاهنان چې د څښتن حضور ته ورځي، ډېرې
سپېڅلې نذرانې خوري. هغوى هلته هغه نذرانې ځاى په ځاى کوي، لکه د غلو دانو نذرانې، د ګناه
دپاره نذرانې او د تاوان دپاره نذرانې، ځکه چې هغه کوټې سپېڅلې دي. ۱۴ کله چې کاهنان د
عبادت په ځاى کې وي او وغواړي چې باندينۍ حوېلۍ ته لاړ شي، نو هغوى چې د څښتن د
خدمت کولو دپاره کوم کالي اغوستي وو، هغه دې په دې کوټو کې پرېږدي، ځکه چې دا کالي
سپېڅلي دي. مخکې له دې چې هغوى هغه ځاى ته لاړ شي چې نور خلک په کې راټولېږي، نو بايد
نور کالي واغوندي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عبادتځای د ساحې اندازه

۱۵ کله چې هغه سړي د عبادتځای دننه اندازه کول سرته ورسول، هغه زه د ختيځې دروازې په
لاره دباندې بوتلم او بيا يې شاوخوا ټول ځای اندازه کړ. ۱۶ هغه د اندازه کولو لرګی واخيست او
ختيځه خوا يې اندازه کړه او هغه دوه سوه او پنځوس متره وه. ۱۷ بيا هغه شمالي خوا اندازه کړه
او هغه دوه سوه او پنځوس متره وه. ۱۸ هغه جنوبي خوا اندازه کړه او هغه دوه سوه او پنځوس
متره وه. ۱۹ په پای کې هغه لوېديځې خوا ته تاو شو او هغه يې اندازه کړه او هغه هم دوه سوه او
پنځوس متره وه. ۲۰ نو هغه د څلورو خواوو دېوال اندازه کړ. ګردچاپېره دېوال مربع شکله ؤ او
څلور واړه خواو کې هغه دوه سوه او پنځوس متره ؤ. دا دېوال د دې دپاره ؤ چې سپېڅلی ځای د
عادي ځای نه بېل کړي.

## د څښتن جلال د هغه کور ته راستنېږي

**۴۳** ۱ بيا هغه سړي زه هغې دروازې ته بوتلم چې ختيځې خواته مخامخ وه، ۲ او ما
وليدل چې د ختيځې خوا نه د اسراييلو د خدای جلال راروان دی. د خدای د راتلو اواز د تېزو اوبو
د غرهار په شان ؤ او ځمکه د هغه د جلال څخه رڼا شوه. ۳ دا رويا د هغې رويا په شان وه چې
ما هغه وخت ليدلې وه چې کله خدای د اورشليم د منځه وړلو دپاره راغلی ؤ او د هغې رويا په شان
وه چې ما د خابور د سيند په غاړه ليدلې وه. بيا زه د وېرې نه پړمخې پرېوتم. ۴ د څښتن جلال
د ختيځې دروازې له لارې ننوت او د هغه کور ته ننوت. ۵ بيا د څښتن روح زه اوچت کړم،
دننني حويلۍ ته يې بوتلم او ما وليدل چې د څښتن کور د هغه د جلال نه ډک شو.

۶ په داسې حال کې چې هغه سړی زما په څنګ کې ولاړ ؤ، ما د څښتن اواز واورېده چې دننه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل کور نه يې زما سره خبرې کولې. ۷ هغه وويل: «ای فاني انسانه، دا زما تخت او د پښو د
اېښودلو ځای دی. زه به دلته د اسراييلو د قوم په منځ کې د تل دپاره اوسېږم. نور به د اسراييلو قوم
او د هغوی پاچاهان نورو خدايانو ته په عبادت کولو يا په دې ځای کې د خپلو مړو پاچاهانو په
زيارت کولو سره زما سپکاوی ونه کړي. ۸ پاچاهانو خپلې ماڼۍ زما د کور په څنګ کې جوړې
کړلې چې زما او د هغوی په منځ کې يوازې يو دېوال ؤ. هغوی د خپلو د کرکې وړ کارونو سره زما
د سپېڅلي نوم بې‌عزتي وکړه او ما په خپل قهر سره هغوی له منځه يووړل. ۹ نو اوس بايد
هغوی د نورو خدايانو عبادت بس کړي او د خپلو پاچاهانو زيارتونه دې لرې کړي. که هغوی
داسې وکړي، نو زه به د تل دپاره د هغوی سره واوسېږم.»

۱۰ نو بيا څښتن ووېل: «ای فاني انسانه، زما د کور په هکله د اسراييلو قوم ته ووايه چې د هغې
نقشې په هکله فکر وکړي او د خپلو ګناهونو څخه وشرمېږي. ۱۱ که چېرې هغوی د خپلو ټولو
بدو کارونو په سبب وشرمېږي، نو زما د کور د نقشې، تصوير، دروازې، د هغې د وتلو او ننوتلو لاره،
د قوانينو او مقرراتو په هکله هغوی ته تشريح ورکړه. دا ټول شيان هغوی ته وليکه چې هغوی يې
ووينې دا هرڅه څنګه تيار شوي دي، ترڅو هغوی په ټولو قوانينو باندې عمل وکړي. ۱۲ زما د
کور قانون دا دی. د غره په سر باندې چېرته چې زما کور دی، د هغې شاوخوا سيمه به ډېره
سپېڅلې وي. ګوره، دا د زما د کور قانون دی.»

## د قربانۍ ځای

۱۳ «دا د قربانۍ د ځای مساحت دی، چې په هغې کې د اندازه کولو د هغه واحد نه کار اخيستل
شوی لکه څنګه چې زما په کور کې ؤ. د قربانۍ د ځای په شاوخوا کې لښتی ؤ چې پنځوس سانتي
متره ژور ؤ او پنځوس سانتي متره يې سور ؤ او څنډې يې پنځه ويشت سانتي متره لوړې وې. ۱۴
د قربانۍ د ځای لاندېنۍ برخې د لښتي نه تر پورتنۍ څنډې پورې يو متر لوړوالی ؤ او د څنډې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سور يې پنځوس سانتي متره ؤ. د لاندېنۍ برخې ښنډې نه تر منځنۍ برخې ښنډې پورې يې دوه
متره لوړوالی ؤ. د دې ښنډې سور هم پنځوس سانتي متره ؤ. ١٥ هغه پاسنۍ برخه چې قربانۍ
وربانډې سوځول کېږي، هغې هم دوه متره لوړوالی درلود. په څلورو کنجونو باندې چې کوم
ښکرونه وو، هغه د پاسنۍ برخې نه اوچت وو. ١٦ د قربانۍ د ځای پاسنۍ برخه مربع شکله وه
چې هره خوا يې شپږ شپږ متره وه. ١٧ د پاسنۍ برخې ښنډې هم د مربع شکل درلود چې هره
خوا يې اووه متره وه. د دې برخې د باندينۍ ښنډې سور پنځه ويشت سانتي متره ؤ. دلته يو لښتی
هم ؤ چې ژوروالی يې پنځوس سانتي متره ؤ. د قربانۍ ځای ته چې کومه زينه ختلې وه، هغه
ختيځې خواته وه.»

## د قربانۍ د ځای وقف کېدل

١٨ څښتن تعالی ماته وويل: «ای فاني انسانه، زه داسې وايم چې د قربانۍ د ځای قوانين دا دي:
کله چې د قربانۍ ځای جوړ شو، نو په هغې باندې د قربانيو په سوځولو او د قرباني شويو حيواناتو
د وينې په شيندلو باندې هغه وقف کېږي. ١٩ ته بايد يو خوسی هغو کاهنانو ته چې لاويان او د
صادوق اولاده ده، ورکړې. يوازې هغوی دا اجازه لري چې زما حضور ته راشي او زما خدمت
وکړي. هغوی به دا خوسی د ګناه د نذرانې په توګه وړاندې کړي. زه څښتن تعالی داسې وايم. ٢٠
ته بايد د هغې نه لږه وينه واخلې او هغه د قربانۍ د ځای په څلورو ښکرونو او د قربانۍ د ځای د
پاسنۍ ښنډې په څلورو کنجونو او د هغې د غاړو په ټولو خواو باندې وموښې. ته به د قربانۍ د
ځای د پاکوالي مراسم تر سره کړې او په دې ډول به هغه پاک شي. ٢١ ته به هغه خوسی چې د
ګناه د قربانۍ په توګه وړاندې شوی دی، يوسې او هغه به د عبادت د ځای يعنې د څښتن د کور د
ساحې نه دباندې په يو ځانګړي ځای کې چې د کور سره اړه لري، وسوځول شي. ٢٢ بله ورځ به
يو سېرلی چې کوم عيب په کې نه وي، بوځې او د ګناه د قربانۍ په توګه به يې وړاندې کړې. لکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خنګه چې د قربانۍ ځای د خوسي په وينو پاک شو، همداسې دې د سېرلي په وينو پاک شي. ۲۳
کله چې دې دا کار خلاص کړ، نو يو خوسی او يو ځوان پسه چې په دواړو کې کوم عيب نه وي،
واخله ۲۴ او ماته يې راوله. کاهنان به په هغو باندې مالګه وشيندي او هغه به ماته د سوځېدونکې
نذرانې په توګه وړاندې کړي. ۲۵ ته به اووه ورځې هره ورځ يو سېرلی د ګناه د نذرانې دپاره تيار
کړې، همدارنګه يو خوسی او يو ځوان پسه چې عيب په کې نه وي، تيار کړه. ۲۶ کاهنان بايد
اووه ورځې د قربانۍ ځای پاک کړي او په دې ډول به هغوی دا وقف کړي. ۲۷ د اوو ورځو نه
وروسته کاهنان بايد هغه سوځېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې چې خلک يې راوړي، د قربانۍ
په ځای باندې وړاندې کړي. بيا به زه ستاسو نه راضي شم. ما څښتن تعالی داسې ويلي دي.»

## د تل دپاره ختيځه تړل شوې دروازه

۴۴ ۱ هغه سړي زه بېرته د عبادتځای د بهرنۍ حوېلۍ ختيځې دروازې ته بوتلم، خو هغه تړل
شوې وه. ۲ څښتن ماته وويل: «دا دروازه به تړلې پاتې وي او هېڅکله به نه خلاصيږي.
هېڅوک نه شي کولای چې په هغې باندې ننوځي، ځکه چې زه د اسراييلو څښتن تعالی په هغې
باندې ننوتلی يم. په دې خاطر هغه بايد تړلې پاتې شي. ۳ يوازې د اسراييلو د هېواد مشر کولای
شي چې هلته دننه لاړ شي او زما په حضور کې سپېڅلې خواړه وخوري. هغه بايد د دهلېز د دننني
دروازې له لارې ننوځي او په همدې لاره بايد دباندې ووځي.»

## د څښتن کور ته د ننوتلو قوانين

۴ بيا هغه سړي زه د شمالي دروازې له لارې د څښتن کور مخې ته بوتلم. څنګه چې مې وکتل،
نو ما وليدل چې کور د څښتن د جلال نه ډک شوی ؤ. زه په ځمکه باندې پړمخې پرېوتم. ۵

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن ماته وویل: «ای فاني انسانه، څه چې وینې او اورې ورته پام کوه. زه تاته د ښښتن د کور
ټول قوانین وایم. دا په غور سره په یاد ساته چې کوم خلک اجازه لري د ښښتن کور ته لاړ شي او
راشي او کوم خلک اجازه نه لري. ۶ د اسراییلو سرکښو خلکو ته ووایه چې زه ښښتن تعالی
داسې وایم: ‹تاسو دا ټول د کرکې وړ کارونه نور بس کړئ. ۷ تاسو زما د عبادتځای سپکاوی
کوئ، ځکه کله چې ماته د قربانیو وازګه او وینه وړاندې کوئ، په دې وخت کې پردیو ناسنته او هغو
خلکو ته چې زما نافرماني کوي، اجازه ورکوئ چې زما کور ته ننوځي. نو تاسو په دې کارونو سره
چې د کرکې وړ دي، زما لوظ ماتوئ. ۸ تاسو د دې په ځای چې زما په عبادتځای کې سپېڅلي
مراسم سرته ورسوئ، نورو پردیو خلکو ته مو دا مسوولیت ورسپارلی دی.›

## لاویان اجازه نه لري چې کاهنان شي

۹ زه ښښتن تعالی داسې وایم: ‹هرڅوک چې د اسراییلو د خلکو په منځ کې زما د عبادت کولو
وړ نه وي، یعنې پردي خلک، هغه سړي چې ناسنته وي او یا زما نافرماني کوي، نه شي کولای زما
عبادتځای ته ننوځي. ۱۰ خو زه هغو لاویانو ته سزا ورکوم چې د اسراییلو د نورو خلکو سره
یوځای یې زه پرېښی یم او د بتانو عبادت یې کړی دی. ۱۱ هغوی کولای شي زما د عبادتځای د
دروازو ساتنه وکړي او د هغه کارونه سرته ورسوي. هغوی دې هغه حیوانات چې خلک یې د
سوځېدونکو نذرانو او قربانیو په توګه وړاندې کوي، حلال کړي او د خلکو په خدمت کې حاضر
وي. ۱۲ خو په دې خاطر چې هغوی د اسراییلو خلک د بتانو عبادت کولو ته وهڅول او په دې
ډول یې هغوی د ګناه خواته بوتلل، نو ما ښښتن تعالی قسم خوړلی دی چې هغوی ته به خامخا سزا
ورکړل شي. ۱۳ هغوی به نور د کاهنانو په توګه زما خدمت نه کوي او نه به هغو شیانو ته ورنژدې
کیږي چې ماته سپېڅلي دي او نه به ډېر سپېڅلي ځای ته ورننوځي. هغوی به د کرکې وړ هغو
کارونو له امله چې کړي یې دي، وشرمیږي. ۱۴ خو بیا به هم هغوی زما د کور د ساتلو او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېلابېلو خدمتونو دپاره وټاکم.›»

## کاهنان

۱۵ څښتن تعالی داسې ووېل: «کله چې نورو اسراییلیانو زه پرېښودم او بې‌لارې شول، بیاهم د
لاوي د قبیلې هغو کاهنانو چې د صادوق اولاده ده، په وفادارۍ سره زما په عبادتځای کې زما
خدمت کاوه. نو هغوی هغه خلک دي چې زما خدمت به وکړي، زما حضور ته به راشي او ماته به د
قربانیو وازګه او وینه وړاندې کړي. ۱۶ یوازې هغوی به زما عبادتځای ته ننوځي، زما د قربانۍ په
ځای کې به خدمت کوي او په عبادتځای کې به مراسم سرته رسوي. ۱۷ کله چې هغوی د
عبادتځای د دننۍ حوېلۍ په لاره ننوځي، باید د کتان کالي واغوندي. کله چې هغوی د دننۍ
حوېلۍ په دروازو یا عبادتځای کې کار کوي، باید هغه کالي وانه غوندي چې د وړیو څخه جوړ
شوي وي. ۱۸ د دې دپاره چې د هغوی بدن خولې نه شي، نو باید د کتان لونګۍ په سر کړي او
نېکرونه واغوندي. ۱۹ مخکې له دې چې هغوی باندینۍ حوېلۍ ته چې خلک په کې دي لاړ شي،
باید خپل هغه کالي چې په عبادتځای کې یې د کار په وخت کې اغوندي، وباسي او په سپېڅلو کوټو
کې دې پرېږدي. هغوی باید نور کالي واغوندي، ترڅو د هغوی سپېڅلي کالي خلکو ته زیان ونه
رسوي.

۲۰ کاهنان باید د خپلو سرونو ویښتان ونه خرایي او نه یې اوږده پرېږدي. هغوی باید خپل
ویښتان په مناسبه اندازه وساتي. ۲۱ کاهنان باید دننۍ حوېلۍ ته د ننوتلو نه مخکې شراب ونه
څښي. ۲۲ هېڅ یو کاهن باید د کونډې یا د طلاقې شوې ښځې سره واده ونه کړي، هغه باید د
اسراییلو د قوم نه د یوې پېغلې انجلۍ سره یا د بل کاهن د کونډې سره واده وکړي.

۲۳ کاهنان باید زما قوم ته د سپېڅلي او عادي شیانو تر منځ توپیر ورزده کړي او پاکو او ناپاکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شيانو ترمنځ فرق وروښايي. ۲۴ کله چې يوه حقوقي دعوه رامنځته کيږي، نو کاهنان بايد د هغې
دعوې په هکله زما د حکمونو له مخې پريکړه وکړي. هغوی بايد زما اخترونه زما د قوانينو او
مقرراتو له مخې ونيسي او بايد زما د سبت ورځ سپېڅلې وګڼي.

۲۵ کاهنان بايد مړو ته ورنږدې نه شي او په دې باندې خپل ځانونه ناپاکه نه کړي، خو په هغه
حالت کې چې هغه يې مور او پلار وي يا د هغه زوی او لور وي يا يې ورور وي يا يې ناواده شوې
خور وي. ۲۶ کله چې هغه بېرته پاک شو، نو بايد اووه ورځې صبر وکړي ۲۷ او بيا دې د
عبادتځای دننۍ حويلۍ او سپېڅلي ځای ته لاړ شي چې د کاهن په توګه خدمت وکړي. خو د دې
نه مخکې بايد د خپل ځان دپاره د ګناه نذرانه وړاندې کړي. ما څښتن تعالی داسې ويلي دي.

۲۸ کاهنتوب هغه ميراث دی چې ما کاهنانو ته د اسراييلو په قوم کې ورکړی دی چې د يو نسل
نه بل نسل ته به ولېږدول شي. هغوی بايد په اسراييلو کې خپل جايداد ونه لري، ځکه چې زه د
هغوی ملکيت او شتمني يم. ۲۹ کاهنان به د غلو دانو نذرانې، د ګناه نذرانې او د تاوان نذرانې د
خپل خوراک په توګه وکاروي او په اسراييلو کې چې هر څه ماته وقف کيږي، هغه به هغوی اخلي.
۳۰ د لومړني فصل ډېر ښه حاصلات او د لومړنۍ برخې هرڅه چې ماته وړاندې کيږي، هغه به د
کاهنانو وي. تاسو بايد د خپلو اوړو اولنۍ پېړه کاهنانو ته ورکړئ، نو د هغوی په کورونو باندې به
زما برکتونه نازل شي. ۳۱ کاهنان بايد هغه مرغۍ يا حيوان چې په خپل مرګ مړ شوی وي او يا
کوم وحشي حيوان وژلی وي، ونه خوري.»

## د ځمکې سپېڅلې برخه

۴۵ ۱ «کله چې تاسو د اسراييلو د قبيلو ترمنځ ځمکه وېشئ، نو يوه برخه يې څښتن ته بېله
کړئ. هغه بايد دولس نيم کيلومتره اوږدوالی ولري او لس کيلومتره سور ولري. دا ټوله ځمکه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپېڅلې وي. ۲ په دې ساحه کې به د عبادتځای دپاره یوه مربع شکله ځمکه وي چې هره خوا
به یې دوه سوه او پنځوس متره وي او ګردچاپېره به یې یو خالي ځای وي چې پنځه ویشت متره
سور ولري. ۳ د دې ساحې نیمه برخه به دولس نیم کیلومتره اوږدوالی او پنځه کیلومتره سور
ولري چې په هغه کې به عبادتځای یعنې ډېر سپېڅلی ځای وي. ۴ دا به د هغې ځمکې سپېڅلې
برخه وي چې د هغو کاهنانو دپاره چې په عبادتځای کې د ښتن خدمت کوي، ځانګړې شوې
وي. په دې ځمکه کې به د هغوی کورونه او د عبادتځای دپاره ځمکه وي. ۵ د دې ځمکې بله
نیمایي برخه چې دولس نیم کیلومتره به یې اوږدوالی او پنځه کیلومتره به یې سور وي، دا به د هغو
لاویانو وي چې د ښتن په کور کې خدمت کوي. هلته به د هغوی د اوسېدلو دپاره ښارګوټي وي.

۶ د دې ځمکې په خوا کې به یوه بله برخه وي چې دولس نیم کیلومتره به یې اوږدوالی وي او
دوه نیم کیلومتره به یې سور وي، هغه به د هغه ښار دپاره بېله کړای شي چې د اسراییلو د ټول قوم
دپاره وي.»

## د مشر دپاره ځمکه

۷ «د هېواد د مشر دپاره هم باید ځمکه بېله کړای شي. دا به د سپېڅلې ساحې او د ښار د برخې
د لوېدیځې پولې نه د مدیترانې تر بحیرې پورې او د هېواد د ختیځې پولې پورې رسېږي چې هغه
به د هغو ساحو سره موازي وي چې د اسراییلو د قبیلو دپاره ټاکل شوې دي. ۸ دا به د اسراییلو
په وطن کې د وخت د مشر برخه وي، ترڅو نور زما په قوم باندې ظلم ونه کړي او پاتې ځمکه د
اسراییلو قبیلو ته پرېږدي.»

## د مشرانو دپاره قوانین

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ ښتن تعالی داسې وويل: «ای د اسراييلو مشرانو، تاسو نوره ګناه مه کوئ! خپل ظلم او زور
زياتی پرېږدئ. عادلانه او سم کارونه وکړئ. تاسو نور بايد زما قوم د خپلو ځمکو نه ونه شړئ. ما
ښتن تعالی داسې ويلی دي.

١٠ تاسو بايد په خپل کاروبار کې د سم وزن او پيمانو څخه کار واخلئ. ١١ ايفه چې د وچو
شيانو د پيمانه کولو او بات چې د مايعاتو د پيمانه کولو دپاره دي، بايد يو برابر وي. حومر د دواړو
د اندازه کولو واحد دی. اندازه اخيستل په لاندې ډول وو: يو حومر د لس ايفه سره برابر دی او لس
ايفه د لس باتو سره برابر دی. ١٢ د وزن د اندازه کولو واحد بايد په لاندې ډول وي:

شل جيرې د يوې سکې سره برابرې دي
شپېته سکې د يوې منا سره برابرې دي

١٣-١٤ دا هغه اصول دي چې د هغو له مخې به تاسو خپلې نذرانې وړاندې کوئ:

غنم: د خپل حاصل شپېتمه برخه
اوربشې: د خپل حاصل شپېتمه برخه
د زيتونو تېل: د خپلو ونو د حاصلاتو سلمه برخه

(د بات له مخې اندازه کول: لس بات د يو حومر سره برابر دي او يو حومر د يو کر سره برابر دی.)

١٥ د اسراييلو د څرځايونو نه، د رمو د دوه سوه پسونو نه يو پسه

«تاسو بايد د غلو دانو د نذرانو، د سوځېدونکو د نذرانو او د سلامتی د نذرانو دپاره حيوانات راولئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستاسو د ګناهونو دپاره کفاره ادا شي.» ما څښتن تعالی داسې ويلي دي.

١٦ «د اسراييلو ټول خلک بايد دا نذرانې د اسراييلو مشر ته يوسي. ١٧ دا به د هغه دنده وي
چې د سوځېدونکو نذرانو دپاره حيوانات، د غلو دانو نذرانې او د څښلو نذرانې د نوې مياشتې په
اخترونو، د سبت په ورځ او د نورو ټولو اخترونو په لمانځلو کې د اسراييلو د ټول قوم دپاره نذرانې
تيارې کړي. هغه بايد د اسراييلو د خلکو د ګناهونو د کفارې د ادا کولو دپاره د ګناه نذرانې، د غلو
دانو نذرانې، سوځېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې تيارې کړي.»

## اخترونه

(هجرت ١٢:١–٢٠، لاويان: ٢٣:٣٣–٤٣)

١٨ څښتن تعالی داسې وايي: «تاسو د عبادتځای د پاکولو دپاره بايد د لومړۍ مياشتې په لومړۍ
ورځ يو خوسی چې کوم عيب په کې نه وي، واخلئ او قرباني يې کړئ. ١٩ کاهن بايد د ګناه د
نذرانې لږه وينه واخلي او هغه دې زما د کور د دروازې په چوکاټونو، د قربانۍ د ځای د پاسنۍ
څنډې په څلورو کنجونو او د دننۍ حويلۍ د دروازې په چوکاټ باندې وموښي. ٢٠ د مياشتې په
اوومه ورځ بايد تاسو د هر هغه چا دپاره چې په سهوې سره يا د ناپوهۍ له امله يې ګناه کړې وي،
همداسې کار وکړئ. په دې ډول به تاسو زما کور پاک کړئ.

٢١ د لومړۍ مياشتې په څوارلسمه ورځ به تاسو د فسحې اختر ولمانځئ. اووه ورځې به خلک
فطيره ډوډۍ وخوري. ٢٢ د اختر په لومړۍ ورځ بايد مشر د خپلو او د ټولو خلکو د ګناهونو په
خاطر يو خوسی تيار کړي. ٢٣ د اختر په اوو ورځو کې به هره ورځ هغه اووه غويان او اووه
پسونه چې کوم عيب په کې نه وي، څښتن ته د سوځېدونکې نذرانې دپاره تيار کړي. همدارنګه هغه
به هره ورځ يو سېرلی د ګناه د نذرانې دپاره تيار کړي. ٢٤ د هر خوسي او هر پسه دپاره چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرباني کيږي، نو د هغو سره به څوارلس کيلوګرامه د غلو دانو نذرانه او څلور ليتره د زيتونو تېل هم وي.

۲۵ د اوومې مياشتې په پنځلسمه ورځ چې اختر شروع کيږي، هغه مشر به اووه ورځې هره ورځ هماغه شان د ګناه دپاره نذرانې، سوځېدونکې نذرانې، د غلو دانو او د زيتونو د تېلو نذرانې وړاندې کړي.»

## مشر او اخترونه

# ۴۶

۱ څښتن تعالی داسې وايي: «دننني حوېلۍ ته د ختيځې خوا د ننوتلو دروازه بايد د هفتې په شپږو کاري ورځو کې بنده وساتل شي، خو د سبت په ورځ او د نوې مياشتې په اختر کې بايد خلاصه شي. ۲ مشر به د باندينۍ حوېلۍ نه د دروازې په لاره دننۍ کوټې ته ننوځي او په داسې حال کې چې کاهنان د هغه سوځېدونکې نذرانه او د هغه د سلامتۍ نذرانې وړاندې کوي، هغه به د دروازې د چوکاټ سره ودريږي. هغه بايد هلته د دروازې د خولې سره عبادت وکړي او بيا دباندې ووځي. دروازه بايد تر ماښامه پورې ونه تړل شي. ۳ د سبت په ورځ او د هرې نوې مياشتې په اختر کې بايد د هېواد ټول خلک د هغې دروازې مخې ته څښتن ته سجده وکړي.

۴ د سبت په ورځ به مشر څښتن ته شپږ ورې او يو پسه چې په هغو کې کوم عيب نه وي د سوځېدونکو نذرانو په توګه وړاندې کړي. ۵ هغه به د هر پسه سره لس کيلوګرامه غلې دانې او د هر ورې سره به دومره نذرانه چې څومره يې زړه غواړي، وړاندې کړي. د غلو دانو د نذرانو د هرې لس کيلوګرامه نذرانې دپاره به څلور څلور ليتره د زيتونو تېل وړاندې کړي. ۶ د نوې مياشتې په اختر کې به هغه يو خوسی، شپږ ورې او يو پسه چې په ټولو کې کوم عيب نه وي، وړاندې کړي.
۷ د هر غويي او هر پسه سره به لس کيلوګرامه غلې دانې او د هر ورې سره به دومره نذرانه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشر يې ورکولی شي، وړاندې کړي. د غلو دانو د نذرانو د هرې لس کیلوګرامه نذرانې دپاره به
څلور څلور لیتره د زیتونو تېل وړاندې کړي. ۸ مشر باید د دروازې د دهلېز د لارې ننوځي او
په همدې لاره باید ووځي.

۹ کله چې خلک په کوم اختر کې د څښتن د عبادت دپاره راځي، نو څوک چې په شمالي
دروازه باندې راننوځي، د عبادت کولو نه وروسته به په جنوبي دروازه باندې وځي او څوک چې په
جنوبي دروازه راننوځي، په شمالي دروازه به وځي. په کومه لاره چې څوک ننوتلی وي، په هماغه
لاره به نه وځي، بلکې په مخامخ لاره به وځي. ۱۰ کله چې خلک راننوځي، نو مشر به راننوځي
او کله چې هغوی لاړ شي، نو مشر به هم ځي. ۱۱ په اخترونو او مذهبي جشنونو کې به د هر
خوسي او د هر پسه سره لس کیلوګرامه د غلو دانو نذرانه وړاندې کیږي او د هر وري سره چې
عبادت کوونکی څومره غواړي، نو هغومره نذرانه به وړاندې کوي. د غلو دانو د نذرانو د هرې لس
کیلوګرامه نذرانې دپاره به څلور څلور لیتره د زیتونو تېل وړاندې کړي.

۱۲ کله چې مشر وغواړي چې څښتن ته د خپلې خوښې نذرانه وړاندې کړي، که هغه
سوځېدونکې نذرانه وي یا د سلامتۍ نذرانه وي، نو د هغه دپاره دې د دننني حویلۍ ختیځه دروازه
خلاصه شي. بیا به هغه وکولای شي خپلې نذرانې وړاندې کړي، لکه څنګه چې یې د سبت په ورځ
وړاندې کوي او کله چې هغه وځي، نو دروازه دې بیرته وتړل شي.»

## ورځنۍ نذرانه

۱۳ څښتن وایي: «هر سهار باید یو وری چې یو کلن وي او کوم عیب په کې نه وي، د
سوځېدونکې نذرانې په توګه دې څښتن ته وړاندې شي. ۱۴ همدارنګه هره ورځ سهار دې د دوه
کیلوګرامه اوړو نذرانه چې یو لیتر د زیتونو تېل ورسره ګډ وي، وړاندې شي. څښتن ته د دې نذرانې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې کولو قوانین به تلپاتې قوانین وي. ۱۵ ورى، اوړه او د زیتونو تېل باید د تل دپاره هره
ورځ سهار څښتن ته د سوځېدونکې نذرانې په توګه وړاندې شي.»

## د مشر ځمکه

۱۶ څښتن تعالی داسې وايي: «که چېرې مشر د خپلې ځمکې نه يو څه ځمکه په خپلو زامنو کې
يو زوى ته د سوغات په توګه ورکړي، نو دا ځمکه به د هغه د کورنۍ په جايداد کې د همدې زوى
برخه وي. ۱۷ خو که چېرې مشر د خپلې ځمکې نه څه ځمکه د خپلو خدمتګارانو څخه کوم يو
ته ورکړي، نو دا ځمکه به د ازادۍ د ورکولو تر کاله پورې د هغه سره وي او بيا به دا ځمکه بېرته
مشر ته ورکول کيږي. يوازې هغه او د هغه زامن کولاى شي چې د هغې ځمکې تلپاتې خاوندان
اوسي. ۱۸ مشر بايد د خلکو نه د هغوى جايداد په زور وانخلي. هغه چې خپلو زامنو ته کومه
ځمکه ورکوي، نو بايد د خپلې ځمکې نه يې ورکړي، ترڅو زما د قوم څخه هيڅوک هم د خپلې
ځمکې څخه ونه ويستل شي.»

## د څښتن د کور پخلنځايونه

۱۹ بيا هغه سړي زه د ننوتلو د لارې نه چې د شمالي دروازې په څنګ کې وه، د کاهنانو هغو
سپېڅلو کوټو ته چې شمال خواته مخامخ وې، بوتلم. هلته يې ماته د دې کوټو د لوېديځې برخې په
پاى کې يو ځاى وښود ۲۰ او هغه ماته وويل: «دا هغه ځاى دى چې کاهنان دې په کې د تاوان او
د ګناه د نذرانو غوښه وايشوي او د اوړو نذرانې دې پخې کړي، ترڅو هېڅ کوم سپېڅلى شى باندينى
حوېلۍ ته يونه وړل شي چې خلکو ته زيان ورسوي.»

۲۱-۲۲ بيا هغه زه باندينى حوېلۍ ته بوتلم او د حوېلۍ په څلورو کنجونو يې وګرځولم چې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر کنج کې يې يو څلور دېوالي ځای ؤ چې هر يو يې شل متره اوږدوالی او پنځلس متره سور
درلود. ۲۳ دننه د هر يو ګردچاپېره د تیږو دېوال ؤ، د دې دېوال څنګ ته نغري جوړ شوي وو.
۲۴ هغه سړي ماته وويل: «دا هغه پخلنځايونه دي چې د څښتن د کور خدمتګاران دې په کې د
قربانيو غوښې چې خلک يې راوړي، وايشوي.»

## هغه ویاله چې د څښتن د کور نه رابهيږي

۴۷ ۱ بيا هغه سړي زه د څښتن د کور دروازې ته بوتلم. ما وليدل چې د دروازې لاندې اوبه
راروانې وې او ختيځې خواته د څښتن د کور مخې ته بهېدلې، ځکه چې د کور ختيځ خواته ؤ. هغه
د څښتن د کور د جنوبي برخې نه لاندې تېرېدلې او د قربانۍ د ځای جنوب خواته بهېدلې. ۲ بيا
هغه سړي د شمالي دروازې په لاره د څښتن د کور د ساحې نه دباندې راوويستلم او هغې باندينۍ
دروازې ته يې بوتلم چې ختيځ خواته مخامخ وه. د دروازې جنوب خواته يوه کوچنۍ وياله بهېدله.
۳ هغه د اندازه کولو په لرګي باندې پنځه سوه متره ختيځې خواته کوزه وياله اندازه کړه او ما
سره يې مرسته وکړه چې د ويالې نه تېر شم. اوبه زما د پښو تر بنده پورې رسېدلې. ۴ بيا هغه
نور پنځه سوه متره اندازه کړه او زما سره يې مرسته وکړه چې د اوبو نه تېر شم، هلته اوبه زما تر
زنګونو پورې رسېدلې. د هغه ځای نه پنځه سوه متره لېرې اوبه زما تر ملا پورې رسېدلې. ۵
هغه نور پنځه سوه متره اندازه واخيستله او په هغه ځای کې سيند ډېر ژور ؤ چې ورڅخه پورې
وتلی نه شوم. دا سيند دومره ژور ؤ چې هېڅوک پرته د لامبو نه ورڅخه پورې وتلی نه شو. ۶
هغه ماته وويل: «ای فاني انسانه، دې هرڅه ته په غور سره وګوره.»

بيا زه هغه سړي بېرته د سيند غاړې ته بوتلم ۷ او کله چې هلته ورسېدم، ما وليدل چې د سيند
دواړو غاړو ته ډېرې زياتې ونې وې. ۸ هغه ماته وويل: «دا اوبه ختيځې سيمې او لاندې مړې
بحيرې ته بهيږي. کله چې دا اوبه مړې بحيرې ته ورو بهيږي، نو د مړې بحيرې مالګينې اوبه په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوږو اوبو باندې بدلیږي. ۹ هر چېرته چې دا سیند جاري شي، نو هلته به ډول ډول حیوانات او
ډېر زیات ماهیان وي. دا سیند د مړې بحیرې اوبه خوږې کوي او چېرته چې هغه بهیږي، نو هرڅه
به هلته ژوندي وي. ۱۰ د عین‌جدي نه تر عین‌عجلایم پورې به ماهیګیران د مړې بحیرې په غاړه
ولاړ وي او په هغه ځای کې به خپل جالونه وغوړوي چې وچ شي. هلته به د مدیترانې د بحیرې په
شان ډول ډول ماهیان وي. ۱۱ خو جبه‌زاره ډنډونه به پاک نه شي، هغه به د مالګې دپاره پاتې
شي. ۱۲ د سیند په دواړو غاړو باندې به هر ډول ونې راشنې کیږي چې مېوه ونیسي. د هغو پاڼې
به هېڅکله نه مړاوې کیږي او تل به مېوه نیسي. هغه به هره میاشت مېوه نیسي، ځکه چې هغه ته د
داسې سیند اوبه ورکول کیږي چې د عبادت د ځای نه راځي. د هغو د مېوو نه به د خوراک دپاره
ګټه اخیستل کیږي او د پاڼو نه به یې د خلکو د علاج دپاره کار اخیستل کیږي.»

## د اسراییلو سرحدونه

۱۳ څښتن تعالی داسې ووېل: «دا د هېواد سرحدونه دي چې د اسراییلو په دولس قبیلو باندې به
د ملکیت په توګه وېشل کیږي. د یوسف قبیلې ته به دوه برخې ورکړل شي. ۱۴ ما ستاسو د
نیکونو سره قسم خوړلی ؤ چې زه به دا هېواد هغوی ته ورکړم، اوس تاسو هغه د خپل ملکیت په
توګه په خپل منځ کې سره برابر ووېشئ.

۱۵ شمالي سرحد به ختیځې خواته د مدیترانې د بحیرې نه پیل شي او د حتلون تر ښاره، د
حمات تر غاښې، د صدد تر ښاره، ۱۶ بیروته او سبرایم تر ښارونو چې دا ښارونه د دمشق د
پاچاهۍ او حمات د پاچاهۍ ترمنځ پراته دي او د حاضیرحاتکان تر ښاره پورې چې د حوران د
سیمې په سرحد باندې پروت دی، ورسیږي. ۱۷ نو شمالي سرحد به د مدیترانې د بحیرې نه
ختیځې خواته د حصرعینان تر ښاره چې د دمشق په شمال او د حمات په جنوب کې دی،
ورسیږي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٨ «ختيځ سرحد به جنوب خواته د حورون او دمشق د دواړو پاچاهيو ترمنځ سرحد نه پيل شي، د اردن د سيند نه چې په لوېديځ کې د اسراييلو د هېواد او په ختيځ کې د جلعاد د سيمې ترمنځ سرحد جوړوي او د تامار تر ښارګوټي پورې چې په مړې بحيرې باندې پروت دی، ورسيږي.

١٩ جنوبي سرحد به د تامار نه لوېديځ خواته د مريبوت‌قادش تر اوبو پورې او د هغه ځای نه شمال لوېديځ خواته د مصر تر خوړه پورې او د مديترانې تر بحيرې پورې ورسيږي.

٢٠ لوېديځ سرحد به يې د مديترانې بحيره وي، شمال خواته به هغه ځای ته ورسيږي چې د حمات غاښي ته مخامخ دی.»

## د اسراييلو د قبيلو ترمنځ د ځمکې وېش

٢١ «دا ځمکه د خپلو قبيلو ترمنځ ووېشئ، ٢٢ دا به ستاسو تلپاتې ملکيت وي. کله چې دا ځمکه وېشئ، نو کوم پردي خلک چې ستاسو په منځ کې اوسيږي او دلته يې اولادونه پيدا شوي وي، نو هغوی ته به هم په دې ځمکه کې برخه ورکول کيږي. هغوی بايد د اصلي اسراييليانو په شان وګڼل شي او ملکيت بايد هغوی ته د اسراييلو د قبيلو په شان ورکړل شي. ٢٣ پردي اوسېدونکي چې د کومې قبيلې سره اوسيږي، هغوی به هلته خپله برخه اخلي.» ما څښتن تعالی داسې ويلي دي.

## د اسراييلو د قبيلو ترمنځ د ځمکې وېش

١-٧ «د هېواد شمالي سرحد ختيځ خواته د مديترانې د بحيرې نه د حتلون، د حمات تر غاښي، د حصرعينان تر ښارګوټي او د دمشق او حمات د پاچاهيو ترمنځ تر سرحده پورې رسيږي. هره قبيله به د ځمکې يوه يوه برخه چې د ختيځ سرحد نه پيليږي او لوېديځ خواته د مديترانې تر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بحيري پورې غزېدلې ده، واخلې چې د شمال نه تر جنوبه پورې به په لاندې ډول وي:

دان

اشير

نفتالي

منسي

افرايم

روبين

يهودا

## د هېواد په منځ کې ځانګړې برخه

۸ د يهودا د برخې په جنوب کې دې د ځمکې يوه بله برخه وي چې د يو ځانګړي مقصد دپاره بېله کړای شي. هغه دې د شمال نه د جنوب خواته دولس نيم کيلومتره سور ولري او اوږدوالی به يې د ختيځ نه لوېديځ خواته د قبيلو د برخو سره برابره وي. عبادتځای به د دې ساحې په دننه کې وي.

۹ د دې برخې په منځنۍ ځمکه کې به ښبنتن ته يوه وقف شوې ځانګړې ساحه وي چې هغه به
دولس نيم کيلومتره اوږدوالی او لس کيلومتره سور ولري. ۱۰ کاهنانو ته به په دې سپېڅلې ساحه
کې برخه ورکول کيږي. د ختيځ نه لوېديځ خواته به د هغوی برخه دولس نيم کيلومتره او د شمال نه
تر جنوب پورې پنځه کيلومتره وي. د ښبنتن عبادتځای به د دې ساحې په دننه کې وي. ۱۱ دا
سپېڅلې ساحه به د هغو کاهنانو وي چې د صادوق اولاده ده. هغوی په وفادارۍ سره زما خدمت
کړی ؤ او هغوی د نورو اسراييليانو سره په غلطو کارونو کې ملګري نه شول، لکه څنګه چې د
لاويانو قبيلې وکړل. ۱۲ نو هغوی ته به د لاويانو د ساحې په څنګ کې يوه ځانګړې ساحه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکول کېږي او هغه به د ټولو نه زياته سپېڅلې ساحه وي. ۱۳ لاويان به هم يوه ځانګړې ساحه ولري چې د کاهنانو د ساحې په څنګ کې به وي. دا به هم د ختيځ نه لوېديځ خواته دولس نيم کيلومتره اوږدوالى او د شمال نه تر جنوب پورې به پنځه کيلومتره سور ولري. ۱۴ کومه ساحه چې څښتن ته وقف کېږي، هغه د ټولو ځمکو نه ډېره ښه ځمکه ده او د دې ځمکې نه به يوه ټوټه هم نه خرڅيږي، نه به بدليږي او نه به کوم بل چاته لېږدول کېږي. ځکه چې دا ځمکه سپېڅلې ده او د څښتن ده.

۱۵ د ځانګړې ساحې کومه برخه چې پاتې ده، هغه دولس نيم کيلومتره اوږدوالى او دوه نيم کيلومتره سور لري. هغه سپېڅلې نه ده، خو هغه به د عامو خلکو د اړتيا دپاره يعنې د ښار، کورونو او د خالي ځمکو دپاره وي. ښار بايد په هغې ساحه کې وي، ۱۶ دا ساحه به د مربع په شکل وي او هره څنډه به يې دوه زره او دوه سوه پنځوس متره وي. ۱۷ د ښار ګردچاپېره هرې خواته به يوسلو پنځه ويشت متره خالي ځمکه وي. ۱۸ نوره ځمکه به په دوو برخو کې د ختيځ او لوېديځ خواته پنځه کيلومتره اوږدوالى او دوه نيم کيلومتره سور ولري. دا ځمکه به د ښار د کارکوونکو دپاره خواړه برابروي. ۱۹ هغه کارکوونکي چې په ښار کې اوسيږي، هغه که د هرې قبيلې څخه وي، کولاى شي چې دا ځمکه وکري. ۲۰ نو د ځمکې ټوله جلا شوې برخه چې په هغې کې سپېڅلې ساحه او ښار شامل دي، هره څنډه به يې دولس نيم کيلومتره مربع وي.

۲۱-۲۲ په سپېڅلې ساحه کې به د څښتن کور، د کاهنانو ځمکه، د لاويانو ځمکه او ښار شامل وي. د سپېڅلې ساحې ختيځ او لوېديځ خواته ځمکه به د مشر وي. هغه ختيځې خواته د ختيځ سرحد او لوېديځ خواته د مديترانې تر بحيرې پورې غزېدلې ده او په شمال کې د يهودا د ځمکې او په جنوب کې د بنيامين د ځمکې سره سرحد لري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د نورو قبیلو دپاره ځمکه

۲۳-۲۷ د دې ځانګړې برخې په جنوب کې به پاتې شوې هرې قبیلې ته د ځمکې یوه یوه برخه ورکول کیږي چې هغه د ختیځ سرحد نه د لوېدیځ خواته د مدیترانې تر بحیرې پورې رسیږي، هغه به د شمال نه تر جنوب پورې په دې ډول سره وي:

بنیامین

شمعون

یساکار

زبولون

جاد

۲۸ د جاد د برخې جنوبي سرحد به د تامار نه د لوېدیځ خواته د مریبوت‌قادش تر چینو پورې او د هغه ځای نه شمال لوېدیځ خواته د مصر د خوړ په اوږدو کې د مدیترانې تر بحیرې پورې ورسیږي.»

۲۹ څښتن تعالی داسې وایي: «په دې ډول به دا ځمکه د اسراییلو په قبیلو باندې د ملکیت په ډول په برخو وېشل کیږي.»

## د ښار دروازې

۳۰-۳۴ «ښار به دولس دروازې ولري. د څلور واړو دېوالونو د هر دېوال اوږدوالی به دوه زره او دوه سوه او پنځوس متره وي او په هر دېوال کې به درې دروازې وي، هره دروازه به د یوې قبیلې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په نوم یادیږي. د شمالي دېوال دروازې به د روبین، یهودا او لاوي په نومونو، د ختیځ دېوال دروازې
به د یوسف، بنیامین او دان په نومونو، په جنوب کې چې کومې دروازې دي، هغه به د شمعون،
یساکار او زبولون په نومونو او هغه دروازې چې په لوېدیځ دېوال کې دي، هغه به د جاد، اشیر او
نفتالي په نومونو یادیږي. ۳۵ د ښار د څلورو خواو اوږدوالی به نهه کیلومتره وي. د ښار نوم به د
دې ورځې نه ورسته دا وي: «څښتن دلته دی!»»

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.